# فیسبوک

ناول




عبدالجمیل ممتاز

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فیسبوک

(ناول)

لیکوال: عبدالجمیل ممتاز

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د کتاب ځانګړنې:

**د کتاب نوم:** فیسبوک

**لیکوال:** عبدالجمیل ممتاز

aj_mumtaz@yahoo.com

aj.mumtaz32@gmail.com

**خپرندوی:** مومند خپرندویه ټولنه – جلال اباد

**برېښنالیک:** Momand.books@gmail.com

**ډیزاین چارې:** اېملیار ساجد

**چاپ کال:** ۱۳۹٤ – ۲۰۱۵م

**د چاپ نوبت:** لومړی

**د چاپ شمېر:** ۱۰۰۰ ټوکه

**چاپځای:** د مومند خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه

### پته

**ننګرهار:** عبدالمجید مومند کتاب پلونځی – مخابراتو څلورلارې.

اړیکې: ۰۷۰۰٦۲٦۱٦۱ – ۰۷۷۷٦۲٦۱٦۱ – ۰۷۸۱٦۲٦۱٦۱

**کابل:** اصلاح و افکار کتابپلورنځی، خیبر کتابپلورنځی، دارالسلام کتابپلورنځی، مستقبل کتابپلورنځی

**پکتیکا:** علمي کتابپلورنځی

**کندهار:** امیر کروړ کتابپلورنځی، افغان کتابپلورنځی

**خوست:** غرغښت کتابپلورنځی، رحیمي کتابپلورنځی، ملر کتابپلورنځی، سباوون کتابپلورنځی

**هلمند:** سیدجماالدین کتابپلورنځی، عرفان کتابپلورنځی، تاج منور کتابپلورنځی

**پکتیا:** علمي کتابپلورنځی

**غزني:** قیومي کتابپلورنځی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

هغه چا ته

چې له خپلې ژبې سره مینه لري!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريمه ورځ مې په کراره پرې نښوده، په انګليسي تورو مې ورته وليکل:

- salam.

تر ډېره مې په ليکخونه کې سترګې پاتې وې، خو لکه پخوا، هېڅ ځواب يې رانکړ، ژبه مې واړوله، ومې ليکل:

- ولې ځواب نه راکوې؟ دومره غرور!

خو چاته وايې! په تشه توره ليکخونه (چټ روم) کې ځانته لګيا وم، پيغامونه مې بيخي ډېر ورکړل. نور له ځانه وشرمېدم، له فېسبوک نه ووتم.

غرمې نه وروسته مې بيا سر ورښکاره کړ، کتل مې چې ځواب يې راغلی و:

- سلام محترمه، زه به چا- چا ته ځواب ورکوم.

لږ مې تمه پيدا شوه، ورته ومې ليکل:

- بيا نو فېسبوک ته مه راځه!

ځواب يې رانکړ، ور زياته مې کړه:

- همدومره وه؟

پيغام يې راغی:

- څه؟

- هېڅ، ما ويل نه غواړې راسره چټ وکړې؟

- چټ مې نه خوښيږي، هسې سرخوږی دی.

پوه شوم چې د چټ کولو لېواله ده، ورته ومې ليکل:

- زما هم نه خوښيږي، خو کله کله يو- يو دوست ښه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب یې رانغی، ورزیاته مې کړه:

- بیا هم ستا خوښه.

راته ویې لیکل:

- تاسو د کوم ځای یاست، چېرته اوسیږئ؟
- د کوم ځای باید اوسم؟
- ودې لیدل، هېڅ، وبخښئ، بس ده نور.

پوه شوم چې په غوصه شوه، ونه ځنډېدم، ځواب مې ورکړ:

- د افغانستان یم.

ښایسته ځنډ ووت، پیغام یې رانکړ، ما ګوتې ور وړاندې کړې:

- ډېره مغروره یې؟

د لیکلو نخښه یې راښکاره شوه، ګوتې مې د لیکدړې پر سر چت کړې، وروسته یې پیغام راورسېد:

- مغروره نه یم، ومې ویل د چټ حوصله نلرم، زیاتره بدې خبرې کوي، چې زما دا کار نه خوښیږي، همغه پر عمومي پاڼه ملګرتیا بس ده.
- سمه ده، بخښنه غواړم نو.

هغې نور هېڅ ونه ویل، ما هم بل پیغام ورکولو ته زړه ښه نه کړ.

د فیسبوک عمومي پاڼې ته شوم، څو ځله مې ښکته او پورته بوتله، پاڼه مې تازه جوړه کړې وه، د ګوتو په شمېر څو ملګري راسره ول، یوازې یو څو تکراري لیکنې او عکسونه مې لیدل.

بیا د هغې پاڼې ته ورغلم، انځور یې د زړه ستنې را کاواکه کړې وې، ما ویل چې ورته کتلی مې بس. په فوټوشاپ نه و جوړ شوی، بیخي په عادي حالت کې و. تور لنډ ټیکري کې یې د سپین مخ کاسه بده نه ښکارېده، ویښتان یې ټول شاته ټومبلي ول، ښه سنګینه راته ښکاره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته مې فیسبوک بند کړ، د مېز پر سر پرتو کاغذونو پسې مې قلم راووېست، کارونه راډېر شول، ان تر مازیګره پورې ایله په هغو پسې ورسېدم.
د قبلې خواته مې مخ واړاوه، ساعت همغه لورې ته پر دېوال ځوړند و، شل کم خلور بجې وې، مامورین کرار- کرار په وتو شول، نور نو ما ته هم د ناستې پلمه نه وه پاتې، پاڅېدم روان شوم.

*****

نن هغه تر ما مخکې په فیسبوک کې وه، شنه نښانه یې د نوم په څنګ کې ښکارېدله. لیکخونې ته لاړم، پام مې نه و، پر لیکدړه باندې مې ګوتې خښې کړلې.
وروسته مې کتل، چې د سلام پر ځای ګډوډ انګلیسي توري (sghl) راښکاره شول.
ژر مې ژبه واړوله، بیا مې ورته ولیکل:
- سلام
لږ ځنډ په تمه شوم، وروسته یې ځواب راغی:
- علیکم سلام، سهار پخیر.
زړه مې ولګېد، په ځواب کې مې ورته ولیکل:
- سهار پخیر، څنګه یې؟
- ښه یمه، مننه، ربښتیا ستاسو حامد کرزی ډېر عصباني نه دی؟
- څنګه عصباني؟
- امنیتي تړون نه لاسلیکوي کنه؟
- څه ووایم نو.
بې ځنډه یې وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ولې، ته سياسي نه يې لکه چې؟
- سياست مې نه خوښيږي، فکر کوم تا هم هسې دا خبره وکړه، ګني سياسي نه راته ښکاريږې.
- عجيبه ده، زه سياسي يم!
- سياست خو انساني اړيکو ته صدمه رسوي. دوستۍ ته بيخي ډير.

ويې ليکل:

- که له هر څه ناخبره شې، بيا خو بده ده، آخر يو محصل يې.
- منم يې، خو لمړی بايد انسانان يو بل درک کړي! وروسته بيا نورې مسألې.
- څه ووايم نو، هر څه اوس په درک کې دي.

خندا راغله، پوه شوم، چې دليل اوري، غواړي بحث راسره وکړي.

ورته ومې ليکل:

- ما ويل، که سياست ته لاړ شو، بيا خو زه او ته دوستان نشو کيدی.
- دا نو په دوستۍ پورې څه اړه لري؟؟
- دا ده بيا دې پيل وکړ.

د هغې لخوا ځواب رانغی، ورته په تمه شوم، خو څرک يې ونه لګېد، پر ليکدړه مې ګوتې کېښودې:

- زه خو بس دا باور لرم، چې انسان، انسان دی که هغه د هر ځای وي، تر منځ يې يوازې انسانيت مهم دی.

د ليکلو نښانه يې را ښکاره شوه، پيغام يې راورسېد:

- هو، انسان تل د درناوي وړ دی، خو هم انسان او هم يې وطن، دواړه بايد سرلوړي وي، پوهيږې موږ ايراني ډېره سختي ګالو، خو د وطن له

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاست او جغرافیې نه لاس ناخلو، افغانستان هم یو مظلوم هېواد دی، خلک یې باید د تبعیض پر وړاندې ډېر ټینګ وي.

خبرې یې زما د زړه زنګ لېرې کړ، تر څو مې څه لیکل، چې بل پیغام یې راغی:

- ته هم ښه نظر لرې، زما همنظره یې، خوشحاله شوم.
- مننه.

ورزیاته مې کړه:

- که یو څه درته ووایم، خفه کیږې نه؟
- نه، ولې خفه شم.
- وګوره، زموږ افغانستان تل د پردیو ښکار شوی، کله د هغوی په دوستۍ او کله یې هم په دښمنۍ کې، له دې ډلې نه ستاسې ایران هم دی.
- نه، دا نه منم.

بیا یې ولیکل:

- هیڅکله یې نشم منلی.

په زړه کې مې را وګرځېدل، لکه چې په غوصه شوه، پر خپله کړې خبره پښېمانه شوم. غوښتل مې په یو ډول خپله خبره بېرته واخلم، چې بیا یې راته ولیکل:

- ایران خو تل د افغانستان ملاتړی دی، کله چې ستاسو هېواد ارام وي، زموږ د هېواد په ګټه دی، د تاریخ په لړ کې ایران له چا سره بد نه دي کړي، ویې منه.

زه یې له خفه کېدو ووېرېدم، ما ویل چې رانه خفه نه شي، ګڼې ډېر څه مې ورته لرل.

د هغې نظر مې تأیید کړ، خو ورسره مې خپل فکري حیثیت هم تیټ را نه ووست:

- سمه ده منم یې، خو کله کله یې خپل هېواد ته د خطر پېښېدو لپاره ځان غلی نه دی پرېښی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا خو طبيعي ده، ستاسو دولت هم شايد همداسې وکړي.
- هو نو.
- بيا نو ولې ايران خپل دښمن ګڼئ؟ دليل يې؟

غلی شوم، بل پيغام يې راغی:

- ولې، درويشه؟

مجبور يې کړم، ورته ومې ليکل:

- دا اوس خو يې منې، چې امريکا سره د دښمنۍ په خاطر، افغانستان نارامه کوي.
- دا په کوم دليل؟
- وګوره، پخوا د طالبانو سرسختې دښمن ايران و، خو اوس ورسره همکاري کوي. ولې؟
- خو تاسو بايد دا نه واى منلي چې ناټو افغانستان ته درشي، تر اوسه يې څه مرسته درسره کړې؟ پرته له دې چې ټوله شتمني يې درڅخه يووړله.

په مغزو کې مې کرنګ شو، په چورت کې يې بوتلم، کاته مې چې بيا يې د پيغام زنګ وټنګېد:

- درويشه!

ژر مې پر ليکدړه ګوتې ورکېښودې:

- افغانانو هېڅ وخت ناټو يا نور نه دي راغوښتي، نه يې هم زغملی شي، دا هر څه په زور او فريب وربانديې تپل کيږي، ځکه خو ارامه ورځ نلري.

ځواب يې رانکړ، تم شوم ورته، خو بيا هم غلې پاتې وه، ورته ومې ليکل:

- وبخښه، لکه چې سر مې دروخوړاوه!

دستې يې پيغام راغی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه، هیله کوم.

زیاته یې کړه:

- هر څه به سم شي، تاسو به ارام ژوند وکړئ ان شأ الله.
- هو، ان شأ الله، خدای مهربان دی.

څنډ ووت، خو ډېر نه، وروسته یې د لیکلو نښانه را ښکاره شوه. پیغام یې راغی:

- یو څه وپوښتم؟
- هو، مهرباني.
- غوښتل مې پوهه شم، ایران خپل دښمن ګڼې که دوست؟

ورته ومې خندل، سمدستي یې راته ولیکل:

- ووایه نو!
- آیا ګاونډی هم دښمن وي؟
- ولې نه وي، لکه عرب چې ایران سره دي.

دا خبره یې لږ په لهجوي ډول لیکلې وه، لمړی سم ورباندې ونه پوهېدم، تر څو مې فکر ورباندې کاوه، بل پیغام یې راکړ:

- راته ودې نه ویل، هله ژر شه نو، څمه کار لرم.
- خو درته ومې ویل.
- نه، سم راته ووایه، دوست که دښمن؟

عجیب انسان سره ګیر راغلم، ایران مې تر دا اوسه هم نه خوښیږي، خو هغې ته مې نشوی ویلی، ښنګه مې کړې وای، له ناچارۍ مې ورته ولیکل:

- د ورونو تر منځ خواږه او تراخه راځي، دا نو نه شوه چې دښمنان شول، همدا اوس په ایران کې میلیونونه افغانان اوسیږي.

خو دغسې یې نه منله، دا ځل یې په جدي توګه پوښتنه وکړه:

- بلاخره افغانان ایران ته دوست وایي که دښمن؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې مې پټې کړې ورته ومې ليکل:

- دوست.
- مننه، پوهېدم چې دوست يې ګڼې.

زما د خولې خوند يې را بد کړ؛ ايرانۍ نه وه، سم غم وه. ناچاره وم، ډېره مې خوښېدله، د دوست کلمه مې د هغې لپاره وويله، ګڼې خدای که مې په عمر دغسې ويلې وای.

هغه په ليکلو بوخته وه، وروسته يې پيغام راښکاره شو:

- هو، ايران او افغانستان ورونه هېوادونه دي، ډېر افغانان زموږ په هېواد کې اوسيږي او مالي وضعيت يې هم تر ايرانيانو ښه دی، خواريکښ خلک دي. خو ايرانيان تنبلان دي ډېر.

ومې خندل، ما د خپلو افغانانو غيبت ورته پيل کړ:

- نه نو، که افغانان تنبلان نه وای، اوس به يې هېواد په دا حال نه و.

ويې ليکل:

- دغسې نه ده، پوهيږې! زه همدا اوس نشم کولی، يو کور ځانته واخلم، خو يو افغانی يې په اسانه کولی شي، پيسې ډېرې لري او دا يې د زحمت پايله ده.

د ځان سره مې وويل، کاشکې همداسې وای.

ورته ومې ليکل:

- خو د وطن په هکله يې اراده کمزورې ده.
- فقط همدا يې بدې ده، پر خپل وطن باندې زړه نه سوځوي، فکر کوي چې يوازې د کار کولو او ګټلو لپاره پيدا دي بس.
- هو، فقط د خپلو ګټو لپاره.
- ودې ليدل، چې نظريات مو يو شان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زياته يې کړه:

- ايرانيان وايي: لمړی هېواد بيا موږ، خو افغانان بيا وايي: لمړی زما ښځه او بچيان، بيا هېواد.

ورته ومې خندل:

- ههههه، هو والله، رښتيا وايې.
- خوشحاله يم، چې نظريات مو سره يو دي.
- زه هم.

وځنډېدله، خو ډېره نه، وروسته يې راته وليکل:

- نن همدومره بس ده، که نور څه نه لرې، زه به خپل کار پسې لاړه شم.
- سمه ده، خوشحاله شوم.
- ستړې مې کړې، وبخښه!
- هيله کوم.
- پر ځان پام کوه، د الله پامان.
- د الله پامان.

د ميز شا مې پرېښوده، بهر ووتم. لمر تېز لګېد، بېرته سيوري ته شوم، لږ شيبه لا ولاړ وم، چې غږ راباندې وشو:

- هلکه څه چورت وهې؟

ښې خوا ته مې مخ واړاوه، شبير خپل هډور لاس راته نيولی و، لاس مې ور وړاندې کړ، ډېر سخت يې ټينګ کېکاږه، راته ويې خوږاوه، وروسته يې په خندا کې شونډې وښورېدې:

- ژوبل شوې؟

له غيرته مې نه ورته وويل، لاس يې راخوشې کړ، خندا يې لا نه وه تمامه، ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- یاره، هغه مجلې دې هم رانکړې، ډېر ناځوانه يې.

ورته ومې ويل:

- ستاسې لوژستيک نه چا خير کړی؟

سترګې يې په ګريوان کې ولوېدې، خو ژر يې بېرته راپورته کړې:

- ته اوس ګيلې پرېږده، مجلې راکوې کنه؟
- هو، راځه همدا اوس يې درکړم.

خوله يې وازه پاتې شوه، داسې ښکارېده چې ټوکې يې کولې، خو ما ورباندې رښتيا کړه.

بيا مې غږ پرې وکړ:

- راځه کنه!
- همدا اوس؟
- هو نو، څه وخت؟

ويې خندل:

- دغه ته وايي د مجلې مدير، درځه.

*****

اشپزه مو راضيه نومېده، خو مور په خاله پېژندله، نن يې مکروني او لوبيا تيار کړې ول، چکه هم ورباندې ښکارېدله، تازه شنه مرچ په جلا قاب کې پراته ول، مرچ مې ډېر خوښيږي، ډوډۍ مې له مرچو پرته نه تيريږي.

دسترخوان ته کښېناستم، ورته ولګېدم، په شېبه کې مې ډک قاب وکړنګاوه، وروسته د لمانځه په نيت پاځېدم، تر څو بېرته راتلم، يوې بجې نه څو دقيقې اوښتې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمپیوټر ته وروګرځېدم، فېسبوک مې خلاص کړ، د هغې انځور ته مې وکتل، شین څراغ یې ګول و، د موس(موږک) څرخکی مې ډېر ښکته پورته کړ. خو له هغې پرته فېسبوک خوند رانکړ، بېرته راووتم.
تر مازیګره مې درې ځله سر ورښکاره کړ، د هغې څراغ همغسې ګول و، رخصتي شوه، کور ته لاړم.

*****

اته بجې وې، د شعبې ور پرانستی و، تر ما مخکې زما همکاران راغلي ول، د اختر مبارکۍ کېدلې، له یوې مخې مې یو یو غېږې ته راجوختاوه، کېناستلو، کیک او کلچې هلکانو راوړې وې، خاله تولو ته د شنه چای ډکې پیالې کېښودې.
مجلس تود شو، خو ما قصداً ځان پکې پردی محسوساوه، خپلې څوکۍ ته ورپاڅېدم، فېسبوک مې ډېر یادېد، پوره پنځه ورځې وتلې وې، سخت یې تږی وم. نګین لا نه وه راغلې، بېرته مې بند کړ، د مېز پر سر ګڼ کاغذونه پراته ول، پر هغو مې ځان بوخت وساته.
نهه نیمې بجې شوې، بیا ورتاو شوم، اوس د هغې عکس سره شنه نښانه ښکارېدله، زړه مې ولګېد، لکه د سترګې په شان مې غټه ساه واخیسته، پر لیکدړه (کیبورډ) مې ګوتې ور برابرې کړې:
- سلام، سهار پخیر.
لږ شیبه پس یې ځواب راغی:
- سلام، ښه راغلې.
- مننه.
ورزیاته مې کړه:
- غیرحاضري مې اورېده نه وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- یعنې څه؟

حیران شوم، چې اوس څه ورته ووایم؟ ما نه غوښتل د اختر ورته ووایم، خو پرې یې نښودم.

بیا یې پوښتنه وکړه:

- پوهه نشوم، څه دې ویل؟

هېڅ پلمه نه وه، ورته ومې لیکل:

- د اختر ورځې وې، فېسبوک ته رانغلم.
- ښه، لوی اختر یادوې.
- هو.
- ښه نو اختر دې مبارک، ما خو په خپله پاڼه کې مبارکي ویلې وه.
- مننه.

د ځان سره خجالت شوم، ما مخکې داسې فکر کاوه چې دوی به اختر نلري. پرته د نوي کال له سیزده بدر([1]) څخه، ځکه مې ځان غلی نیولی و.

د هغې له خوا پیغام رانغی، ما ورته ولیکل:

- تاسو هم په همدې نېټه اختر لرئ؟
- ولې، دا لکه چې د ټولو مسلمانانو اختر نه و؟ پوهېږې د جمعې ورځ هم د مسلمانانو اختر دی.
- هو اختر دی، خو ما بل فکر کاوه، وبخښه!
- هیله کوم.

د ځان سره مې له خجالته شونډې په موسکا بېلې شوې، ورته ومې لیکل:

- تا ته هم مبارکي وایم.
- مننه درویش جانه.

---

[1] سیزده بدر: د ایرانیانو اختر دی، چې د هر نوي کال دیارلس ورځې نمانځي او له کورنو بهر وځي میلې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضوع مې په بله واړوله:

- نګین! څو ورځې وشوې، ډېرې خبرې مو وکړې، خو یو بل مو سم نه دي پېژندلي، څنګه دې خوښه ده؟
- سمه ده، ولې نه.

زياته يې کړه:

- زه خو د کور ښځه يم.

ومې نه منله، ما ويل ټوکه کوي.

بيا يې وليکل:

- او يوه څلور کسيزه کورنۍ يوو. مېړه، زه، يو زوی او يوه لور مې.

ټوکه مې وګڼله، ما ويل تر اوسه کله کومې نجلۍ د ځان په اړه رښتيا ويلي، چې دا به يې ووايي، بابيزه مې وبلله، په ځواب کې مې ورته وليکل:

- ډېر ښه، خوشحاله ژوند ولرئ.
- مننه، ژوندی اوسې.

بلې پوښتنې ته مې زړه ښه کړ:

- کله دې افغانستان ليدلی؟
- نه.
- غواړې چې ويې وينې؟
- نه، ما تر اوسه خپل هېواد سم نه دی ليدلی، بل خو پرېږده.

ومې خندل، بيا مې وپوښتل:

- د ايران د کوم ښار يې؟
- د تهران.
- ډېر ښه، زه يو وخت ايران ته درغلی وم، ان څو کاله وړاندې.

ونه څندېده، ويې پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کوم ښار ته، هغه وخت ځو کلن وې؟
- رفسنجان ته، هغه مهال به د ۱۷ یا ۱۸ کالو وم.
- څه کار دې کاوه؟
- د پستو په شرکت کې وم.
- ډیرې پستې به دې خوړلې وي؟
- هو خامخا.
- افرین، ګټه به یې ښه وه که څنګه؟ ښار یې څنګه و؟

په صفتونو ورته سر شوم:

- ډېر ښایسته، ډېر زرغون. خو د خلکو په ژبه یې سم نه پوهېدم.

ویې خندل:

- ههههه، زه هم ستا په لهجه پوره نه پوهېږم، ډېره سخته ده.

زه غلی شوم، ما ویل اوس باید ایراني پارسي هم زده کړم نو.

د هغې بل پیغام راغی:

- ښه نو له ایرانه ښه خاطره لرې؟
- هو، ډاکټران خو یې بیخي ښه خلک دي.
- ډېره خوشحاله شوم، چې ایران دې خوښ دی، زموږ خلک ډېر خواخوږي دي.

ځواب مې ورنکړ، هغې زیاته کړه:

- درویش جانه، معلومېږي چې عاطفي انسان یې، خوشحاله یم.
- مننه، تاسو هم مهربانه یاست.
- درویشه! ته اوس ځو کلن یې؟

د دروازې غږ سره مې له کمپیوټر نه سترګې پورته کړې، رییس شعبې ته راننوت:

- راځه چې ځو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوصه هم راغله، خو څه مې نشوای کولی.
هغې ته مې همدومره ولیکل:

- زه بېرته راځم.

رییس هم عجب سړی و، سړی یې له مخکې نه پوهاوه، هر وخت یې همدغسې غږ کاوه .
ایله تر غرمې بېرته راخوشې شوو، یو سیمینار و، د غرمې ډوډۍ یې هم ورکوله، خو زه پاتې نه شوم، رییس ډېر راته وویل، خو ما سترګې بدې کړې، ترې راووتم.

*****

په پټه خوله شعبې ته ننوتم، خاله ته مې د ډوډۍ وویل، ډېر وږی شوی وم، فېسبوک ته مې هم ډېره بیړه وه، لمړی مې فېسبوک خلاص کړ، زړه مې ډېر درېبد، چې وي به کنه؟ رانه خفه شوې نه وي، خو هغه لا وه، د لیکخونې څراغ یې روښانه و.
ورته ومې لیکل:

- نګین، بخښنه غواړم، یو ضروري کار و.

شېبه وروسته یې ځواب راکړ:

- ډېر ناځاپي لاړې، چې خیریت وي؟
- یو کار راته پیدا شو.
- ښه، سمه ده.

د هغې عادي سلوک خوشحاله کړم، ستوماني مې هېره شوه، خو په عین حال کې خبرې هم رانه هېرې شوې، ښه اوس څه ورته ولیکم؟ خو زیات یې چورت وهلو ته پرې نښودم، ویې پوښتل:

- درویشه، د عمر دې ونه ویل، څو کلن یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ۲۷

هغه وځنډېده، زما فکر وتخنېد، ورته ومې ليکل:

- ستا په فکر، لکه چې دقيق نه و؟
- څه دقيق نه و؟
- هېڅ، هسې يوه خبره مې وکړه.
- ووايه نو؟

ومې ليکل:

- تا ځواب رانکړ، ما ويل چې زما په عمر به دې شک راغلی وي.
- درويشه، په خدای که اوس هم پوهېدلې يم، روښانه ووايه.

د خندا سره مې ورته وليکل:

- ههههه، ژر انديښمنه کيږې!
- مه مې ځوروه، که نه راته وايې، بيا هېڅ پوښتنه نه کوم.

حيران پاتې شوم، ما ويل اوس يې په څه ډول پوهه کړم، ورته ومې ليکل:

- يعنې تر اوسه هم لا نه يې پوهيدلې؟
- نه.
- ښه نو گوره، مخکې تا له مانه د عمر وپوښتل کنه؟
- هو.
- او ما هم درته وويل، چې ۲۷ کلن يم.
- هو.
- وروسته ستا ځواب ژر رانغی، ما فکر وکړ، چې گواکې باور دې ونشو، نو ځکه مې درته وليکل، چې دقيق نه و که څنگه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اوه، ماته سن مهم نه دی، حقیقت ښه دی، کولی شې د کمپیوټر له شا نه راته ووایې ۲۰ کلن، نو د چا یې څه، ډېری دروغ وایي، خو زه تل هڅه کوم رښتیا ووایم، د دروغو لپاره هېڅ دلیل نه وینم.
- نګین، زه هم د دروغو خاصیت نه لرم، همدا ستا خبره زما د زړه خبره ده.

ونه څنډیدم، ورزیاته مې کړه:

- ښه اوس ته ووایه، څو کلنه یې؟
- ۴۰

زړه مې کښېته وښوېېد، د هغې عکس ته مې وکتل، عکس یې ورباندې دغه شاهدي نه ویله، له رنګه ډېره ځوانه وه، ما ویل څه وایې به، اوس لا وختې دی، ورو ورو به هر څه رښتیا ووایې.

بل پیغام یې راغی:

- مېړه مې ۴۵ کلن دی.

شک مې باوري شو، د مېړه خبره یې پخپله راواخیسته، ما ویل هسې ما ځوروي، هېڅ باک مې ورباندې رانه ووړ. خو دا خبرې دومره ښې هم نه راباندې لګېدې.

هغې غږ راباندې وکړ:

- درویشه!

نور ونه څنډېدم، همدومره مې ورته ولیکل:

- ماشاالله، خوشحاله ژوند ولرئ.
- مننه، ډېرو ته مې د خپل وضعیت په اړه ویلي چې خاوند لرم، بچیان لرم، خو هغوی کنځا راته کړي او بیا مې لیدلي هم نه دي، ښه ته څنګه؟

ومې لیکل:

- پر نورو کار نلرم. خو زه هغسې نه یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سم ووایه، اړیکه شکوې؟
- نه.
- ښه ده، خو له خپله ځانه پرته ارزښت درکولی شم.
- فرق نه کوي، ما خو په دې اړه څه نه دي ویلي.

ایله چې ویې خندل:

- ههههههه، ښه دوست یې.

سمدستي یې بل پیغام راغی:

- ښه نو، درویشه! په ایراني هنرمندانو کې دې کوم یو خوښېږي؟

څه به مې ورته ویل؟ ما تر اوسه ایرانۍ سندرې ډېرې لږ اورېدلې وې، هغه هم یوازې د راډیو له لارې. د ځینو سندرغاړو نومونه مې زده ول، هغه مې ورته ولیکل:

- گوگوش، منصور او یو بل هم دی، نوم یې اوس رانه هېر شو.
- په ایران کې دننه، سندرغاړي اورې؟

ونه پوهېدم، ورته ومې لیکل:

- یعنې؟
- هغه چې په ایران کې دي، لکه عبدالمالکي، خواجه امیري، رضا یزداني، یراحي او .....

ما هم همدغه یو نوم ورته یاداوه، خو مخکې مې له یاده وتلی و، ورته ومې لیکل:

- هو هو، همدا عبدالمالکي. دلته په FM راډیو ګانو کې ایرانۍ سندرې ډېرې خپرېږي.
- بیا نو د تهران راډیو غږمنې فرمایشي سندرې واوره، ښې سندرې دي.
- سمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښايسته ځنډ ووت، د ليکدړې تنې په کراره شوې، نه هغې څه ليکل او نه هم زما د فکر ځولۍ کې څه رابرسېره کېدل.
خو ځنډ ډېر اوږد نشو، ترې ومې پوښتل:

- تل په کور کې يې، که دنده لرې؟
- اوس په کور کې يم، د ملا عمليات مې کړی، دا شلور مياشتې کيږي.
- اوه خدايه، شفا دې وي.
- مننه، خو رعايت يې نه لرم، سبا ته غواړم د کوټو پردې ووينځم.
- نه نو، تاوان درته کوي.
- نو څه وکړم، همداسې خو يې نشم پرېښوولی.
- بيا هم لږ احتياط ښه دی.
- سمه ده گرانه، هڅه کوم، مننه.

*****

نن تر ټولو مخکې دفتر راغلم، ور مې پرانست، نيمې شعبې ته لمر راالويدلی و، زما د مېز پر نيمايي برخه هم لمر پروت و، دوړې اوچته پرې ښکارېدلې، کړکۍ ته مې پام شو، بېگا وازه پاتې شوې وه.
مېز ته ورتاو شوم، کمپيوټر مې چالان کړ، ما اوس له فېسبوک پرته بله موضوع نه درلوده، سم له واره مې فېسبوک خلاص کړ.
لمړۍ مې د نگين لنډه ليکنه سترگو ته شوه، له نيتې يې برېښېده چې د شپې يې خپره کړې وه، ليکلي يې ول: (چانس فقط يو ځل د چا وره ته راځي، ټکوي يې. خو بدچانسي، هم پر زنگ باندې گوته ټينگوي او هم د وره کيلي ورسره وي).
ليکنې يې خوند راکړ، خوښه مې کړه، لاندې مې ورته وليکل: (چانس بايد وپالو، چې بدچانسي رانشي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ ځنډ مې نور هم ځان پکې بوخت وساته، خو هغه رانغله.

ماسپښين و، هغه راښکاره شوه، خوشحاله شوم. سمدلاسه مې ورته وليکل:

- سلام ماسپښين پخير.

ځواب يې راغی:

- سلام، د کمپيوټر کيبورډ مې خراب شوی و، چټ مې نشوی کولی.

- لوبې به دې ورسره کړې وي.

لږ وځنډېده، وروسته يې راته وليکل:

- پوهه نشوم.

خبره مې واړوله:

- ناروغي دې ښه ده اوس؟

- مننه، ښه ده.

- څه شکر چې ښه ده، کورنۍ دې څنګه ده؟

- ټول ښه دي، مننه.

نن مې داسې احساسوله، لکه چې په زور يې راغږوم، ورته ومې ليکل:

- فکر کوم، نن ستړې يې؟

- نه، تازه کمپيوټر ته کښيناستم، ولې ستړې درته ايسم.

- شايد، ما خو همداسې فکر وکړ.

دا ځل هغې خبره واړوله:

- ښه دا ووايه، زما ليکنې هم خوښوې، که يوازې چټ کې راسره يې؟

ومې خندل:

- خوښوم يې، وروسته يې بيا وګوره.

- مننه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې رانه هېرې شوې، حیران وم چې څه ورته ووایم، وخندېدم، بله پلمه نه وه، ورته ومې لیکل.

- وبخښه، نن زما انټرنټ سم کار نکوي.

سمدستي یوه خبره را په یاد شوه، پر کیبورډ مې ګوتې کېښودې:

- هو رښتیا، کیدی شي له ۲۰۱۴ کاله وروسته د افغانستان حالت خراب شي، که ایران ته درشم، بیا درسره لیدی شم؟
- فکر نه کوم، خو ولې حالت خراب شي؟
- خلک وایي، که نړیوال ځواکونه ووځي، بیا به همغسې کورنۍ جګړې ونښلي.
- څه ووایم نو، رښتیا به هم حالت بد شي ولا.

دلته مې یوې باتې ته زړه ښه کړ:

- که ته افغانستان ته راشې، پر سر به دې وګرځوم.
- نه، اصلاً دروغ نشم ویلی، ما تر اوسه لا ایران سم نه دی لیدلی، افغانستان خو ډېر لېرې دی.
- ټوکه مې وکړه، زه او ایران ډېره لېرې خبره ده.

پیغام یې رانغی، زه هم تم شوم، بله خبره مې په ذهن کې نه راګرځېده، حیران وم چې څه ورته ووایم؟

طاقت مې ونشو، ما ویل چې مودا اوس راسره په بنډار (چټ) بوخته وي، ورته ومې لیکل:

- کوم خواره دې خوښېږي؟
- فرق نه کوي.
- رښتیا، پر ما یې هم فرق نشته.

ونه خندېدله، ویې لیکل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- درویشه! ستا په دغو دوو پوښتنو زه هېڅ پوهه نشوم.

زیاته یې کړه:

- اول وایې، ایران ته درشم، ودې وینم، بیا وایې، کومه غذا دې خوښېږي، دا یوه تر بله څه تړاو لري؟
- ههههه، یعني یو تر بله تړلې خبرې وکړم.

په غوصه شوه، ویې لیکل:

- نه، اوس د خدای پامان، زه دې مسخره کړم.
- نګین، هدف مې دا نه و.

بیا مې ورته ولیکل:

- ته مې نه مسخره کولې، لطفاً! زه داسې عادت نلرم.

لاړه مروره شوه، ډېر نور پیغامونه مې ورکړل، خو ځواب یې رانکړ.

ښایسته څنډ ووت، وروسته مې بیا عذرونه ورته پیل کړل، کتل مې چې د لیکلو نښانه یې ښکاره شوه، پیغام یې راغی:

- درویشه! بس دی نو، خبره نوره هم ورانېږي، نن همدومره کافي ده.

نوره مې ورسره اوږده نکړه، یو څو دقیقې په فیسبوک کې وم، وروسته په تاخت (منډه) ترې راووتم.

مازیګر شو، موټر ته روان شوم، زموږ موټر تر نورو بېل و، تک شین و، هغسې رنګ بل کاسټر نه درلود.

څو تنه مامورین تر ما مخکې موټر کې ناست ول، په سیاست کې غرېدل، له ما پرته نورو ټولو په بحث کې ګډون کاوه، ښه یا بده، خو یوه خبره یې ورشړله. چا امریکا ملامتاوه، چا انګلیس او چا نور؛ خو زیاترو بیا ایران او پاکستان ته ګوته نیوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د موټر سیټونو ته کتل، نوي پوښونه يې ورکړي ول، خو رنګ يې دومره ښه نه و، تک شين و لکه د موټر په شان، ډير ژر خيرنېدل.

له وروستي سيټ نه غږ را پورته شو. ايران يې ياد کړ، کنځا او ناتارې يې تر خولې ورته ووتې.

ما شا ته ور وکتل، خو هغه لا هم ګډ و، مهين زيږ بريتونه يې د شونډې پر سر بل ډول ښورېدل:

- ايران زموږ فرهنګي او مذهبي دښمن دی، هېڅ وخت به دوست نشي.

هسې هم په غوصه وم، حوصله مې ورته ونکړه:

- امريکا دښمن، انګليس دښمن، پاکستان او ايران دښمنان. پوهېږې دا ولې؟

هغه غلی و، ما ورزياته کړه:

- ځکه، زه او ته لا د وطن په قدر نه يوو پوهېدلي.

د هغه برېتونه بيا کاږه واږه شول:

- څه څه، په دې خبرو پسې مه ګرځه! دا ټول د مسلمانانو دښمنان دي.

دې خبرې سره ما ته خدای راکړه، له مخکې نه مې پلمه ورته غوښتله، همدغه يې ځای و، بې ځنډه مې ورته وويل:

- شاه رسوله! تا نو کوم کافر مسلمان کړی، تر اوسه دې خپل مونځ نه دی زده، ته بيا د مسلمانۍ خبرې کوې.

ژر مې خلکو ته مخ ور واړاوه:

- و خلکو تاسو کوم وخت دا ځوان په مانځه ليدلی؟

زما دا خبره تور ټوپک شوه، سړی اوچته پاڅېد، ګوزار يې کاوه، خو زه له مخکې نه ورته ولاړ وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن سهار یو څه کارونه ول، ایله څه کم لس بجې وې، فېسبوک ته خوشې شوم، گل گل ننداره مې پکې وکړه، څه مې چې خوښېدل، یو تش لایک به مې پرې کېکاږه او له نورو نه خو په منډه تېرېدم.

لږ ځنډ مې ځان بوخت وښود، ما ویل که د هغې لخوا راته سلام وشي، خو نه؛ زما اټکل دروغ وخوت. تشې تورې لیکخونې ته مې سترگې دړه پاتې شوې.

طاقت مې ونشو، اخر ما سلام ورته وکړ، خو ښه وه، په ځواب کې یې لټې نه کوله.

جوړ پخیر، ته ښه یې، مننه شپه ښه تېره شوه او …

وروسته مې وپوښتل:

- فکر کوم، ښه لیکواله یې؟
- څنگه؟
- ډېرې ښې لیکنې ځړوې، کله کله ان فلسفي هم.
- مننه، دومره نه دې نو.

هغې بیا لیکل کول، زه تم شوم، وروسته یې پیغام راغی:

- رښتیا پرون ستا یو ملگرې د حمید سیال په نوم د ملگرتیا غوښتنه وکړه، ملگرې مې کړ، خو نن مې بېرته انفرېنډ کړ.
- ولې؟
- مطالب یې پارسي نه ول، هېڅ نه ورباندې پوهېدم. تا هم کمنټ ورته کړی و.

خندا راغله، د حمید سیال شیخي زما سترگو ته لکه (سیخه) ودرېده، خو څه ښه شوه چې راته رسوا شو. په هر څه کې یې کار درلود، دا حرام دي او هغه حلال. دا محرمه ده او هغه نامحرمه، زه یې بیخي په تنگ کړی وم.

ورته ومې لیکل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو، هغه مې ملګری دی.

څه يې ونه ليکل، ورزياته مې کړه:

- ته پښتو باندې نه پوهېږې؟
- نه پښتو مې نه ده زده، پوهېږې ما فکر وکړ اولګرد دی، خو چې ته مې هلته وليدې، پوه شوم چې نه، افغان دی.

په اولګرد يې ونه پوهېدم، ترې ومې پوښتل:

- اولګرد څه يې؟
- وبخښه، ټايپي خطا وه، کرد يادوم، د عراق کرد.
- ښه ښه، پوه شوم.

هغه وخندېده، بيا مې ترې وپوښتل:

- ودې نه ويل راته، ته ليکوالي هم کوې؟
- نه.
- مګر ښې ليکنې کوې.

هېڅ يې ونه ويل، خبره يې واړوله:

- د ځان دې ووايه، واده دې کړی، څه وظيفه لرې؟
- هو، واده مې کړی.
- ښه نور؟
- دولتي دنده لرم.

راته ويې ليکل:

- ټول پرليسي ووايه، څه دنده او څو اولادونه لرې او.....
- دوه اولادونه مې دي.

ورزياته مې کړه:

- او د يوې مجلې مدير يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- آفرين ډېر ښه، بيا نو فرهنګي يې، د افغانستان راتلونکی به تاسو سموئ.
- ډېره مننه، هو د خيره.

ويې پوښتل:

- مجله دې د څه په اړه ده؟

دا وخت انټرنټ پرې شو، چورت يې را ګډوډ کړ، پوره لس دقيقې ورته په تمه کېناستم، خو جوړ نشو، بهر ووتم، په انګړ کې راوګرځېدم، فضا پاکه وه، د انګړ پر سپمټين غولي باندې تازه اوبه شيندل شوې وې، لږ شېبه مې هلته ځان وغولاوه، وروسته بېرته شعبې ته راغلم.

خو انټرنټ نه و رغېدلی، تر دې چې غرمه شوه، ډوډۍ مې وخوړله، مانځه ته لاړم، مونځ مې په جمه وکړ او دعا ته هم تر پايه کېناستم.

اوس مې نو زړه کې ګرځېده، چې جوړ شوی به وي، شعبې ته په ننوتو کې مې لمړی د انټرنټ پوښتنه وکړه، ټولو په يوه خوله د هو ځواب راکړ، ژر خپل ميز ته ورتاو شوم، رښتيا هم سم شوی و، خوشحاله شوم، نګين هم فېسبوک کې وه، سمدستي مې ورته وليکل:

- وبخښه، انټرنټ خراب شوی و.
- فرق نه کوي.

په همدې کې بيا انټرنټ خراب شو، سخته غوصه راغله، له غوصې نه مې مېز ته ګوزار ورکړ، همغسې ترې پاڅېدم.

*****

نن سهار يو څه کارونه ول، ايله څه کم لس بجې وې، فېسبوک ته خوشې شوم، ګل ګل نننداره مې پکې وکړه، څه مې چې خوښېدل، يو تش لايک به مې پرې کېکاږه او له نورو نه خو په منډه تېرېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ ځنډ مې ځان بوخت وښود، ما ویل که د هغې لخوا راته سلام وشي، خو نه؛ زما اټکل دروغ وخوت. تشې تورې لیکخونې ته مې سترګې دړه پاتې شوې.

طاقت مې ونشو، اخر ما سلام ورته وکړ، خو ښه وه، په ځواب کې یې لټې نه کوله.

جوړ پخیر، ته ښه یې، مننه شپه ښه تېره شوه او ...

وروسته مې وپوښتل:

- فکر کوم، ښه لیکواله یې؟
- څنګه؟
- ډېرې ښې لیکنې ځړوې، کله کله ان فلسفي هم.
- مننه، دومره نه دي نو.

هغې بیا لیکل کول، زه تم شوم، وروسته یې پیغام راغی:

- رښتیا پرون ستا یو ملګري د حمید سیال په نوم د ملګرتیا غوښتنه وکړه، ملګرې مې کړ، خو نن مې بېرته انفرینډ کړ.
- ولې؟
- مطالب یې پارسي نه ول، هېڅ نه وربانديې پوهېدم. تا هم کمنټ ورته کړی و.

خندا راغله، د حمید سیال شیخي زما سترګو ته لکه (سیخه) ودرېده، خو څه ښه شوه چې راته رسوا شو. په هر څه کې یې کار درلود، دا حرام دي او هغه حلال. دا محرمه ده او هغه نامحرمه، زه یې بیخي په تنګ کړی وم.

ورته ومې لیکل:

- هو، هغه مې ملګری دی.

څه یې ونه لیکل، ورزیاته مې کړه:

- ته پښتو باندې نه پوهېږې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه پښتو مې نه ده زده، پوهېږې ما فکر وکړ اولګرد دی، خو چې ته مې هلته ولیدې، پوه شوم چې نه، افغان دی.

په اولګرد یې ونه پوهېدم، ترې ومې پوښتل:

- اولګرد څه یې؟
- وبخښه، ټایپې خطا وه، کرد یادوم، د عراق کرد.
- ښه ښه، پوه شوم.

هغه وخندېده، بیا مې ترې وپوښتل:

- ودې نه ویل راته، ته لیکوالې هم کوې؟
- نه.
- مګر ښې لیکنې کوې.

هېڅ یې ونه ویل، خبره یې واړوله:

- د ځان دې ووایه، واده دې کړی، څه وظیفه لرې؟
- هو، واده مې کړی.
- ښه نور؟
- دولتې دنده لرم.

راته ویې لیکل:

- ټول پرلپسې ووایه، څه دنده او څو اولادونه لرې او.....
- دوه اولادونه مې دي.

ورزیاته مې کړه:

- او د یوې مجلې مدیر یم.
- آفرین ډېر ښه، بیا نو فرهنګې یې، د افغانستان راتلونکی به تاسو سموئ.
- ډېره مننه، هو د خیره.

ویې پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مجله دې د څه په اړه ده؟

دا وخت انټرنټ پرې شو، چورت يې را ګډوډ کړ، پوره لس دقيقې ورته په تمه کېناستم، خو جوړ نشو، بهر ووتم، په انګړ کې راوګرځېدم، فضا پاکه وه، د انګړ پر سپمتين غولي باندې تازه اوبه شيندل شوي وې، لږ شېبه مې هلته څان وغولاوه، وروسته بېرته شعبې ته راغلم.

خو انټرنټ نه و رغېدلی، تر دې چې غرمه شوه، ډوډۍ مې وخوړله، مانځه ته لاړم، مونځ مې په جمه وکړ او دعا ته هم تر پايه کېناستم.

اوس مې نو زړه کې ګرځېده، چې جوړ شوی به وي، شعبې ته په ننوتو کې مې لمړی د انټرنټ پوښتنه وکړه، ټولو په يوه خوله د هو ځواب راکړ، ژر خپل ميز ته ورتاو شوم، رښتيا هم سم شوی و، خوشحاله شوم، نګين هم فېسبوک کې وه، سمدستي مې ورته وليکل:

- وبخښه، انټرنټ خراب شوی و.
- فرق نه کوي.

په همدې کې بيا انټرنټ خراب شو، سخته غوصه راغله، له غوصې نه مې مېز ته ګوزار ورکړ، همغسې ترې پاځېدم.

*****

فکر مې کاوه چې خدايزده که نن راسره چټ وکړي، پرون به خامخا خفه شوې وي، ډېره اندېښنه مې وه.

لمړی مې د هغې تصوير ته وکتل، شنه نښانه يې روښانه وه، خوشحاله شوم، له سلام نه وروسته مې ورته وليکل:

- سهار پخير.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هم ونه ځنډېدله، ځواب يې راکړ:

- سهار پخير.
- پرون مې انټرنټ خراب و، بخښنه غواړم، څو ځله پرې شو.
- هېڅ خبره نه ده، دلته هم دا حال دی، زما او ستا په اختيار کې خو نه دی.
- هو ولا، رښتيا هم.

لږ وځنډېدم، وروسته مې خبره واړوله:

- نګين يوه پوښتنه؟
- مهرباني.
- چې خفه نشې.
- نه، ووايه! ولې خفه کيږم.
- دا تصوير دې خپل دی؟

ځواب يې راکړ:

- هو، خپل مې دی، ولې ښه نه دی؟
- نه، هغسې نه وايم.
- نو؟
- ما ويل چې زياتره ښځې خپل عکسونه نه ږدي.
- نه نه، خپل مې دی.

نور مې نو صفتونو ته ځان جوړ کړ:

- ډېر ښايسته، واقعاً ښکلی تصوير دې دی.
- مننه.
- رښتيا درته وايم، طبيعي ښکلا پکې ده، بيخي ډېر ښايسته دی.
- مننه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ماشاأ الله، اصلاً ته ښایسته یې.
- اوه ګرانه، مننه مننه او مننه.

خندا راغله، اصلاً نورې خبرې رانه هېرې شوې وې، ځکه مې د هغې توصیف ته ساه هم وانخیسته.

چورت یووړم، چې څه ورته ولیکم؟

وروسته د هغې پیغام راغی:

- څه شوې، ویده شوې؟
- هههههه، خبرې رانه هېرې شوې.
- نو زه به ځم.
- نه نه.

ورته ومې لیکل:

- بخښنه غواړم، په پارسي سم نه پوهېږم، خدایزده څه څه لیکم.
- نه هغسې نه ده، ستا خبرې ډېرې خوږې دي.

ډېر خوشحاله شوم، خو د زړه خبره مې بیا هم خولې ته نه راتله، نه پوهېدم څنګه یې ورته ووایم. کاته مې د هغې بل پیغام راغی:

- رښتیا، که ستا مېرمن وپوهېږي چې ته ماسره چټ کوې، هغه نه خفه کیږي؟

حیران یې کړم، ورته ومې لیکل:

- جالبه پوښتنه، شاید خفه شي.
- ته اوس په دفتر کې یې؟
- هو، نن مې ډېر کار نه درلود.
- تر څه وخته یې؟
- د مازیګر تر ۴ پورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ښه ده، وخت لا شته.

بیا یې وپوښتل:

- ښه نو! که مېرمن دې خبره شي نو؟

چورت په مخه کړم، ما ویل اوس یې ورسره ګز کړه.

ورته ومې لیکل:

- دا نو څه ډول پوښتنه ده.

- خو زه غواړم پوهه شم.

- راځه اول ته ووایه، ستا خاوند خفه کیږي؟

ژر یې ځواب راغی:

- داسې به ووایم، که ستا مېرمن چټ وکړي، ته خفه کېږې؟

- سخت خفه کیږم، خدایزده هغه وخت به څه رانه پېښ شي.

- او مېرمن دې؟

- هغه هم خامخا خفه کیږي.

- ښه نو البته بد کار دی، موږ یې هم باید ونکړو.

زه غلی شوم، د ځواب ورکولو لپاره مې هېڅ نه درلودل. هک حیران یې کړم.

پیغام یې راښکاره شو:

- درویش جانه، خفه شوې؟

- نه.

- ښه نو راځه یوه بله خبره راواخلو، راضي یې؟

- هو راضي یم.

ویې لیکل:

- غواړې چې بیا ایران ته راشې؟

- هو، ما خو درته ویلي چې که حالت خراب شو درځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خو دلته اقتصادي وضعه ښه نه ده.
- پوهېږم، اما لږ به په امن ژوند وکړم.
- یعنې یوازې امنیت په نړۍ کې ارزښت لري.

هغه په لیکلو بوخته وه، زه تم شوم، شیبه وروسته یې پیغام راورسېد:

- رښتیا، بیا هم بې پیلوټه الوتکو افغانان وژلي دي؟
- هو، زیاتره یې ښځې او ماشومان دي.
- ډېر افسوس کوم، واقعاً خفه شوم.

دا وخت مې سترګې له کمپیوټر نه واړولې، د میز پر سر یو مکتوب راوړاندې شو، له لوستو وروسته مې لاسلیک کړ، د مجلې په اړه و، یوه دقیقه وخت به یې نیولی وي، بېرته فېسبوک ته شوم.

د هغې پیغام راغلی و:

- بیا نو د خپلې کورنۍ سره ایران ته راځه.
- ډېره سخته ده، درتلل او هلته اوسېدل، ستونزمن دي.
- ولې؟
- مور لږ هلته نه پرېږدي.
- د ایران دولت یادوې؟
- هو.
- ښه نو په دې کې زه څه نشم ویلی، خو ته هوښیار اوسېږه، که حالت خراب شو، یو ښه تصمیم ونیسه.
- سمه ده، مننه.

لږ وځنډېدله، ما هم انتظار وویست، هېڅ مې ورته ونه لیکل، نه پوهېږم څو دقیقې به وتلې وې، چې پیغام یې راښکاره شو:

- مېره مې راغی، ژر بېرته لاړ، ویل یې ماښام راځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ونه منله، فکر مې وکړ، چې هسې له تېوکو راته وايي، ورته ومې ليکل:

- تاته څه نه وايي؟
- نه ولې څه ووايي، شايد پام دې نه وي، زه د خپلو خبرو ډېر رعايت کوم، عشقي او بېهوده خبرو نه مې بد راځي. هسې هم هغه ډېر په کور کې نه وي.

د عشق د کلمې په ليدلو مې زړه وتخنېد، صبر مې ونشو، ورته ومې ليکل:

- که عشقي خبرې وکړې بيا هغه خفه کېږي؟
- هغه په هر صورت، خو زه خپل حد ساتم.
- ډېره ښه ده. افرين.

څو ځله يې د ليکلو نښانه ښکاره او بېرته ورکه شوه، زه ورته په تمه وم. بلاخره پيغام يې راغی:

- ښه درويشه! نن همدومره بس ده، کنه؟
- ستا خوښه.
- هو بس ده، پر ځان پام کوه، د خدای پامان.
- الله دې مل.

*****

سه شنبه وه، نن يې څو ليکنې پرلپسې څړولې وې، يوه يې ډېره خوندوره وه، ليکلي يې ول: (له ځينو نه بايد خفه نشو، ځکه يوازې د هغوی په زړونو کې څه نشته، بلکې په مغزو کې يې هم هېڅ نشته).

خو هغه لا په فېسبوک کې نه ښکارېدله، زما هم نن کار ډېر و، د مجلې لپاره د ليکنو ايډېټ و، زيات مې پر خپلو همکارانو ووېشه، لږ راته پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر لس نیمو بجو پورې مې پاڼې مخ ته نیولې وې، ډېرې مې وکتلې، خو وروستۍ هغه یې نه کېدې، نور یې زړه را په تنګ کړ، د مېز پر سر مې وغورځولې، بېرته فیسبوک ته شوم.

هغه اوس فیسبوک ته راغلې وه، لږ ورته تم شوم، ما ویل ودرېږه چې هغه نن هم راته سلام کوي کنه؟ ښایسته څنډ ووت، خو د هغې لخوا مې هېڅ ونه لیدل.

بې صبره شوم:

- باور وکړه چې ودې وینم، خامخا باید سلام درته وکړم.

سمدستي یې ځواب راغی:

- سلام دوسته.
- علیکم، څنګه یې؟
- شکر ښه یمه.

زیاته یې کړه:

- وبخښه، یو امریکایي فلم مې کوت.
- اوه، لکه چې مزاحم شوم؟
- نه نه، مزاحم به ولې یې، فلم هر وخت کتلی شم.
- مننه.

د دې د لیکنو په اړه مې ورته ولیکل:

- نن مې ستا لیکنې ولیدې، ډېرې ښکلې وې.
- ډېره مننه.
- هیله کوم.

بیا مې په پارسي ورته ولیکل:

- قابل نداره.

ورزیاته مې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سم مې ووېل؟
- هو، ستا هر تولې خبرې سمې دي.

ومې خندل:

- منه، ما ویل که په خبرو کې مې تېروتنه کېده راته وایه، په پارسي زیات نه پوهېږم.
- په سترگو.

دا وخت د فېسبوک پر پاڼه یو انځور راښکاره شو، یوه ښځه د سړک پر غاړه روانه ده، د تور حجاب یوه ځنډه یې باد پورته کړې او ښځه هڅه کوي، بېرته یې ښکته کړي، جالب عکس و. ما ته هم موضوع پیدا شوه، سمدستي مې ترې وپوښتل:

- نگین! په ایران کې ښځې بې حجابه له کوره نه راوځي. فرهنگ مو همداسې دی، که قانون اجازه نه درکوي؟
- ایرانیان حجاب سره نه، اجبار سره ستونزه لري.
- منم یې درسره.

ورزیاته مې کړه:

- په افغانستان کې حکومت کوم اجبار نه دی کړی، خو خپل ناوړه کلتور یې ځوروي.
- هو، خپل فرهنگ یې د هغوی پښې او لاسونه ورتړلي، نارینه یې سختگیره دي چې دا ډېره بده ده.

زیاته یې کړله:

- د خپل فکر په خلاف، تولنې سره همرنگي ښه کار نه دی.
- نو دا خلک ولې وایي، چې (خود را با جامعه بساز).
- نه دا غلطه ده، زموږ او ستاسو توپیر همدا دی، ایرانیان هېڅکله جوړښت نه کوي، خرابوي یې او بیا یې له سره جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرې يې نښودم چې پيغام ورکړم، خبره يې وغځوله:

- زه ستاسو په ولسي جرګه کې وينم، يوازې څو تنه ښځې پکې دي، پر هغوی باندې فشار راوړي، د هغوی خبرې سمې نه اوري، ځکه چې ستاسو نارينه هغوی ته ارزښت نه ورکوي.
- هو، دا وطن زياتې ستونزې لري، خو ځوانانو خپله مبارزه پيل کړې، ډېر کار يې کړی او کوي يې.
- هو ان شاءالله، تاسو ليکوالان بايد لږ آزاد فکر ولرئ، يو بل مه ټکوئ، ښه مطالب وليکئ، چې تولنه پراخه شي، رڼا شي.
- ښه خبره کوې، مننه.

لږ وځنډېدله، وروسته يې راته وليکل:

- ماته لږ کار پيدا شو، که بېرته راغلم احوال دې اخلم.
- سمه ده.

تر مازيګره پورې مې څو ځله فېسبوک ته سر ور ښکاره کړ، رانغله.

*****

موټر ته روان وم، ښکته زمکې ته مې سترګې پاتې وې، بوټونه مې نوي اخستي ول، هغو ته مې کتل، ما ويل چې ښه ښکارېږي کنه. په همدې کې د باران څاڅکي تېز شول، د زمکې ختې راوالوتې، د بوټونو تور رنګ ورسره برګ واوښت.

ژر د دېوال خواته شوم، ګامونه مې ګړندي کړل. يوه کرس خندا زما په غوږو رانوته، آشنا غوندې وه، خو بيا مې هم شا ته ونه کتل، همغسې روان وم.

باران نور هم تېز شو، منډه مې واخيسته، دا ځل غږ راپسې وشو:

- ودرېږه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور ومې کتل، باسط او سبحان راپسې ول، د رییس سکرتران. هملته لنډ د موټړ پارکینګ ته ورتاو شوم، سر یې پټ و، د باران څاڅکو پر وسپنیز بام باندې بې نوبته کړپا کوله.

هغوی هم راورسېدل، باسط غږ وکړ:

- بچیش! دې ورځو کې ډېر لېرې ګرځې.

ما لا ځواب ته خوله نه وه جوړه کړې، د سبحان غوټه شوې شونډې خلاصې شوې:

- هلکه، مېین غونډې ښکارې، دا څو ورځې بیخي ګوښه ګرځې.

په خندا شوم:

- لکه چې هغې درته ویلې که څنګه؟

د هغوی هم راسره خولې په خندا جینګې شوې، درېواړه روان شوو، وړاندې د حملې موټرونه ولاړ ول، هغوی ځانګړی موټر درلود، ډېر یې راته وویل، چې ورسره وخېژم، خو ما ونه منله، خپل د حملې موټر ته راغلم.

د ښیښې خواته کیناستم، باران لا پسې تېز شو، د موټر پر بام یې د تېزوالې غږ ښه احساسېد، پر سیمټین غولې باندې اوبه زیاتیدلې، بهر هوا یخه شوه، له دننه د موټړ ښیښو خولې وکړې، په ښیښو کې د ګوتو نښانې راښکاره شوې. چا شکرونه ویستل او چا د دې اندېښنه کوله، چې ختین کورونه به یې څنګه شي؟

موټر حرکت وکړ، د نور کله په شان نن بیا بحث ورو- ورو په تودېدو و، لمړی د باران خبرې وې، خو ډېر ژر موضوع پر سیاست واوښته.

له مخکنې سیټ نه غږ را وخوت:

- حاجی مدیر صیب!

حاجي په دویم سیټ کې ناست و، ځواب یې ورکړ:

- بلې صیب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کرزي ته خو بیا د ډالرو ډکې کڅوړې راغلې.

د حاجي مدیر راته شا وه، سر یې وښوراوه:

- هو ولا خبر شوم.

خبره یې وغځوله:

- رشیدخانه! دا ړیره مې هسې نه ده سپینه شوې، ایران ګوره هېڅ وخت نه دوست کیږي، پام دې دی! نه طالب خفه کوي نه دولت. مخصد (مقصد) اور یې تازه کړی.

له خنګه یې غږ را پورته شو:

- ایران به هر څه درته وایي، ته یې منې؟

حاجي وربرګ شو:

- اختر مامده، ته لا وړوکی یې، ایران او پاکستان بې هدفه مرستې نه کوي، او بیا داسې مرسته.

رشید پکول له سره لیرې کړ، په برګو ویښتانو کې یې ګوتې بندې کړې، ښه یې وګراوه، وروسته یې د هغوی د خبرو تار وشوکاوه:

- اختر جانه و اختر جانه!

اختر غلی شو، هغه وویل:

- وروره، حاجي صیب ربښتیا وایي، ایران خپله له لوږې مري، هغه بیا موږ سره کومک کوي، ولا که یې بې مودا وکړي، خامخا څه شته.

اختر وخندل:

- مدیر صیب! هغه څه کوي، د ځان خبره کوه، ته یې ولې اخلې؟

بحث اوږد شو، وار په وار یې غږونه لوړېدل، خو زه غلی وم، باراني منظر ته مې کتل، په سرک کې اوبه نه ځایېدلې، له سرکه لرې هاخوا ته په پیاده رو کې د ختو بد حال و، خلک پکې واز- واز روان ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته مې دولت ته غوصه راتله او دلته د دوی شور زړه را په تنګ کړ، طاقت مې ونشو، خبرو ته لک ودرېدم:

- خدای ته وګورئ، دا بحثونه بس کړئ هلته ختیو ته وګورئ، دغه مو حال دی، پردي ولې ملامتوئ!

ټول غلي شول، خو له شانه یې زما خبره بې ځوابه پرې نښوده:

- حاجي صیب، پام کوه، دلته هم خرڅ شوي پیدا کیږي.

دي خبرې سم دم وچیچلم، هېڅ نه کېدل، دوه سیټونه مو تر منځ ول، ګنې غوبل مې جوړاوه.

موټر کې بیخي کراري شوه، ټول چوپه خوله پاتې شول، د ټولو سترګې ماته پاتې وې، چې زه باید یو څه ووایم.

مخ مې ورواړاوه، له غوصې نه مې پر شونډو خندا خپره شوه:

- سړی ځان نه خرڅوي، که ډېره خواري ورباندې راغله، نو خپل خر او غویی بیا حتماً خرڅوي.

زیاترو پخ وهل، په خندا یې لنډه چوپتیا له منځه بوتله. خو هغه ته وخت پاتې نه شو، چې بله خبره وکړي، د موټروان غږ شو:

- مدیر صیب کمپنۍ ته ځې، که کښته کیږې؟

- نه نه، استاذه کښته کیږم، خیر یوسي.

*****

د نګین یو بل عکس نن ډېر نازول شوی و، زما هم زښت زیات خوښ شو، بیخي مې زړه ورته وتخنېد. په ټال کې ناسته وه، د ټال مزي د ونې په غټ ښاخ کې بند ول، له خندا تکه شنه پاتې وه، وېښتان یې شاته شمال وهلي ول او زېړ لنډ ټیکری یې پر غاړه کې پروت و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نو يوازې د فېسبوک معتاد نه وم، د ليکخونې (چټ روم) په ښارلو کې هم عادي شوی وم. هغه لا نه ښکارېدله، خو ډاډه وم چې راځي، په بېغمۍ مې نور کارونه وکړل.

څه کم لس بجې وې، چې راښکاره شوه، زړه مې ولګېد، سم له واره مې ورته وليکل:

- سلام

ځواب يې رانغی، بيا مې ورته وليکل:

- نګين ښه يې، چې خيريت وي؟

بيا يې هم ځوا ب رانکړ، انديښنه مې شوه، بل پيغام مې ورکړ:

- نګين، ځواب دې نه راځي! که بوخته يې راته ووايه، داسې چوپه مه کښېنه.

د ليکلو نښانه يې ښکاره شوه:

- سلام، وبخښه موبايل ته مې همدا اوس زنګ راغی، چا سره په خبرو وم.

- ښه شوه ځواب دې راکړ، ګنې!

- ګنې څنګه؟

طاقت مې ونشو، مازې مې د زړه خبرې ته لاره هواروله، ومې ليکل:

- که دې ځواب نه وای راکړی نو؟

- نو عصباني کېدې او کمپيوټر دې ماتاوه.

ومې خندل:

- کمپيوټر دولتي دی.

- بيا دې نو خپل ګرېوان شوکاوه.

دې خبرې يې وسکوندلم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نګين! هېڅ نه پوهېږم، هره ورځ ولې بايد زه تاسره خبرې وکړم؟
- زه هم نه پوهېږم.
- ښه ده، چې له يو بله کرکه نه کوو.
- ولې کرکه؟
- زه هم وايم کنه، خدای دې داسې نه پېښوي.
- نه پېښيږي، ډاډه اوسه.

ځواب مې ورنکړ، هغه هم وځنډېدله، خو ډېره نه، وروسته يې د ليکلو نښانه ښکاره شوه:

- درويشه، څو کسانو سره چټ کوې؟
- يوازې تا سره.
- نه، رښتيا ووايه!
- باور وکړه، يوازې تا سره.
- سمه ده، منم يې.

زياته يې کړه:

- ښه ده چې يو څوک د زړه خواله درسره وکړي، همداسې ده؟
- هو بلکل، هغه هم بيا تا غوندې انسان.
- مننه، ته هم ښه انسان يې.

نور مې نو ځان ډاډه کړ، ورته ومې ليکل:

- نګين! که زه نن يو څه درته ووايم، نه خفه کيږې؟
- نه، ووايه.
- وعده ده؟
- يعنې څه؟

په ډېر احتياط مې ورته وليکل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- یوه خبره درته کوم، یوازې په هو یا نه به یې ځواب راکوې، غوصه او خپګان به نه وي، سمه ده!
- بېغمه اوسه، نه خفه کېږم.

زړه مې په درېبدو شو، ډېره هڅه مې وکړه، چې مستقیم ورته ووایم، خو ونه شوه، ورته ومې لیکل:

- کېدی شي یو د مینې داستان پیل کړو؟
- یعنې څه؟؟
- نه پوهېږم، په څه ډول یې ووایم.

بې ځنډه یې ولیکل:

- ژر ووایه، ځان مه نارامه کوه.
- خو وېرېږم.
- له څه نه؟

حیران پاتې وم، ښه اوس څنګه ورته ووایم؟ بیا یې پیغام راغی:

- درویشه! پاک پاک ووایه، مطلب دې څه دی؟

په پارسي مې ورته ولیکل:

- خیلې دوستت دارم.
- خوب منم دوستت دارم.

زه تم شوم، هغې ولیکل:

- ته زما ښه دوست یې، ځکه خو تر اوسه سره خواږه یوو.
- هغه خو سمه ده.
- نو څه؟
- تا زما په زړه کې ځای نیولی، نشم دې هېرولی.
- ښه، یعنې راباندې عاشق شوی یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو.

لږ غلې شوه، زه یې په تمه شوم، هېڅ مې ونه لیکل، وروسته یې د لیکلو نښانه ښکاره شوه:

- ته څه وایې، دا څنګه امکان لري؟
- د امکان خبرې وروسته کوو، اوس خبره د زړه ده.

ښایسته څنډ ووت، ځواب یې رانغی، وروسته مې پیغام ورکړ:

- نګین!

ویې لیکل:

- اوکې بابا، سمه ده، خو ستا عکس مې نه دی لیدلی؟
- ښه نو زما د مینې غوښتنه دې ومنله؟
- هو.

دلته مې لږ زړه ورباندې غل شو، ما ویل دا خبره یې څنګه عادي وګڼله؟ خو ډېر مې سر ورباندې ونه خوږاوه.

پیغام یې راغی:

- درویشه عکس دې!

ورته ومې لیکل:

- ښه ده، درلیږم یې.

زړه مې د شک په لومه وترل شو، ما ویل نه چې بل ځوک وي، په انټرنټ کې به مې رسوا کړي. راځه بل عکس ورولیږم، هغه څه پوهیږي، چې پردی دی.

لکه لیونی، رښتیا مې هم د بل چا عکس ور واستاوه.

لږ وروسته یې پیغام په لیکخونه کې ښکاره شو:

- ښایسته ځواني لرې. ولې یې د فیسبوک پر وال نه ږدې؟
- نه، نه غواړم، همداسې ښه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سمه ده، ستا خوښه.

زه غلی وم، هغې راته ولیکل:

- درویشه! دا چې یو بل ښوک درسره مینه کوي، ښه حس دی، هغه هم له دې غاړې، که نه ده همداسې؟

- هو، هغه هم ته.

- اوه، زه، څه ووایم نو!

اوس نو نورې خبرې رانه ورکې شوې، حیران وم چې څه ورته ولیکم، د زړه خبره مې چې کوله، هغه مې ورته وکړه، ښه اوس څه ورته ووایم؟

نور څه مې په ذهن کې نه راګرځېدل، بلاخره مې ورته ولیکل:

- نګین، ډېره مننه.

- د څه مننه؟

- همدا چې زما د زړه خبره دې ومنله.

- څه ووایم نو، راتلونکی به یې وښیي، اوس لا وختې ده.

- زه هم ستا غوندې مهربان انسان یم، اندېښنه ونکړې.

- رښتیا مهربان یې، که یو بې وخته عاشق؟

ومې خندل:

- هههههه، باور وکړه، نور مې صبر تمام و، خپل احساسات مې نشوی کنټرولوی.

- سمه ده، منم یې.

ورته ومې لیکل:

- ښه ګرانې، بیا هم د یو افغان زړه ته ستا راتګ نه مننه.

- نه نو، داسې مه وایه.

- ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې سره د هغې ځواب رانغی، له فېسبوکه هم ووتله، زړه مې وشوېږېد، ځان ته مې غوصه راغله، نېژدې مې سره ته سوکان ويستلي ول.

طاقت مې ونه شو، پر کيبورډ مې ګوتې خښې کړلې:

- ګرانې، زما ګناه نه ده، دا اراده مې نه درلوده، چې ته رانه خفه شې، لطفاً!

لږ ورته په تمه شوم، خو ځواب يې رانکړ، بيا مې ورته وليکل:

- دوه ورځې رخصتي ده، ډېرې سختې به تېرې شي.

راښکاره نه شوه، بل پيغام مې ورکړ:

- نګين، ما مه ځوروه، لطفاً!!

راښکاره نشوه، فېسبوک مې بند کړ، له خپلې څوکۍ پاڅېدم، څنګ ته په تور کاوچ باندې اوږد وغځېدم.

همدې کې د شعبې دروازه راخلاصه شوه، خاله وه، غږ يې وکړ:

- ډوډۍ راوړم!

ټولو ماته وکتل، زه هم ونه څنډېدم:

- هو رايې وړه.

وروسته تور دسترخوان هوار شو، د هر چا مخې ته يوه- يوه ګرده ډوډۍ وغورځېده، کاسې هم کېښودل شوې، بينډۍ يې پخې کړې وې، ربښتيانی ډېرې مې خوښېږي، خو نن مې تر ستوني نه تيرېدلې. ګوتې مې مازې غوړې کړې، وروسته پاڅېدم، مخپاک مې پر اوږه واچاوه، اوداسه ته لاړم.

مونځ مې وکړ، نن مې دعا ته ښه په اخلاص لپه پورته کړله، ما ويل که خدای يې بېرته راضي کړي.

شعبې ته راغلم، ټول غلي شول، په زړه کې مې را وګرځېدل، لکه په ما کې يې چې تبصره کوله، ځکه د سترګو له کونجونو يې هم په نوبت راکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باک مې پرې رانه وور، لاړم کمپيوټر ته کېناستم، وار له واره مې فېسبوک خلاص کړ، خو هغه لا انلاين نه وه، چورت مې بيخي پسې خټه شو.

*****

تر نهو بجو د کور دېوالو ته په کتو ستړی شوم ، پنجشنبه وه، دفتر رخصت و، زړه مې فېسبوک ته ورختلی و، ډېر مې ځان وغولاوه، خو ونشوه، آخر له کوره را ووتم.

د سړک غاړې ته په رسېدو سره، دوه موټرونه پر يو وخت راته ودرېدل. سپين کرولا راته نزدې و، په هغه کې وختم.

پر لاره يې يو بل کس هم راپورته کړ، سورلی يې پوره شوه، لږ شېبه وروسته د کوټه سنګي چوک کې موټر يوې غاړې ته ودرېد. شلګون مې موټروان ته ورکړ، ښکته شوم.

نن دومره ګڼه ګونه نه وه، خلک لږ تر سترګو کېدل. د پله قبلې لوري ته په لوړغږي (لاوډسپيکر) کې غږ راپورته کېده: (سرعت انټرنټ کلب ته ښه راغلئ ......).

ښۍ خواته مې وکتل، پر شنه وره لوحه مې سترګې ولګېدې، د زينو پر سر لګېدلې وه. وړاندې ورغلم، دوکاندار بوټونه سمول، ډېر بډ ځوان و، ترې ومې پوښتل:

- وروره، دا انټرنټ کلب کوم يو دی؟

هغه زينو ته لاس ونيو:

- پاس ورشه!

ربښتيا هم نابلده سړي نشوای موندلی، په دويم پوړ کې و، مسوول کس زينو ته مخامخ د لوړ سور مېز شاته ولاړ و، زما په ليدو يې خپل کمپيوټر ته وکتل، وروسته يې ورې تورې سترګې راپورته کړې، په نرمه لهجه يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پنځم نمبر غرفې ته!

مخامخ پر دېوال باندې ښایسته سپین ساعت راځړېد، له نهو نه شل تېرې وې، پنځم نمبر غرفې ته ورتاو شوم، تنګه غرفه وه، یوازې د یو تن لپاره وه.

لېټاپ کمپیوټر پکې ایښی و، پر سکرین یې د وینډوز3 اصلي والپېپر ښکارېد، همغه د شنې زرغونې تپې انځور.

فایرفاکس بروزر مې غوره کړ، سایټ خلاص شو، لمړی مې د فېسبوک خپله پاڼه راخلاصه کړه، د پاڼې پاسنۍ برخه کې نن سرې شمېرې ډېرې وې، د پیغامونو پر سمبول باندې د (2) عدد ښکارېد، له بل هر څه مې عدد ته زړه ورختلی و، لمړی مې لیکخونه خلاصه کړه.

کاته مې د نګین پیغام راغلی و، راته لیکلي یې ول:

- نه ګرانه، هېڅ فکر مه کوه، برق تللی و.

بل پیغام یې هم و:

- درویشه، ډېر ژر وار درنه خطا کیږي، لږ صبر خو کوه.

د ځان سره مې وخندل، ربښتیا هم، لکه بیخي چې ما ښځه نه وي لیدلې، ډېر هیجاني وم.

هغه اوس فېسبوک کې وه، ورته ومې لیکل:

- کور کې مې طاقت ونه شو، ربښتیا هم همداسې یم.

ځواب یې راغی:

- برق تللی و، پیغام مې در واستاوه، خو ۳ بجې وې، ته تللی وې.

زه تم شوم، د هغې بل پیغام راښکاره شو:

- ستا نن رسمي رخصتي نه ده؟

- هو، رخصتي ده، زه په انټرنټ کلب کې یم.

- ښه ښه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ومې ليکل:

- ما ته دې سزا راکړه.
- سزا يعنې؟

چورت يووړم، ما ويل پارسي کې به سزا ته څه وايي؟ د (جزا) کلمه را په ياد شوه:

- جزا.
- يعنې خفه مې کړلې؟

زياته يې کړه:

- څه خير، اوس تېره شوه، دا ووايه، ولې سهاري ناوخته راځې؟

خندا راغله، هره ورځ پخپله ناوخته راتله، ما ته يې ويل چې ولې. ورسره ومې نه غځوله، ما ويل پرېږده يې چې وايي.

په دروغو مې ورته وليکل:

- د سهار لخوا نور مسووليتونه هم لرم.
- ښه نو اول د نورو په فکر کې يې بيا د ځان.
- هو نو.

وخندېدله، ما ورته وليکل:

- نګين، څه شوې؟
- يم.

ويې ليکل:

- درويش جانه، يو څو ورځې شايد په فېسبوک کې ونه اوسم.
- ولې، خيريت خو دی؟
- کورنۍ سره مې په سفر ځم، کيدی شي فېسبوک ته لاسرسی ونلرم.

ومې پوښتل:

- څو ورځې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه شم ویلی، ځکه د سفر اختیار زما نه دی.
- زه به ډېر درپسې خفه شم.
- درویشه، ضرور نه ده چې خپل ژوند پخپله تریخ کړې، زه او ته ډېر سره لېرې یوو.

زړه مې په درېبدو شو، ما ویل دا په څه ګډو وډو سر شوه، ورته ومې لیکل:

- ته څه وایې؟
- ګوره ګرانه، ښه مینه همدا ده، چې تا هم له پولې دا غاړه یو څوک له زړه غواړي، تاسره مینه لري او ستا هم په هرځای کې په یاد ده، چې د ښه ژوند لامل ګرځي، خو.
- خو څنګه؟
- خو حقیقت هم نشو هیرولی، ته ښځه او بچیان لري، چې باید ورسره واوسیږې، هغوی خوشحاله وساتې.

په مغزو کې مې کړنګ شو، خو ډیر طاقت مې ونه شوای کړی:

- نو زما او ستا مینه به څنګه شي؟
- هیڅ نشي کیدی، زه او ته د همدغې دستګاه په مرسته یو بل سره وصل یوو، بس.

لکه له خوبه چې راویښ شم، ما داسې فکر کاوه، چې هر څه سم شول، خو داسې نه وه. هغې اوس هم له زړه نه وم خپل کړی، هسې وخت یې تېراوه.

پیغام یې راغی:

- درویشه څه شوې؟
- یم ګرانې.

ورزیاته مې کړه:

- نګین، ډېره راته سخته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- گوره، زما او ستا تر منځ اوږده فاصله پرته ده، راباندې ګران یې، خو څه وکړو، یوازې همدا فېسبوک مو سره وصلولی شي.

زه غلی پاتې وم، کیبورډ ته مې ګوتې نه ورتلې، د هغې بل پیغام راغی:

- که دې خوښه وي، د موبایل شمېره دې راکړه!

په وجود کې مې وینه وځغلېدله، نور ونه ځنډېدم، ورته ومې لیکل:

- هو ولې نه.

شمېره مې ورکړه، دقیقه لا نه وه پوره، چې د مېز پر سر موبایل وچونګېد، د نګین پیغام و:(درویشه زه یم، نګین).

په ځواب کې مې ورته ولیکل:

- مننه ګرانې، شمېره دې ساتم.

کاته مې چې زنګ یې راغی، وارخطا شوم، ژر مې ښوکۍ پرېښوده، بهر ووتم. لاسونه خو پرېږده، ټول بدن مې لړزې نیولی و.

- سلام

- سلام درویشه زه یم نګین.

- هو ګرانې، ومې پېژندې.

- څه احساس کوې.

- ډېر ښه.

- ولې وارخطا یې؟

- نه یم وارخطا.

- ښه ګرانه، غوښتل مې غږ دې واورم، ځکه مې زنګ درته وواهه.

- مننه کوم، زه هم ستا له غږ اورېدو خوشحاله شوم.

- زه هم، ښه نو اوس مې موبایل کې کرېډیټ کم دې، بله ورځ به زیاتې خبرې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زه به زنګ درته ووهم!
- نه نه، همدومره کافي ده، مننه.
- سمه ده، ستا خوښه.

اړيکه پرې شوه، په منډه بېرته شعبې ته راغلم، په ليکخونه کې د نګين پيغام ښکارېده:

- خوند دې واخيست؟
- ډېره مننه، نن زما تر ټولو خوږه ورځ همدا ده.
- هيله کوم.

بيا يې هم د ليکلو نښانه ښکارېدله، زه تم شوم، وروسته يې پيغام راښکاره شو:

- ښه نور کار نلرې؟
- څه کوې ځې؟
- هو غرمنۍ اماده کوم.
- سمه ده.

*****

شنبه وه، اته نيمې بجې وې، شعبې ته ننوتم، سترې مشې پاتې شول، همکاران مې ټول تلويزون ته څير ول، ما هم سترګې ور واړولې. خندا راغله، ژر مې لاس تيټ کړ، له ښيښنه ايز ميز نه مې ريموټ را واخيست، چاينل مې بدل کړ.

د ټولو غږونه لوړ شول:

- او مدير صيب، پرېږده ته، ډېر جالب و.

ما وخندل:

- شرم دی، ماشومان خو نه ياست، ايله کارتوني ګورئ.

د مجلې ايډيټر امين الله نومېد، نږدې راته ناست و، ورو يې شونډې وښورېدې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ټوله ورځ خپله فېسبوک ته ناست دی، موږ ته وايي.

ما ځان ناګاره کړ، خو د نورو پټې خندا ډېر خجالت کړم، ځواب مې نه درلود، ګني پټه خوله نه کېناستم.

خبره تېره شوه، نیم ساعت به وتلی و، فېسبوک مې خلاص کړ، نن انټرنټ ګړندی کار کاوه، پاڼه مې ژر خلاصه شوه.

نګین هم فېسبوک کې وه، د معمول په شان لمړی مې په سلام ونازوله؛ هغې هم په ځواب کې ځنډ ونه کړ:

- علیکم سلام، ښنګه يې درویشه؟
- شکر دی، ستا ښال دی؟
- ښه یمه، د ژوند پاڼې دي را اړوم يې.
- ښه ده چې پاڼې شته.
- هههههه، خدای خبر دی.

زه يې پرې نښودم، زیاته يې کړه:

- درویشه، د سفر وخت را نژدې شوی.
- ته خوشحاله يې؟
- ستا ښنګه خوښه ده، باید خوشحاله ونه اوسم.
- نه نه، همیشه خوشحاله اوسې، ستا خوشحالي زما ده.
- مننه ګرانه.

ترې ومې پوښتل:

- سبا به هم فېسبوک کې يې؟
- نه پوهېږم، اوس خو دا دی یم.

ناڅاپه له فېسبوک نه ووتله، خو اوس عادت شوی وم، چورت مې ژر نه خراباوه، په تمه شوم، خو راښکاره نه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهر ووتم، لمر دومره بد نه لگېد، له چمن نه مې بېرته ودانۍ ته مخ راواړاوه، ودانۍ یې تازه رنګ کړې وه، تکه سپینه ځرکېدله، هملته کېناستم، له پرون راهیسې د خپلې ملامتیا په فکر کې وم، چې ولې مې ورته دروغ وویل؟ پردی عکس مې ولې ور واستاوه؟ لکه چې ښه کار مې ونکړ. ورځه! که ښه کار هم وي، هغې خو زما عکس نه دی لیدلی، نو څنګه راباندې مینه شوې وي؟

بیا به چورت راولوېد، چې هغه به رښتیانی ښځه وي کنه؟ یو وار رسوا نشم. ډېر چورتونه مې ووهل، خو ځانته مې د وتلو لاره پکې ونه مونده.

بېرته شعبې ته راستون شوم، فېسبوک مې راخلاص کړ.

د هغې پیغام راغلی و:

- درویشه، انټرنټ مې خراب شوی و، بخښنه غواړم.
- هیله کوم، زموږ په واک کې نه دی نو.
- هو.

ورزیاته مې کړه:

- ګرانې یو څه مې درته ویل.

ځواب یې راغی:

- څه؟

حیران پاتې شوم، ورته ووایم کنه؟ دې خبرې ته خو جرات په کار دی.

وځنډېدم، هغې ولیکل:

- درویشه! څه راته وایې، ووایه!

خو دا جرأت د یوې غټې ډبرې لاندې و، اوس مې ډېره نشوای لېرې کولی. غلی وم، چې په فکر کې مې یوه لاره را وګرځېده، ورته ومې لیکل:

- یو لیک درته لیکم.
- ښه، زما د پسټ بکس پته غواړې، لیک را استوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه ګرانې، د همدغه فیسبوک له لارې یې درلیږم.
- نو ولې یې همدا اوس نه راته وایې؟
- نه، باید سم یې ولیکم، ته خو پوهیږې چې زه په پارسي سم نه پوهیږم، نن شپه یې په غور لیکم سبا یې درلیږم.
- ښه ده.

ډیر وېرېدم، سخته راته ښکارېدله، داسې لکه همدا اوس چې هغه زما په ملامتیا پوهېدلې وي.

ورته ومې لیکل:

- غوارم، چې د لیک له لوستو وروسته ما درک کړې!
- ولې څه خبره ده؟
- اوس نشم ویلی درته.
- سمه ده، زه به تر سبا په تمه یم.

ونه خندېده، بیا په لیکلو بوخته شوه، وروسته په لیکخونه کې یو بیت راښکاره شو:

- ای عشق چه ګویمت که چوني؟؟ از قامت طاقتم فزوني.
- ډیر عالي، خوندور شعر.
- مننه.

ورزیاته مې کړه:

- ګرانې کاشکې زه په پارسي باندې پوره پوهیدلی.
- هو، ډېره سخته پارسي وایې، څه خیر دی، زده به دې شي.

یو دري بیت مې را په یاد شو، ډیر پخوا مې د محلي سندرغاړو له خولې اورېدلی و، ورته ومې لیکل:

- یو شعر به زه هم درته ووایم.
- ویې وایه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعر ته مې د هغې په خاطر لږ بدلون ورکړ:

- زبان یار من پارسیست و من پارسي نمیدانم - الهی کاش باشد زبانش در دهان من.
- ګرانه، ته ډېر خوږ ژبی یې، عالي دی.
- مننه.

زیاته یې کړه:

- درویشه، پارسي زه در وښیم؟
- هو زه به ډیر خوشحاله شم.
- سمه ده، زه دې معلمه او ته مې شاګرد.
- بالکل، منم یې، خو ګوره وهې به مې نه!
- هههههه، لږ لږ به دې غوږ تاووم.

ومې خندل:

- هههههه، خو ورو ورو.
- ښه ګرانه، خبرې اوږدې شوې، اوس به لاړه شم.
- خو ودې نه ویل، سبا ته فېسبوک کې یې؟
- هو یمه، رښتیا سفر مو سم معلوم نه دی، کیدی شي وځنډېږي، تا ته مې ځکه وویل، چې که نه وم نو پوه شه چې تللې یمه.
- سمه ده.

*****

اوو بجې وې، له جیبه مې کاغذ راوویست، د مېز پر سر مې مخې ته کېښود، زړه نازړه مې پر لیکدره ګوتې ورخښې کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- گرانې سلام، که رښتیا درته ووایم، یو ډېر ښه اتفاق و، همدا چې زه او ته سره معرفي شوو، یو تر بله مو دوستي او بیا مو هم د مینې اظهار وکړ. باور وکړه، بیخي ډېر خوشحاله یم.

له انټر کولو (کېکاږلو) وروسته مې ورزیاته کړه:

- خو زه درته ملامت یم، واقعیت مې نه دی ویلی. ما وبخښه! دا ښه ده چې ډېر نه یم ځنډېدلی، ګنې جبران به یې راته سخت و. نن حقیقت درته وایم. که نور هېڅ نه وي، د وجدان عذاب خو به مې په کراره پرېږدي. دا چې ته وروسته څه پرېکړه کوې، نه پوهېږم، خو باور وکړه زه ډېر ارزښت درکوم، له زړه دې غواړم او له تا نه مې هم د زړه له تله همدغسې غوښتنه ده.

ګوتې مې راشاته کړې، یوازې انټر مې کېکاږه، لیکلې کرښې په پیغام پاڼه کې ښکاره شوې، بیا مې په لیکلو پیل وکړ:

- نګین! دا زما مستعاره پاڼه ده، اصلي نوم مې سهراب دی، واده مې نه دی کړی او هغه تصویر مې هم د بل چا دراستولی دی. زه درته پړ یم، خو باور وکړه، قصداً مې نه غوښتل داسې وشي، دا هر څه په ناپوهۍ کې وشول. زه ورباندې ډېر پښېمانه یم. که ته یې پخپله مهربانۍ راته بخښنه وکړې، ډېر به خوشحاله شم.

(سهراب)

فېسبوک مې بند کړ، له شعبې ووتم، چای مې نه و خوړلی، بهر دوکان ته لاړم، یوازې هګۍ مې راواخستې بېرته راغلم. خاله راغلې وه، هګۍ یې رانه واخیستې. مجله مې نن باید چاپ ته لېږلې وای، له سباناري وروسته مې د وروستي ځل لپاره د هغې په کتلو پیل وکړ، څه ناڅه تیروتنې یې اوس هم درلودې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر يو وخته مې نيمايي مجله وکتله، نور مې زړه ورته تنګ شو، امين الله ته مې پر مېز ورکېښوده.

له خجالته زړه نازړه وم، فېسبوک ته مې زړه نه شواى ښه کولى، ما ويل اوس به څه راته وايي، خامخا به په غوصه وي، وايي به چې خومره ناځوانه او بې باوره سړى دى.

ډېر طاقت مې وکړ، نور نه کېده، بالاخره فېسبوک ته ننوتم. سمدلاسه مې پر يو تياره انځور سترګې ولګېدې، د سمندر په منځ کې لاره کښېل شوې او په تورو جامو کې پټه ښځه، چې زلفې يې باد تار- تار کړې دي، يېلې پښې روانه ده.

انځور د نګين لخوا پورته شوى و، يوه لنډه کرښه يې پر سر ورته کښېلې وه: (دا لاره نه کږه ده، نه غلطه! پر همدې لاره تللې وم، بېرته راغلم).

زړه مې کښ شو وښوېد، په وارخطايۍ مې ليکخونه خلاصه کړه، ورته ومې ليکل:

- نګين جانې، سلام.

ځواب يې رانغى، بيا مې وليکل:

- ګرانې سهار پخير.

بيا يې هم ځواب رانکړ، پوه شوم چې په غوصه ده، بل پيغام مې ورکړ:

- ولې ځواب نه راکوې؟

نور نو زما خبرې بې ګټې وې، پيغامونه مې ډېر ورکړل، خو ځواب يې رانښکاره نشو، خفګان مې غړې مره پره کړل، زړه مې ستونې ته راغى، لويه شعبه داسې شوه راته، لکه تياره تنګ زندان.

يو وخت مې پر څوکۍ شاته ډډه وهلې وه، چې په غوږې کې مې د پيغام غږ واورېد:

ژر بېرته راسم شوم، د نګين پيغام و، ليکلي يې ول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- درویشه، اصلاً زه پخپله کم عقله یم.

ژر مې ګوتې پر لیکدړه ورکښېنودې:

- نګین ډېره مینه درسره لرم، ګنې دومره اصرار مې نه کاوه.
- کاشکې ما هم دا فکر کولی شوی، چې ته رښتیا وایې.
- باور وکړه، دا مې اول هم رښتیا ویل او اوس هم، ډېره مینه درسره لرم.
- بس ده، خبره تمامه شوه.

ډېر پیغامونه مې ورکړل، بیخي ډېر، خو یو ځواب یې هم رانغی.

*****

سهار وختې له کوره ووتم، پر لاره مې ځانته وکتل، زړه کې مې راوګرځېدل، چې ښه سریه چېرته روان یې؟ کار خو مې اته بجې پیلیږي، اوس چې لاړ شم، څه به وکړم؟ هغه هم اوس فېسبوک کې نشته، ایران کې لا دا وخت توره تیاره ده.

زړه نازړه وم، کله ودرېږم کله روان شم، په همدې کې د بایسکېل زنګ وکړنګېد، سخت یې وویرولم، یوې خواته شوم، زنګ بیا وکړنګېد، دا ځل بلې خواته شوم، دریم ځل زنګ سره خړ دېوال ته ورسرېښ شوم.

بایسکېلوال په تېرېدو کې شاته را وکتل، ویې ویل:

- علي آباد ته لاړ شه!

هېڅ مې ونه ویل، په یوه تشه خندا مې ځان تېروېست، شاته لنډ دوه تنه راپسې ول، د هغو دواړو هم شونډې په خندا سره بېلې وې، پوه شوم چې ما پورې یې خندل، نور مې نو سترګې مخامخ پر لاره ومنډلې، سړک ته ووتم.

زېړ مرسډېز موټر ودرېد، یو بل تن هم هلته ولاړ و، د موټر دروازه خلاصه شوه، دواړه ورروختو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاوخوا پنځه دقیقې وتلې وې، په کوټه سنګي کې ترې ښکته شوم، تر هوايي پله لاندې ګڼ مزدوران ولاړ ول، هر يوه ماته کتل، فکر یې کاوه چې مزدوران مې په کار دي، خو زه یې په منځ کې پټه خوله تېر شوم.

له هوټل نه د لتامنګیشکر سندره راوتله، د شنه سهار ارامه فضا یې نرمه- نرمه کړنګوله. دفتر ته مې زړه ونه شو، وخت ډېر و، بل موټر ته ونه ختلم، هوټل ته ور وګرځېدم، د شيدو او پراټې فرمایش مې ورکړ، ورانديې تېر شوم، د ناستي لپاره مې په سپينو پلاستيکي څوکيو کې يوه خوښه کړله.

د وره پر سر تلويزون چالانه و، سپورتي خپرونه پکې روانه وه. تلويزون ته ځير وم، چې مخه مې خيرنې چادرۍ ونيوله، سپين لاس ترې راووت، ډېر بډ لاس و، چې هېڅ له دغې چادرۍ سره نه جوړېد.

ومې ويل:

- ماف که.

خو چاته وایې، نور یې هم عذر و زارۍ زیاتې شوې.

بيا مې وويل:

- ماتې راسره نشته.

د ښځې لهجه تونده شوه:

- ځوان يې، د ځوانۍ خيرات نه باسې.

خندا راغله، کيڼ لوري ته ډبل سوربخن سرى ناست و، پر مېز دوه پراټې ورته پرتې وې، د شيدو پیاله یې لاس کې وه، ښځې ته یې غټ سر وښوراوه.

سترګې مې ورپسې پاتې شوې، سرى ډېر سپين سترګی و، په رڼا ورځ یې ښځې ته لاس ور ووړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وخت زما پر مېز باندې کرپ شو، مخ مې راواړاوه، کتل مې چې پراټه او د شیدو پیاله راته ایښې دي، شیدې سړې وې، ټپونه ترې ختل، یوه ټوټه پراټه مې را بېله کړه، ډېره غوړه وه، غوړي ترې څڅېدل.

د ډبل سړي کړس خندا پر غوږو ښویه راننوته، مړې مې په خوله کې پاتې شوه، بیا مې سترګې ور واوښتې، خیرنه چادرې هم د خندا سره ښورېدله. سړي یو سلګون ورته نیولی و، ډډ لاس له چادرۍ ور ووت، سلګون یې واخیست روانه شوه.

ورپسې سړي هم څوکۍ شاته ټېله کړله، پاڅېد.

*****

دفتر ته تګ خوند نه راکاوه، خو چاره نه وه، غیرحاضرېدلم، دا چې کار مې کاوه که نه، دومره ارزښت یې نه درلود، مهمه خبره دا وه، چې سړی باید په دفتر کې حاضر وي.

د دفتر په انګړ کې ملګرو سره ودرېدم، لږ- لږ مې ورسره وخندل، خو خیال او فکر مې ملتیا نه کوله، وروسته مې د ښي لاس په اوچتولو سره خدای پاماني وکړه، ترې روان شوم.

نن مې نو فېسبوک ته بېخي ډېره تلوسه وه، خلاص مې کړ، د هغې هېڅ پیغام نه و راغلی، سخت خفه شوم، ما وېل پیغام ور ولېږم، خو د لیکخونې په نوملړ کې یې نوم ورک و. ورپسې ولټېدم، ان د خپلو ملګرو نوملړ ته لاړم، هلته مې هم ونه مونده، وارخطا شوم، لټون ته لاړم، د هغې نوم مې ورکړ، همغه نوم او همغه تصویر مې پیدا کړ، پخپله همدا وه، خو اوس زما د ملګرو له لېست نه وتلې وه.

هغه ساعت هم راباندې تېر شو، ډېر زور یې راکړ، خو څه مې کړي وای، ملامت پخپله وم، دروغ مې نو ولې ورته ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله چاره نه وه، بیا مې د ملګرتیا غوښتنه ورولیږله، د هغې له پاڼې نه مې د هغې خپله لیکخونه پرانیسته، ډېر عذرونه مې ورته وکړل، پرلپسې مې پیغامونه ورته کتار کړل، خو تر مازیګره یې نه ځواب راښکاره شو او نه یې ملګرتیا ومنله.

*****

نن دویمه ورځ وه، چې ما او هغې چټ نه و کړی، پروني ورځ به پر نورو ژر تېره شوې وي، خو پر ما ډېره اوږده وه.

څو ځله مې زنګ ورته وواهه، هوکې یې نکړ، تر دې چې بل ځل یې موبایل ګول کړ. سر مې وګرځېد، سخت زور یې راکاوه، ما ویل دا موبایل پر زمکه وولم.

نږدې غرمه وه، یوه ایډیا په چورت کې راوګرځېده، ژر کمپیوټر ته وروړاندې شوم، د هغې په ملګرو پسې ولټېدم، له څو کسانو څخه مې د ملګرتیا غوښتنه وکړه، شیبه وروسته مې کتل چې دوو تنو زما ملګرتیا ومنله، دواړه ښځې وې، یوه پروین سنايي نومېده او بله الهه اسدي.

ونه ځنډېدم، پروین ته مې په لیکخونه کې ولیکل:

- ډېره مننه، چې زه مو د خپلې ملګرتیا وړ وګڼلم.

ځواب یې رانغی، پرې مې ښودله، ښایسته ځنډ ووت، وروسته مې بیا ورته ولیکل:

- سلام.

ورته په تمه شوم، خو ځواب یې رانکړ، اخر مې ورته کړل:

- د سلام ځواب فرض دی، زه اړ یم، ګني مزاحمت مې نه درته کاوه.

سمدستي یې ځواب راغی:

- علیکم سلام، ښه یې؟

- ښه یم مننه او تاسو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- شکر.
- وبخښه نو چې مزاحمت مې وکړ!
- نه هيله کوم.

ورته ومې ليکل:

- زه افغان يم.
- هو، هلته مې وکتل.
- ښه ډېر ښه، يوه وړه غوښتنه مې درلوده.
- څه؟
- د نگين کاشاني په نوم ستا يوه ملگرې يادوم.
- ښه!
- زه د هغې دوست يم، دوه ورځې کيږي رانه خفه ده، فېسبوک کې يې زما ملگرتيا هم پريښې ده.

وخندېده، خو ډېره نه، وروسته يې ځواب راکړ:

- نو زه څه کولی شم؟
- ته ورته ويلی شې، باور وکړه زما هېڅ گناه نشته، هسې په نه خبره رانه خفه ده.
- سمه ده، دا کار به وکړم.
- مننه.

له شعبې ووتم، د غرمې لمر سترگې بريښولې، چمن ته ورتاو شوم، پر سميټينه خوکۍ باندې د پښو پر سر کېناستم، موبايل مې راوويست، د نگين شمېره مې ډايله کړه، تمه مې نه وه، خو ناڅاپه اړيکه ټينگه شوه.

هلو، هلو، بلې... چا ځواب رانکړ، يو بل غږ مې اورېد، سم لکه د تلويزون.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅ خبرې يې ونکړې، اړيکه پرې شوه، بيا مې زنګ ورته وواهه، خو ګول کړې يې و، په غوصه يې ټنډ کړم، ما ويل دا موبايل پر څوکۍ وولم، خو شاوخوا ته خلک ناست ول، پټه خوله بېرته شعبې ته راغلم.

*****

درې ورځې ووتې، د پروين سنايي څواب رانغی، حيرانۍ پر سر واخيستم، ښه اوس څه وکړم؟ هېڅ نه پوهېدم، چورتونو لاره رانه ورکه کړې وه.

خو د شيطان کور دې ړنګ شي، عجيبې لارې خلکو ته ورښيي، يوه بله چاره په فکر کې راوګرځېده، که څه دا کار ښه نه راته برېښېد، خو بله لاره مې نه درلوده، مجبور وم.

نن مې بيا د هغې ځينو ملګرو نه د ملګرتيا غوښتنه وکړه، همغه ملګرې يې چې ددې پر پاڼه يې زياتې څرګندونې ښکارېدې. تر لسو زيات شول، وروسته مې د هغې يو تصوير وځړاوه، پر سر مې ورته دوه عشقي بيتونه هم وليکل، ساعت ووت، بل تصوير يې هم راسره و، هغه مې هم وځړاوه.

ډېر شرمېدم، داسې مې احساسوله، لکه هغه چې راته راګوري، فېسبوک مې بند کړ، پر خپل کار بوخت شوم. تر مازيګره مې بيا فېسبوک ته ور ونه کتل، همغسې کور ته لاړم.

*****

نن مې پر يو پيغام سترګې تودې شوې، ما ويل دا به لا د چا وي، د محمد په نوم يو چا رالېږلی و، پوه شوم، چې له نويو ملګرو څخه دی، ليکلي يې ول:

- تاسو نګين پيژنئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځواب کې مې ورته ولیکل:

- هو.
- څومره یې پېژنې؟

فکر مې وکړ، البته کوم خپل یې دی، خو په کیسه کې یې نه شوم، ځواب مې ورکړ:

- بس د فېسبوک له لارې، همدومره.
- تا د هغې عکس په فېسبوک کې ایښی، ته پوهېږې چې ډېر غیر اخلاقي کار دی؟
- هو پوهېږم، خو د اخلاقو په اړه به څه نه وایوو.
- بیا هم، په دغسې حالت کې چې هغه ده، ته ښه کار نه کوې.
- د ښه او بد قضاوت ستا کار نه دی، زه غواړم، هغه ما بېرته په فېسبوک کې ملګری کړې.

څنډې ووت، خو زیات نه، وروسته یې راته ولیکل:

- و مسلمانه! هغه پردۍ ښځه ده، چې هغه یې نه غواړي نو تا ته خیر؟ اخر د هغې دا حالت باید درک کړې.

ما بیا هم و نه منله، ما ویل دا هسې پلمه کوي یا کوم بل مطلب لري.

ورته ومې لیکل:

- هیله کوم، ورته ووایه چې ملګری مې کړي، بس همدومره!
- ستا خوښه ده نو، خو محرم او نامحرم باید هېر نکړو، موږ او تاسو د مسلمانۍ دعوه کوو، دې ته هم متوجه اوسه؟

خبرې یې بې ځایه نه وې، خو څه مې کړي وای، زړه مې نه کرارېد، لکه لیونی، پر تش عکس باندې داسې مېین وم، ته وا فزیکي مې لمس کړې او لیدلې مې ده.

ورته ومې لیکل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- وروره! ته قضاوت کوې او زه هغې سره مینه لرم، هغه پر ما ډېره گرانه ده.
- خو داسې یې نور هم نفرت درته ډېرېږي، حسد یې درسره زیاتیږي.

زړه مې ټکان وخوړ، ما وېل هو په خدای! ربښتیا خبره خو یې وکړه.

ونه ځنډېدم، ورته ومې لیکل:

- نو څه وکړم؟
- د هغې عکسونه همدا اوس لېرې کړه!

ورته ومې لیکل:

- او زه؟
- زه به ستا خبره ورته وکړم، که یې ومني.
- سمه ده، عکسونه یې لېرې کوم، زما لخوا بخښنه ترې وغواړه، ما اشتباه کړې.
- مننه وروره.

د ده په اړه مې اندیښنه شوه، ترې ومې پوښتل:

- هغه دې څه کیږي؟
- بس همدومره، لکه زه او ته.

زیاته یې کړه:

- هغې له ما نه وغوښتل، چې تا ته ووایم، عکسونه یې پاک کړئ، بس.

په همدې کې له فیسبوک نه ووت، ما هم نور سر ورپسې ونه خوږاو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*****

تر لسو بجو مې نن هم انتظار وویست، د محمد پیغام رانغی، هغه پر لیکه و، شنه نښانه یې روښانه وه، د انتظار زور به نو څوک ولري، طاقت مې ونشو، لمړی مې سلام ورته وکړ.

لږ وروسته یې ځواب راغی:

- علیکم سلام، دوسته سهار پخیر.

ورته ومې لیکل:

- د پایلې خبره کوه، زه هېڅ ښه نه یم.
- د څه؟
- نګین څه وویل؟
- هو، هغې ته مې ستا پیغام ورساوه، هغې یوازې د عکسو خبره کوله.

ونه ځندېدم، ومې لیکل:

- او زه؟
- په دې اړه یې څه ونه ویل.

شکمن شوم، ما ویل نه چې دا سړی هر څه له ځانه وایي که څنګه؟ ما وېل راځه ښه یې سپک کړه، خو لکه څوک چې راته ووایې: ولې؟ څه خبره ده؟ ته څه حق لرې؟

ځان مې اداره کړ، ورته ومې لیکل:

- ښاغلی محمده! عکسونه همدا اوس لېرې کوم، ته ورته ګوره!
- سمه ده.

زړه مې نه و، چې لېرې یې کړم، د راپخلا کولو لپاره یې همدا یوه لاره راپاتې وه، خو دا ښه کار ونخوت، یو ډول ناځواني راته ښکاره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عکسونه مې لېرې کړل، وروسته مې محمد ته ولیکل:

- وروره، ورشه ویې ګوره.

شېبه پس یې ځواب راغی:

- مننه، چې زما غوښتنه دې ومنله.
- هیله کوم.

ورزیاته مې کړه:

- ښاغلیه! که یو ځل بیا هم ورته ووایې، مهرباني به دې وي!
- زه ورته وایم، خو که یې ملګرې نکړې، ته هم نور مه خفه کېږه.
- دا خبره ته کوې، که هغه یې درته وایي؟
- باور وکړه، هسې ځان سترې کوې، هېڅ امکان نه لري. ځکه د هغې موقف اوس دا خبرې نه مني.

سخته غوصه راغله، خو نه مې غوښتل چې هر څوک رانه خفه شي، د وروستي پیغام په ډول مې ورته ولیکل:

- خیر په هر صورت، ته خو زما پیغام بیا ورته ورسوه.
- په سترګو.

*****

دریمه ورځ وه، په فیسبوک مې سترګې نه وې لګېدلې، تمه مې په شکېدو وه، ما ویل خدایزده که بیا راسره وغږېږي، خو له زړه نه مې نه وتله، همغه لومړنی عکس یې هر وخت زما سترګو ته کېده.

نن مې زړه نازړه ګوتې وروړې، خلاص مې کړ، خو سم له واره یې حیران کړم، څو ثانیې وړاندې مې دا فکر نشوی کولی، اوس مې هم لا نه منله، هر څه له ورایه ښکاره کېدل، خو زما چې تمه شکېدلې وه، هېڅ باور مې نه کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ځیر شوم، ما ویل کیدی شي د بل چا له لایک یا کمنټ سره راښکاره شوی وي، خو هغسې نه و.

د هغې تصویر مې ولید، پخپله یې ځړولی و، له خوشحالۍ نه حیرانۍ په مخه کړم، هغې زما ملګرتیا منلې وه، نه پوهېدم اوس څه وکړم؟ لاره رانه ورکه شوه، زړه مې لکه مارغه په الوتو شو، شاوخوا مې سترګې واړولې، ښه وه د چا پام نه و راته، ګڼې خدای خبر زما به حرکات څه ډول ول.

کیبورډ ته مې ګوتې ور برابرې کړې، ورته ومې لیکل:

- نه پوهیږم، په کومو الفاظو درنه مننه وکړم، همدا به کافي وي چې درته ووایم، د یوې ښځې عاطفه او مهرباني تا ثابته کړله، ډېره ډېره مننه.

ښایسته څنډ ووت، ځواب یې رانغی، بیا مې ورته ولیکل:

- نګین، درپسې خفه شوی یم.

همدې سره یې ځواب راښکاره شو:

- څه ووایم، ستا له لاسه، تا مې د ټولو پر وړاندې آبرو یووړه.

- ما وبخښه، پخپله خطا پښیمانه یم، خو بله چاره مې هم نه درلوده.

راته ویې لیکل:

- هر یو راغی پیغام یې راکړ، چې عاشقانه شعر یې درته لیکلی، ولې؟ څنګه او څنګه... زما دا تمه نه وه درنه، ډېر شرموونکی کار دې و.

په دې خبرې یې سم وچیچلم:

- نګین، زه نن ډېر خوشحاله یم، هېڅ نشم ویلی، ما وبخښه! پریږده چې تر=ر سبا لږ خوشحاله واوسم.

- څه ووایم نو، ستا له لاسه واقعاً چې؟؟

نور مې نه غوښتل خبرې ورسره اوږدې کړم، هرومرو یې ګیلې راته کولې، ښه په زغرده مې ورته ولیکل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ګرانې، زه نن بېخي ډېر خوشحاله یم، ما خپلې خوشحالۍ ته پرېږده، اوس د خدای پامان. سبا وختي راشې، سمه ده.
- سمه ده، الله دې مل.

*****

څه باندې اته بجې وې، نګین په فیسبوک کې راښکاره شوه، پوه شوم، چې لا هم ورباندې ګران یم، زما پرونۍ خبره یې منلې ده، ځکه خو نن وختي راغله.
لمړی مې د هغې د ناروغۍ پوښتنه ترې وکړه، په ځواب کې یې څنډ ونه وېست:
- ښه یمه نو، مننه.

زیاته یې کړه:
- څه خبرې دي؟
- هېڅ.

ویې پوښتل:
- څه خو به دې نه ویل؟

څه به مې ورته ویل، داسې وخت کې له سرې نه خبرې هېرې شي، ځواب مې ورکړ:
- نه، څه مې نه ویل.
- ښه نو زه ځم، کار لرم.

په وارخطایۍ مې ورته ولیکل:
- خو ودې نه ویل راته، ته اوس هم رانه خفه یې؟
- هو ولې نه، اوس هم درباندې شکمنه یم.
- خو زه درته په زړه کې پاک یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا نو وخت ته اړتیا ده، اوس هېڅ نه ویل کېږي.

زیاته یې کړه:

- ښه اوس خو څه ویل نلرې، لاړه شم؟

دا چې له ما یې اجازه اخیسته، په زړه کې مې یو ډول غرور را وپارېد، ومې انګیرله چې ولا اوس هم وربانديې ګران یم، البته زه به نه پوهېږم.

ورته ومې لیکل:

- نور زما لخوا ښېغمه اوسه.

- سمه ده، خو ما چې ولیدل، ستا کارونه یو روڼ اندي ته نه دي ورته، سم لکه د یو عادي سړي.

بیا یې زیاته کړه:

- شاید د فېسبوک نوري پاڼې به دې هم جوړې کړې وي، دا دی تر ما بیا هم را ورسېدې، رښتیا هم ستا کارونو ښه نتیجه ورکړه.

- ګرانې، اوریدلي به دې وي، چې مینه فولادي غرور هم اوبه کوي، د عقل او هوښیارۍ هېڅ پروا نه لري.

- ای بابا، یو طرفه مینه یوازې ځورول دي، نور هېڅ معنا نه لري.

زه غلی شوم، نه مې غوښتل چې تازه په تازه ځان ورسره بند کړم.

بل پیغام یې راغی:

- ښه نو، زه ځم، ستا لپاره راغلم، ګنې دومره وختي نه راتلم.

- ډېره مننه کوم.

*****

ایله یوولس بجې وې، چې د دفتر له کاره خلاص شوم، کاغذونه مې رییس ته وسپارل، بېرته شعبې ته راغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نګين په فيسبوک کې وه، سم لکه عادت شوی چې وم، وار له واره ليکخوني ته لاړم، سلام او سهار پخير مې ورته وليکل.

کاته مې چې ځواب يې راکړ، خو توري يې انګريزي ول، بيا يې وليکل:

- زما ډيسک پارسي نه لري، نه يې شم ليکلی.
- پروا نه لري، لږ لږ ورباندې پوهيږم.
- سمه ده.
- ښه.
- څه؟

بيا خبرې رانه ورکې شوې، هېڅ موضوع مې ونه موندله.

ويې پوښتل:

- وايه، څه دې ويل؟
- نه پوهېږم، څه ووايم؟ کله چې ليکخونه پرانيزم، ټولې خبرې رانه هيرې شي.
- ولې؟
- هېڅ نه پوهېږم.

زه وځنډېدم، هغې د سواليې (؟؟؟؟) نښانې راته کېښودې. خو هغه څه چې زما په زړه کې ول، هغه مې په خوله نشوی راوړلی، وېرېدم.

نګين بيا د سواليې نښانې راته کتار کړې، اخر ناچاره شوم، ورته ومې ليکل:

- شايد ته يې ونه منې، خو باور وکړه، کله چې درسره مخامخ کېږم، خبرې مې هيرېږي.
- نو زه خو څه نشم کولی، ستا خپله ستونزه ده.
- نه پوهېږم، خو اوس يو ډول ويره درنه احساسوم.
- ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ځکه ته اوس هم رانه خفه یې. آخر دا تر کله؟

پيغام يې راغی، خو زه له سره وربانديې ونه پوهېدم، زړه مې ورته په تنګ شو:

- انګريزي دې سخته شوه، سم نه ورباندې پوهېږم.
- اوس پارسي نشته نو.
- انستال يې کړه، په کمپيوټر کې شته.

په خبره مې و نه پوهېدله، د سواليې نښانې يې راته کېښودې:

- ؟؟؟؟

ورته ومې ليکل:

- ټولې ژبې په کمپيوټر کې شته، پکې عياره يې کړه.
- بلده نه يم.
- زه به لارښوونه درته وکړم.

کتل مې چې په پارسي حروفو يې پيغام راغی:

- زه دومره بده هم نه يم، چې ته رانه وويرېږې.
- ښه نو څنګه کيدی شي، چې بېرته همغسې خواږه شو؟
- وخت ته اړتيا ده، اوس هېڅ پرېکړه نکيږي، زه اوس هم انديښمنه يم.
- له څه نه؟
- درويشه! څه يې کوې چې راباندې تکراروې يې. زه او ته اوس يوازې دوستان يوو، بس.

بل پيغام يې رانکړ، له فېسبوکه ووتله، خو ما ته يې د دوستۍ کلمې خوند راکړ، پر همغې مې زړه ډاډه شو، تر مازيګره مې چورت سم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*****

نننی سهار له نورو سره توپیر درلود، بیګانې باران هوا یخه کړې وه، د سړک پر غاړه موټر ته ولاړ وم، سړک لا هم لوند و، نن له خاورو او دوړو نه خلک بېغمه ول.

موټرونه ډک- ډک تېرېدل، یو هم نه راته درېد، خو اندېښنه مې نه درلوده، هوا پاکه وه، ماسک (پوز بند) ته هم اړتیا نه وه.

یو تور سراچه موټر رانږدې شو، څراغونه یې راته روښانه او ګول کړل، ما هم مازې سر ورته وښواراوه، راته ودرېد. د مخې په سیټ کې د یو تن ځای و، هغه بل تن خپل ځان موټروان ته ورجوخت کړ، ښه ورسره سرېښ شو، وروسته یې زه خوا ته ورکښېناستم.

د موټر منځ تود و، ټولې ښیښې یې بندې وې. ښه پاک سوتره و، داسې نه و، لکه د نورو لیني موټرو په شان. رادیو چالانه وه، ټولو خبرونو ته غوږ نیولی و، د یو ځانوژونکي برید له خبره وروسته یې د پوهنتون او دانشګاه توده مسأله راواخیسته، خبریال ښه په خوند وویل: (پرون بیا هم د پوهنتون او دانشګاه د نومونو پر سر په ولسي جرګه کې نانداره روانې وې، خو سره له زیاتو بحثو او ناندریو کومې پایلې ته ونه رسېدل).

خبرونه پر ځای پاتې شول، له شانه د یو تن غږ را پورته شو:

- له عمره همدا پوهنتون و، دا ټول کارونه د پردیو دي، دانشګاه دلته څوک پیژني؟

خوا ته یې ناست ځوان حوصله ونکړه، په دري ژبه یې وویل:

- خی دیګه افغانستان ره هم افغانتون بسازین.

د لومړني کس غږ لوړ شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که افغانتون شي یا افغانستان، فرق نه کوي، زموږ خپل وطن دی، د نورو يې څه.

دویم دا ځل په پښتو ورته کړل:

- ولې يې څه، موږ افغانان نه یوو که څه؟
- چې یاستئ، نو په افغاني نومونو مه شرمیږئ.

موټروان وخندل، خوا ته مې ناست ځوان هم لږ موسکی غوندې شو، شاته مې ور وکتل، دواړه ښایسته ځوانان ول، د دواړو پر مخونو نرۍ ږیرې ښکاریدلې، له عادي خلکو سره يې له ورایه توپیر کېده.

دواړه یو تر بله سخت سره شول، خو دریم تن پرې نښودل، له غږه يې سپینږیری بریښېد، ما سم نشوی لیدلی، مخ مې نه ور اووښت، چې وروسته مې بیا په کوټه سنګي کې ولید، ښه نوراني سړی و.

هغه دواړه يې په خپله پټکه باندې داسې غلي کړل، چې بیا يې چونګ هم ونه خوت.

ورپسې يې په کراره وویل:

- شرم دی، هر وخت جنګ، په مازې خبره جنګ، څه خبره ده؟ دلته هر سړی په هر کار کې کار لري، تر کله به په نه خبره یو د بل ګریوان رانیسئ، له عمره پوهنتون و، دا اوس ولې؟

سړی نور غلی شو، بل چا هم بیا خبره ونه کړه، کوټه سنګي راورسېد، کرایه مې موټروان ته ونیوله، له موټر نه ښکته شوم.

په بل موټر کې وختم، په هغه کې چوپتیا خپره وه، ماپسې بل تن هم راوخوت، موټر ډک شو، موټروان د یوې مستې پښتو سندرې غږ لوړ کړ، د موټر تنګه فضا يې په سندرې منحصره کړه، هیچا ورته هیڅ ونه ویل، زه هم غلی وم، لږ وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلورمه کارته راورسېده، ښکته شوم، دفتر مو سړک ته لنډ و، څو قدمه وړاندې پر وره ورننوتم.

*****

په فېسبوک کې مې د ملگرو لیکنې په ارامه وکتلې، خوښې مې کړلې او پر ځینو مې څرگندونې وکړې.

ښایسته ځنډ ووت، نگین راښکاره شوه، په لیدو یې د نورو پرېښودو ته اړ شوم، بېگاه مې چې خبرې ورته زده کړې وې، ټولې مې بیا له یاده ووتې، په همدې کې وم، چې سلام یې راغی. خوشحاله یې کړم، لمړی ځل و، چې د هغې لخوا سلام وشو، له خوښۍ نه مې زړه په ټوپونو شو.

ورته ومې لیکل:

- علیکم سلام، څه حال دی، ښه یې؟
- شکر دی، دفتر ته پخیر راغلې؟
- پخیر اوسې، مننه.

ویې لیکل:

- د سهراب پر ځای که درویش درته وایم، نه خفه کیږې.

زما خپله هم درویش خوښېد، ورته ومې لیکل:

- ولې خفه شم، دا نوم مې خوښیږي، ځکه مې غوره کړی.
- بیا نو سمه ده، زه همدا درویش درته وایم.

پرې یې نښودم، بیا یې ولیکل:

- پرون خو به رانه خفه شوی نه وې، زما چورت لږ ښه نه و؟
- نه، ولې درنه خفه شم.

نور یې دوام ورنکړ، زه لږ تم شوم، هېڅ مې ورته ونه لیکل، خو زیاته حوصله مې ونشوی کړی، پر لیکدړه مې گوتې ورکېښودې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نګین!
- بلې.
- کله چې تا سره چټ کوم، ډېره ارامي احساسوم.
- بیا نو ښه احساس دی.

زه یې لیکلو ته پرې نښودم، زیاته یې کړه:

- درویشه، زه او ته یوازې د دوستۍ په چوکاټ کې ښه یوو.
- سمه ده، ستا خوښه.

په همدې کې مې یوه بیګانۍ خبره را په یاد شوه، ورته ومې لیکل:

- غواړم، یو پارسي ناول پیدا کړم، که یې پېژنې، نوم یې راکړه!
- زه په کتابونو کې دومره بلده نه یم، رښتیا یو کتاب مې لوستی، ښکلی او جذاب ناول دی، بانو نومېږي، مسعود بهنود لیکلی، زما خو ډېر خوښېږي.
- مننه.
- مګر څنګه یې تر لاسه کوې؟
- دلته به یې ولټوم، که نه و، بیا یې له ایرانه را غواړم.
- سمه ده، ته خپله ښه پوهېږې.

زیاته یې کړه:

- رښتیا په انټرنټ کې یې وګوره، وي به.
- هو، وبه یې ګورم.
- ښه نو، که کار نه لرې، څمه سباناری خورم، که بېرته راغلم بیا خبرې کوو.
- سمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*****

خاله ښوروا پخه کړې وه، رښتيا هم چې خوندوره وه، څو تازه مرچ مې ورسره وخوړل، سخت خوند يې وکړ.

د ماسپښين له مانځه وروسته مې فېسبوک ته سر ورښکاره کړ، نګين دا ځل د خپل ماشومتوب عکس پورته کړی و، تورو غټو سترګو يې له همغه ماشومتوبه خوند ورسره کاوه، ويښتان يې لنډ ول، خو بد نه ورسره ښکاره کېدل، سرو جامو کې د يوې شنې غټې ونې لاندې ولاړه ده او له خندا شنه پاتې ده.

هر چا خپله څرګندونه پرې کړې وه، ډېرو کسانو خوښ کړی و، ما هم خوښ کړ، خو په څرګندونه کې فکر يوورم، څه مې ورته ليکلي وای؟ اخر مې دا لنډه کرښه ورته وکښله: (د توصيف لپاره دې هېڅ توري نشم موندلی، جوړه دې نه وينم).

همدا توري مې په ليکخونه کې هم ورته وليکل:

دقيقه به نه وه وتلې، چې ځواب يې راغی:

- مننه کوم، هيلمنه يم، چې بيا مې عکس خپور نکړې، ګنې نه دې بخښنم.

خبرې يې زور راکړ، خو ورته ملامت وم، په زغرده مې څه نشوی ويلی.

ومې ليکل:

- لطفاً! نور دا پيغور مه راکوه.
- سمه ده، هڅه کوم چې له ذهنه مې پاک کړم.

په همدې کې زما انټرنټ پرې شو، له غوصې نه مې مېز په سوک وواهه، د مېز درب سره د همکارانو سترګې رابرګې شوې، ذکي نه د مجلې ډيزاين پاتې شو، هره دقيقه به يې يو ځل سترګې ماته را اړولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر مازیګره مې د انتظار خوند وکوت، خو انټرنټ جوړ نشو، رخصتي شوه، ایله چې له کمپیوټر نه د لېرې کېدو پلمه راپیدا شوه او پاڅېدم.

*****

پوره یوه اونۍ وتلې وه، بیخي فېسبوک بد راته ښکارېد، هغه فېسبوک ته نه راتله او زه اندیښنو پر سر اخیستی وم. موبایل یې هم زنګ نه تېراوه.

دوشنبه وه نن، څه باندې لس بجې به وې، چې راښکاره شوه، سم له واره راباندې اختر شو، له خوشحالۍ نه مې سلام پرېښود، ورته ومې لیکل:

- نګین، زما خو له خفګانه زړه په چاودېدو دی، ته چېرته وې.
- ولې؟
- دا څو ورځې نه ښکاریدلې، خیریت و؟
- هو ولا، اوس فېسبوک ته کمه راځم، همداسې ښه نه ده؟
- څه ستونزه لرې؟
- نه، دا څو ورځې رخصتیانې دي، کور کې ګڼه ګوڼه ډېره ده.
- د څه رخصتیانې؟
- د پیغمبر، امام حسن او اما رضا د رحلت ورځې دي کنه، ولې تاسې په دې ورځو کې رخصتۍ نه لرئ؟
- نه، موږ یوازې د پیغمبر د میلاد ورځ لرو.

سمدستي یې وپوښتل:

- تاسې عزاداري کوئ؟
- نه، موږ په دې ورځو کې روژه نیسو، صدقه ورکوو، هغسې یې نه نمانځو لکه تاسو.
- یعنې بیا هم موږ پوره نه منئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې ولیکل:

- تاسو یوازې د عاشورا ماسپښین منئ، د رسول رحلت خو نه منئ کنه؟

په چورت کې یې بوتلم، رښتیا هم د حضرت محمدص د رحلت ورځ خو دلته نه نمانځل کیږي، خاص ځواب مې نه ورته درلود. خو بیا هم ونه ځنډیدم، ورته ومې ولیکل:

- هو، خو کله چې موږ اولین او اخرین پیغمبر وایوو، عقیده مو همدا ده، چې بل پیغمبر نه راځي، همغه یوه د میلاد ورځ یې غوره ده، چې ونمانځل شي، وفات ته یې له همدې امله موږ دومره پام نه کوو.

ویې لیکل:

- درویشه، بده ونه منې، زه خوشحالیږم چې په دې اړه پوهه شم، خو ته نه غواړې څه ووایې، ولې؟
- درته ومې ویل کنه، آیا نور هم څه پاتې دي؟
- نه، ګوره کنه، موږ د خپل دین هر څه په ښکاره بیانوو، خو تاسې یې نه وایئ.

خندا راغله، خو اوس مې زړه ورسره نښتی و، ډېر جدي بحث ته مې زړه نه ښه کاوه، وېرېدم چې رانه خفه نشي.

ورته ومې لیکل:

- نګین! موږ په هغو شیانو هم عقیده لرو، چې تا یې یادونه وکړه، خو یوازې په طریقه کې یې توپیر دی.

بې ځنده یې بل پیغام راغی:

- درویشه، دا بحث مې خوښیږي، غواړم ستاسو د مذهب په اړه لنډ لنډ معلومات راکړې، مهرباني به دې وي، فقط غواړم پوهه شم، بس.

ځواب مې ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د اسلام دين خو لکه د نورو اديانو په شان نه دی، دا خو لوی دين دی، د څه په اړه معلومات؟
- همدا چي د شيعه او سني اختلافات څه وخت او پر څه پيل شول.
- سمه ده، په سترګو.
- ډېره مننه، ګرانه دوسته.
- هيله کوم.

د غرمې ډوډۍ تیاره وه، خاله دسترخوان راووړ، نور نو کومه موضوع هم په ذهن کې نه راګرځېدله، ما ويل راځه دا ځل زه د تلو اجازه ترې واخلم، ورته ومې ليکل:

- نګين، زموږ غرمنۍ تياره ده.
- نوش جان يې کړه.
- نه راسره ميلمه کيږې؟

په خندا يې کړل راته:

- هههههه مننه، بل وخت ته دې پاتې وي، ښه اشتها ولرې.

*****

يوازې د نګين پر ليکنه مې يوه لنډه خرګندونه ورکړه، نور برابر ليکخونې ته لاړم، هغه هم لکه ماته چې په تمه وې، بې ځنډه يې زما سلام ته عليک وويل، ورپسې يې ولیکل:

- مننه چې زما په مطالبو باندې نظر ورکوې.
- هيله کوم، ستا مطالب ښکلي دي.
- مننه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما سره تازه کومه موضوع نه وه، هغه هم لږ وځنډېدله، شاید هغې هم موضوع لټوله. خو ډېر وخت یې ونه نیو، د لیکلو نښانه یې راښکاره شوه، پیغام یې راغی:

- رښتیا، زما اوستا بحث څنګه شو؟
- همدا اوس.
- نو څه وخت، لکه چې پلان ورته جوړوې که څنګه؟
- ههههه، نه هغسې نه، ما ویل یوه مکمله ورځ به پرې وغږېږو، اوس خو هسې هم وخت کم دی.
- پروا نه لري، چې هر څومره وشو، نور به بلې ورځې ته پاتې شي.
- سمه ده، خو ګوره زه ملا نه یم، ټول معلومات نشم درکولی.
- دا شیان ملا نه غواړي، زما په نظر انسان باید دومره پوه شي، چې قرآن کې څه لیکلي او مفهوم یې څه دی.

پخه خبره یې وکړه، خوند یې راکړ:

- هو، ته ښه وایې، خو زما هدف دا دی، چې له ټولو دلایلو سره یې نشم تشریح کولی.
- سمه ده، هر څومره چې پوهېږې، همغه ووایه!
- سمه ده.
- هو، یو تر بله بحث نه کوو، پوه شوې، یوازې معلومات ورکوو.
- بلکل.

درې غټې مسألې مې په ذهن کې وې، همغه مې په نوبت ورته را واخستې:

- ګوره! یوه د صیغې مسأله ده، موږ یې حرامه ګڼو، خو تاسو یې حلاله.
- ښه.
- بله، په اوداسه کې د پښو وینځلو مسأله ده، تاسو یې مسح فرض ګڼئ او موږ یې وینځل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو.
- او دریمه، تاسو اصحابانو ته احترام نلرئ او کنځاوې ورته کوئ، خو مورږ بالعکس، هغوی ته ډېر درناوی لرو.

لنډ پیغام یې راکړ:

- ښه نور؟

دا وخت یوه بله مسأله را په یاد شوه:

- رښتیا، شیعه ګان د وحی نزول پر حضرت محمد^ص^ باندې تیروتنه ګڼي، هغوی وایي، چې باید پر حضرت علي^رض^ باندې نازل شوې وای، په دې کې جبراییل تېر وتلی. دا مسأله هم مورږ ناسمه بولو.

سمدستي یې ځواب راغی:

- نه، دا خبره نه منم، شیعه ګان حضرت علي د امام په نوم پېژني، دا ټول دروغ دي، هسې شیعه ته نسبت ورکول کیږي.
- ښه د نورو په اړه؟
- صبر کوه، درته وایم.

زه تم شوم، د هغې د لیکلو نښانه ښکاریدله، وروسته یې ځواب راښکاره شو:

- شیعه ځکه اصحابان نه مني، کله چې پیغمبر وفات شو یا ان چې لا ژوندی و، دوی پخپله ګټه ټول مسایل تحریفول او د پیغمبر کورنۍ سره یې زیاتی کاوه.
- کومو اصحابو؟
- یو یې عمر درته یادوم، کله به چې هغه ته په کوم کار کې ستونزه پیدا شوه، نو له علي به یې مرسته غوښته، چې د هغه حق یې ضایع کاوه، ان ځینې وخت به یې هغه په کور کښېناوه.

ورته ومې لیکل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- يعنې د علي پر سر عمر له اسلامه وځي؟

ځواب يې رانکړ، ور زياته مې کړه:

- رښتيا عمر خو د علي زوم و، فکر نه کوم چې علي به ورسره مخالفت درلود.
- ته خو غوړ شه!

لاسونه مې ليکدړې نه لېرې کړل، لږ وروسته يې پيغام راښکاره شو:

- هغه به په خپله خوله ويل، چې علي تر ما غوره دی، بايد حق يې ورکړ شي، خو دنيا يې چې سترګې ورپټې کړې وې، هغه ته به يې بيا حق نه ورکاوه.
- ښه د صيغې په اړه؟
- هو.

زياته يې کړه:

- دا خو منځ چې د پيغمبر او امامانو په وخت کې ډېرې ښځې بې سرپرسته وې، د جنګ له امله، دا چې فساد ونکړي صيغه ورته روا شوه. اوس زيات نارينه پخپله ګټه دا کار کوي، چې ښه نه کوي، خو په قرآن کې دا آيت شته.

ځواب مې ورکړ:

- هو منم يې، دا آيت شته.
- فکر کوم، د مومنون يا نور سوره ده.
- سمه ده، خو هغه آيت منسوخ شوی.
- نه درويشه، هېڅکله آيت نه منسوخېږي، يوازې په مختلفو وختونو کې يې تفسير فرق کوي، وګوره! يو ځای په قران کې راغلي، چې که مېرمنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مو ستاسو نافرماني کوله، ان کولی شئ، هغوی په کوټک ووهئ، خو اوس هغه زمانه بدله شوې ده.

زه غلی وم، د هغې لیکلو دوام درلود، وروسته یې پاتې خبرې راښکاره شوې:

- او دا د بشري حقونو جز دی، هېڅوک حق نلري چې ښځې وځوروي، خو اوس هم ځینې پېښې په دنیا کې شته، ان په اروپا یا نورو هېوادونو کې.

زه د هغې تعبیر ته په چورت کې لاړم، هغسې چې ما باور درلود، قانع نشوم، لا هم غلی وم، چې بل پیغام یې راغی:

- رښتیا د اوداسه په اړه! فکر کوم د توبې سوره ده، خدای په قران کې په ښکاره ویلي، چې پر سر او پښو مسح وکړئ.

زیاته یې کړه:

- خو دا دومره غټ اختلافات نه دي، مهمه خبره دا ده، چې ځینې سنیان شیعه ګان کافران بولي، دا ولې؟

ماته خو داسې ښکاره شوه، چې بحث یې د همدې خبرې لپاره خوښاوه او ایله اوس یې د خپل زړه خبره راته وکړه، خو ما نه غوښتل په دې اړه یې ورسره وغځوم، بس همدومره مې ورته ولیکل:

- د نورو په اړه زه څه نشم ویلی، هر څوک د خپل نظر مسوول دی، شاید دغسې هم نه وي.

- ولې شیعه وژنه د زماني دود ګرځیدلې، ولې؟ آیا زموږ پیغمبر یو نه دی؟

پوه شوم، چې احساساتي شوه، ورسره اوږده مې نکړه، ښه وه د رخصتۍ وخت هم را لنډ شوی و، ورته ومې لیکل:

- نګین، د رخصتۍ وخت دی، دفتر بندیږي، نور دې سبا ته پاتې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له لږ غلي پاتې کېدو وروسته يې ځواب راکړ:

- سمه ده، د ځان مواظب اوسه.

*****

نن زړه نازړه وم، ما ویل که فیسبوک راخلاص کړم، بیا بحث راسره کوي. حیران پاتې وم؛ دلته زما زړه نه صبرېد او هلته هغه د بحث لپاره په تمه وه.

لږ مې ځان وغولاوه، خو دومره د ټینګې نر نه وم، طاقت مې ونشو، فیسبوک ته ورننوتم.

د فیسبوک راته نا آشنا ښکاره شوه، فارمټ يې بدل شوی و، بیخي بل رقم و، بریښېده چې په هر څه کې یې بدلون راوستی و، ځینو یې په اړه پستونه (ځروني) هم کړي ول.

نګین لا نه ښکارېدله، ما یو پارسي شعر وځړاوه، یو دوه دقیقې به وتلې وې، چې لمړی ځل نګین خوښ کړ، ورپسې یې پیغام هم راغی:

- ګرانه یوه خبره مې درته کوله!

ترې ومې پوښتل:

- کومه خبره؟

- عقیدوي بحث نور نه کوو، عیسی په خپل دین او موسی پخپل دین، سمه ده!

ما هم دا ساعت له خدایه غوښت، ورته ومې لیکل:

- زما د زړه خبره دې وکړه، ډېر ورته په اندیښنه کې وم.

- د څه اندیښنه؟

- ما ویل تر منځ مو خفګان راپیدا نکړي.

- نه نه، زه خو داسې څه نه وینم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زياته يې کړه:

- رښتيا زه نن يو چېرته ځم، لمړی فېسبوک ته راغلم، ما ويل تا خبر کړم.
- ډېره مننه.

ترې ومې پوښتل:

- ودې نه ويل، چېرته؟
- د کور لپاره سودا اخلم، بيا د يو ناروغ پوښتنې ته ځم.
- څو بجې ځې؟

د پوښتنې په ډول يې بېرته راته وليکل:

- بجې؟؟

حيران شوم، چې اوس بجې ته په پارسي کې څه وايي، مترادفه کلمه مې ورته ونه موندله، ومې ليکل:

- يعني څه وخت ځې، اوس ځې که وروسته؟
- بس لږ وروسته تيارېږم، ځم.

زه تم شوم، هغې ليکل کول، وروسته يې پيغام راښکاره شو:

- ځينې کلمې ډېرې سختې وايې، هيڅ نه ورباندې پوهېږم.
- وبخښه نو، ايراني کلماتو سره بلد نه يم.

ويې ليکل:

- ما ته ځير کيږه، زده کوې يې.
- سمه ده، خو په کوچنيو تيروتنو پسې مه گرځه.
- نه نه، همغه ورو ورو غتيږي، مهمې کوچنۍ دي.
- سمه ده، خو زه خوښيږم چې زما غلطۍ ونيسې.
- وگوره، گناه دې خپله ده، خوښيږم نه، خوشحاليږم وايه، څو ځله مې درته وويل، اما ته له خپلې ښوونکې سره ضد کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هههههه.
- خندا يې هم درلوده؟

نوبت يې رانکړ، بيا يې وليکل:

- ښه نو زه درنه ځم.

د هغې پخپله اصطلاح مې ورته وليکل:

- د ځان مواظبه اوسيږه.
- ته هم، د الله پامان.

*****

چهارشنبه وه نن، کمپيوټر مې روښانه کړ، انټرنټ کار نه کاوه، سر مې لا نه و راپورته کړی، د امين الله غږ شو:

- مدير صيب، نيټ خراب دی.

څه به مې ويل، زما په لاس کې نه و، ګڼې يوه شېبه به هم نه و رانه خراب شوی. لس بجې شوې، لا يې هم څرک ونه لګېد، زړه کې مې ويل خدايکه جوړ شي. غرمه شوه، ډوډی مې وخوړله، نن مې له چټ نه تمه وشکېده، پاڅېدم مانځه ته لاړم، بېرته راغلم، خو پر خپله څوکۍ مې ناستې ته زړه ونه شو، د مېز څنګ ته پر کاوچ کښيناستم، د ځان سره مې وويل:

- نن لکه چې انټرنټ جوړ نشو.

ذکي مخ راواړاوه:

- جوړ شوی.
- څه وخت؟
- ته چې مانځه ته لاړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوچته پاڅېدم، مخپاک مې لا همغسې پر اوږه پروت و، کمپیوټر ته کېناستم، نګین یو اوږد نظم رالیږلی و، ښکلی و، لوی مفهوم پکې نغښتی و، له شیطانت او غیر انسانیت نه پکې شکایت شوی و.

کتل مې چې پیغام یې رانبکاره شو:

- شعر دې ولوست؟
- هو، ډېر ښکلی دی.
- پر خپله پانه یې وځړوه، خوشحالېږم.
- همدا اوس؟
- هو نو، که دې خوښه نه وي، زه یې پسټ کوم.
- سمه ده، زه یې پسټ کوم.

شعر مې وځړاوه، تر ټولو وراندې همدې خوښ کړ، خپله څرګندونه یې هم وربانديې ورکړله.

شېبه وروسته یې راته ولیکل:

- درویښه، نور په شیعه او سني پسې نه ګرځو، زه او ته مسلمانان یوو او بله دا چې انسانیت مهم دی.

زیاته یې کړه:

- دا هر څه د قدرت لپاره جنګ دی، خلک پکې وژني، اصل خدای دی، چې موږ ټول یې منو، جنت او دوزخ د هغه په واک کې دي، چې هر چاته یې ورکوي اختیار لري.
- هو، ګرانې همداسې ده، منم یې.
- خوشحاله یم ګرانه، چې راسره موافق یې.
- هیله کوم.

هغه وځندېدله، ورته ومې لیکل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نګین شعر دې ډېر ښکلی دی.
- زما نه دی، هو، د ایران حالت پکې ښه انځور شوی.
- د افغانستان هم.
- شاید.

موضوع یې واړوله، رانه ویې پوښتل:

- رښتیا هغه کتاب دې پیدا کړ؟ همغه تا چې ویل رومان.
- نه ولا، دلته مې پیدا نکړ، هغه سړی مې تر اوسه نه دی لیدلی.
- ښه ته اوس ماته یو رومان ووایه!

ومې لیکل:

- سم یې نه پېژنم، پارسي رومانونه مې نه دي لوستي، ما ویل که ته یې راوښیې.
- سمه ده.

زه تم شوم، د هغې د لیکلو نښانه ښکارېدله، پیغام یې راغی:

- درویشه، د پسټ بکس پته دې راته ووایه!
- څه یې کوې.
- هسې ما ویل، که ماته موقع پیدا شوه، زه یې دراستوم.
- نه ګرانې، زما مقصد دا نه و.

وځنډېدله، ما هم څه ونه لیکل، وروسته یې پیغام راښکاره شو:

- زه یې هم همدا نن نه درلېږم، ته دې پسټ بکس ووایه!
- اوه، نګین ته هم.
- راته ویې لیکه، بیا خفه کیږم درنه.
- ښه ده- ښه ده، لږ صبر وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ځانګړی پسټ بکس نه درلود، دومره بلد هم نه وم، حیران دې ته وم، چې له چانه پوښتنه وکړم، انډیوالان مې هم تر ما نابلده ول.

پر امین الله مې غږ وکړ:

- امین الله، دفتر د پسټ بکس پته لري؟

ورو د ځان سره وبونګېد، مخ یې راواړاوه:

- د مطبوعاتو جمال یې لکه چې مسوول دی، خطونه متونه خو هغه ته راځي.

اوچته پاڅېدم، جمال ته ورغلم، رښتیانی همغه یې مسوول و، د پسټ بکس پته مې ځنې واخیسته، بېرته په منډه راغلم، د نګین څو پیغامونه سر پر سر راغلي ول:

- درویشه، څه شوې؟ - لاړې - ولې ځواب نه راکوې؟

ورته ومې لیکل:

- وبخښنه، پته مې ایله راپیدا کړه.

- ښه راته وېې لیکه!

پته مې ورته ولیکله، ورپسې مې وریاده کړه:

- زه خپل پسټ بکس نه لرم، دا د دفتر دی، یوازې د تلیفون شمېره زما ده.

- سمه ده بابا وپوهېدم.

*****

نن یې یو اوږد غزل خپور کړی و، د حافظ غزل و، یوازې خوښ مې کړ، څرګندونې ته مې خوښه ونه شوه، لیکخونې ته لاړم، هغه لا نه وه راغلې، خو لنډ پیغام یې راته پرېښی و:

- درویشه، ستا خپل عکس مې تر اوسه نه دی لیدلی.

ځواب مې ورنکړ، د خپلو عکسونو فولډر ته لاړم، تېر کال مې په ژمي کې څو عکسونه اخستي ول، یو مې پکې خوښ کړ، سپینې جامې مې د واورې بکګرونډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ورته وېږ، یوازې تورې کورتۍ او د سر تورو وېښتانو مې ورسره توپير درلود، نور لکه په سپينه واوره کې چې ورک وم؛ د واورې غړوسکې هم ښکارېدلې، چې کښته راروانې دي، بد عکس نه و، لږ مې خندلي هم ول، په څنګ ولاړ وم، پوره تنه مې پکې راغلې وه، همغه مې غوره کړ او ور ومې ستاوه.

ښايسته څنډ وتلی و، وروسته په غوږۍ کې د پيغام غږ شو، ژر فېسبوک ته شوم، د نګين و، ليکلي يې ول:

- ښايسته ځوان يې، خپل دې دی.

ومې ليکل:

- هو، نور نو شک له زړه وباسه.
- سمه ده، ډير عالي عکس دی، رښتيا کابل کې واوره شوې؟
- نه، دا مې پروسږن دی.
- ښه ښه.

بيا يې وليکل:

- د دراوزې زنګ دی، بېرته ژر راځم.

څنډ ووت، راښکاره نشوه، د کمپيوټر غوږۍ مې بېرته پر غوږو ونښلوله، تاند وېب پاڼې ته لاړم، د ښاغلي اسدالله غضنفر مقاله مې لوستله، د (ښکلا مرموز کيفيت) په نوم. مقاله لږ پاتې وه، چې د پيغام غږ مې واورېد، مقاله جالبه وه، په پای کې مې نيمګړې نشوی پرېښوولی؛ بيا د پيغام کړنګ شو، خو اوس يې د پايلې مفهوم ته رسېدلی وم، دوه وروستۍ کرښې يې پاتې وې، فېسبوک ته لاړم.

دريم پيغام يې هم راغی:

- درويشه ته چېرته يې؟

ورته ومې ليکل:

- دا دی راغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويې خندل:

- هههههه، څراغ دې روښانه و، ما ويل وې به.
- رښتيا هم دلته وم، يوه مقاله مې لوستله، پام مې نه و.

ورزياته مې کړه:

- شعر دې ښکلی و، ومې لوست.
- مننه، د حافظ دی.
- ښه د حافظ دی.

ورته ومې ليکل:

- رښتيا د حافظ په اړه يو څه را ياد شول.
- څه؟
- ته به نه يې خبره، دلته اوس هم د جماتونو په تدريسي نصاب کې د حافظ کتاب شامل دی.
- وي به، رښتيا هم.
- اوس هم زموږ زياتره سپينږيري د حافظ شعرونه په يادو وايي، ان د دين يوه برخه يې ګڼي.

هغې وليکل:

- خو ايرانيان يې ډېر نه خوښوي، متاسفانه زياترو ته هيڅ ارزښت نلري. ايرانيان دومره شاعران لري، چې دا پکې هېڅ دی.

زما په هدف پوهه نشوه، ورته ومې ليکل:

- نګين، ما ويل، آيا دا پر افغانستان باندې فرهنګي تيری نه دی؟
- ولې نه دی، عربانو چې هېواد ونيو، خلکو ته نور هېڅ شي ارزښت نه درلود، هر يو په خپل غم کې شو.

زه يې ليکلو ته پرې نښودم، زياته يې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- درويشه، پرېږده دا خبرې، په تيرو پسې سر مه خوږوه، نرۍ مخکې ځي، نور شاته کتل نه دي په کار.
- ښه نو ته ووايه!
- اوس نه، لږ وروسته يو ځای ته بيا ځم، کېدی شي، سبا ته هم رانشم.
- چېرته؟
- خور مې ناروغه ده، هغې ته ورځم. که سبا ته رانغلم، انديښنه ونکړې.
- ښه ده چې ودې ويل، رښتيا مې هم انديښنه کوله.
- نه نو، نوره انديښنه له زړه وباسه.

ويې پوښتل:

- درويشه، ځو ايرانۍ ملګرې لرې، رښتيا به راته وايې؟
- څه ډول ملګرې، يوازې د چټ او که تولې؟
- هو، هم د چټ او هم تولې عادي.
- يوه ده، هغه نګين نوميږي، په چټ کې ورسره ملګري کوم، نورې تر اوسه پوره نه پيژنم، يوازې د عکسونو له مخې مې په نخښنه کړې دي.

وځنډېدله، خو ډېره نه، وروسته يې پيغام راښکاره شو:

- ښه، ټول څومره ايراني ملګري لرې، ۳۰ که ۱۰۰ که ....؟؟
- يوازې يو څو محدود ملګري دي، ټول شايد ۲۰ تنه وي.
- پوهيږې، زما ملګري زياتره ښځې دي، چې ځينو سره ته هم ملګرې يې، ځکه مې وپوښتل.
- هو، هغو رانه د ملګرتيا غوښتنه کړې، ما يې هم غوښتنه منلې ده.
- سمه ده، زه کوم اعتراض نه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*****

پرونۍ ورځ ډېره په سختۍ تېره شوه، تر مازیگره پورې دفتر راته بد ښکارېد، سم لکه یو شی مې چې ورک کړی وي. نن مې په شنه سهار فېسبوک خلاص کړ، نگین نه وه، خو زړه مې نه و، چې بېرته ووځم، هسې هم په انتظار عادت شوی وم.

شعبه تشه توره وه، همکاران مې یو هم نه و راغلی، پرون مې یو څو تصویري سندرې ډاونلوډ کړې وې، ما ویل راځه هغه وگورم. غوږې مې پر غوږونو ونښلاوه، پلې (چالانه) مې کړلې.

یو وخت په غوږي کې د پیغام غږ شو، ژر فېسبوک ته شوم، نگین وه:

- درویشه سلام، فېسبوک کې یې؟

ورته ومې لیکل:

- هو، یوازې ستا په تمه.
- مننه.

زیاته یې کړه:

- پرون لاړم، تا ته مې کتاب واخیست، درته پسته مې هم کړ.
- اوه گرانې، ما نه غوښتل تا په زحمت کړم.
- رښتیا هغه کتاب چې ما ښودلی و، هغه نه دی، دا مې بل درواستاوه.
- غټ زحمت دې ویستلی ولا.
- اوه، زه او ته دوستان یوو، په دې کې بیا زحمت له کومه شو.
- ډېره مننه.

غږ یې راباندې وکړ:

- خو درویشه!
- بلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پرون سخته خفه شوم.
- ولې په څه؟
- پرون هلته پسته خانه کې ستا هېوادوال هم ول، پوهېږې څه یې راته ویل؟
- څه؟
- هر چا یو- یوه خبره کوله، یوه ویل: څه کوې طالبانو ته پست استوې، ومې ویل نه، هغه یو لیکوال دی، په وطن مین انسان دی، بل ویل: ولې دلته خوک نه و، ایله په افغانستان کې، بل به له خندا شین شو.

زیاته یې کړه:

- درویشه، ډېر بد خلک لرئ، په خدای چې ډېر بد ملت یاستئ.

په تشه خندا مې ځواب ورکړ:

- ههههه.
- خانده مه، باور وکړه د خپلو پلرونو او نیکونو نومونه یې هم زده نه ول.
- داسې څنګه کیدی شي؟
- ګوره کنه، د پسته خانې مامور ترې پوښتنه کوله، دوی هر یو یې وچه خوله پاتې کېدل، نه پوهېږم چې زده یې نه ول، که یې نه درلودل.

ورته ومې لیکل:

- آیا هغوی رښتیانی افغانان ول؟
- هو نو، زه دروغ درته وایم؟

ما بیا د خندا په نخښه د هههههه توري ورته کېښودل. هغه تم نشوه، بې ځنډه یې ځواب راکړ:

- په خدای د ژړا ځای دی، نه د خندا.
- نګین، ما خو ډېر مخکې درته ویلي ول، موږ سره د وطن مینه نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو والله.

زياته يې کړه:

- خو ته ښه انسان يې، ته تر نورو بېل يې، باور وکړه.
- مننه ګرانې، بيا هم زحمت دې ډېر وبخښه.
- نه کنه، په دوستۍ کې زحمت هېڅ معنا نه لري.

*****

نن يې بل تصوير ځړولی و، خپل يې نه و، پردی و. له جامو او شاوخوا څيزونو ورباندې پوه شوم، چې شاهانه او پخوانی راته ښکاره شو، نازکه ښايسته ښځه وه، شا ته يې دېوال باندې د سرو او سپينو زرو رنګارنګ شيان راځړېدل، د غټې تورې څوکۍ تر شا ولاړه وه او نرۍ موسکا يې داسې پر شونډو برېښېده، لکه عادت يې چې وي.

تصوير مې خوښ کړ، ورپسې يې دوه نورې ليکنې هم پورته کړې وې، خو ما هغه ونشوې لوستی، امين الله مخامخ راته ودرېد، ګڼ کاغذونه يې راته ونيول.

فېسبوک مې پرېښود، ترې ومې پوښتل:

- دا څه دي؟
- مجله ده.
- نوې ګڼه؟
- هو، ويې ګوره، دا ځل بيخي تازه موضوعات دي.
- سمه ده.

لږ لږ مې د مجلې پاڼې واړولې، همداسې پر مېز مې کېښوده، زه اوس ډېر بې مسووليته شوی وم، د دفتر کار ته مې زياته توجه نه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله کله به له ځانه وشرمېدم، چې سرېیه بده خبره ده، اخر دا خپل معاش خو باید ځانته حلال کړم.

خو چا ته وایې! بېخي لکه معتاد داسې وم، بېرته فېسبوک ته شوم، نګین راغلې وه، سلام مې ور واستاوه. شېبه پس یې ځواب راغی:

- علیکم سلام، ښه یې.
- شکر دی، ستا څال دی؟
- د الله فضل دی.

زه تم شوم، هغې بیا راته ولیکل:

- درویشه، عکس دې ولید، هغه د ایران ملکه وه، د لومړي پاچا ښځه او د مصر د پاچا لور.
- ښه ښه دا هغه وه، د شاه ښځه.
- هو د محمد رضا شاه ښځه، اولاد یې نه کېده، طلاق یې کړه، ګنې ډېره ورباندې ګرانه وه.
- نو ولې یې طلاق کړه؟
- خو درته ومې ویل.

زما په مطلب پوهه نشوه، ورزیاته مې کړه:

- پوه شوم، خو بله ښځه به یې کړې وه، نو ولې طلاق.
- نوره نه پوهېږم، وروسته یې فرح سره واده وکړ او له هغې نه یې څلور اولادونه راوړل، دوه زامن او دوه لورګانې.
- ښه نو دا ښځه بیا څنګه شوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- انګلستان ته لاړه، هلته يې واده وکړ، خو چې کله دلته په ايران کې وه، سخته ناروغه شوه، فکر کوم د مالت[1] تبې ونيوله، له هغې وروسته يې د بې اولادۍ ستونزه پيدا کړه، ګني په رضا شاه باندې ډېره ګرانه وه.
- ښه ښه، اوس پوه شوم.

دا وخت يوه پوښتنه پر زړه راوګرځېده، ونه ځنډېدم، ژر مې ورته مخکې کېښوده:

- نګين هدف مې بحث نه دی، بس يوه پوښتنه کوم.
- وکړه!
- د ايران خلک په يو وخت کې له يوې نه زياتو ښځو سره واده کولی شي؟

ويې ليکل:

- هو، که د چا اقتصادي وضعه ښه وي، کولی شي.
- يعنې ستاسو په مذهب او قانون کې شته.
- هو ولې نه، چې د دواړو خواوو رضايت وي، د نورو يې څه.
- پوه شوم، مننه.

راته يې وليکل:

- درويشه پوهېږې؟
- له څه نه؟
- کومې ليکنې مې چې پورته کړې، خلک اوس د هغو علت رانه پوښتي.

ما يې ليکنې نه وې لوستې، دامين الله له امله رانه پاتې شوې. هغه مې ونه پوهوله چې ما نه دي لوستلې، ورته ومې ليکل:

- ښه نو تا څه ورته وويل؟
- همدا اوس اخته يم، ځوابونه ورکوم.

[1] مالت: د وزې له شيدو اخستل شوې تبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هغوی څه وايي؟

وځنډېدله، وروسته يې د ليکلو نښانه راښکاره شوه، پيغام يې راغی:

- فکر کوم، د غم او ښادۍ احساس هم له دې لارې ليږدول کيږي.راته وايي، چې ولې غمجنه يې، څه خبره ده او...؟

- رښتيا هم د احساساتو درک ښه کيږي.

ورزياته مې کړه:

- خو يوه خبره ده، زياتره خلک د بل له زړه نه له شيطانته پوهيږي، نه له صداقته.

- يعني حسونه دروغ شوي؟

- شايد، اوس زياتره خلک هر څه ته له منفي اړخه ګوري.

- رښتيا ده ولا، زه هم همداسې فکر کوم.

ورته ومې ليکل:

- ګنې څه اړتيا ده، چې نور خلک په دې اړه پوښتنې وکړي، ستونزه يې څه ده؟

لږ وځنډېدله، وروسته يې ځواب راکړ:

- وبخښه، راباندې راډېر شول، د چټ خراغ مې ګول کړ.

ورپسې يې وخندل:

- ههههه ښه، يعني ته په دې پوښتنو خفه کيږې، اوس پوهه شوم، ډېر حسود يې.

ماته هم خندا راغله، خو لا هم ويرېدم، يوازې همدومره مې ورته وليکل:

- په نورو کارونو کې حسود نه يم.

- ودې ليدل، ستا حس مې هم معلوم کړ، زما په نسبت حساس يې.

هغې بيا ليکل کول، زه تم شوم، وروسته يې پيغام راغی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- گرانه، د وره زنگ دی، گورم چې څوک دی.
- ښه ده، ورشه.

*****

نن یې د فیسبوک پر پاڼه څه نه و ځړولي، یوازې د لیکخونې پر سمبول باندې سره شمېره ښکارېدله، پوهېدم چې د هغې پیغام دی، ځکه له نورو سره مې ډېر سروکار نه درلود.

لیکخونه مې خلاصه کړه، راته لیکلي یې ول:

- عطر تو این هوا را پر کرده --- این هوا آن هوای سابق نیست.

بیا یې لیکلي ول:

- د یراحي سندره ده.

ورته ومې لیکل:

- سندره مې نه ده اورېدلې، خو شعر ډېر عالي دی.
- درویشه، ډېر عاشقانه شعرونه وایي، مهدي یراحي نومیږي.

د هغې د عشق خبرې ته مې زړه وتخنېد، درزا یې زیاته شوه، مستقیم یې هېڅ داسې کومه خبره راته نه وه کړې، خو زړه دی نو؛ خوشې په خوشې یې د خوشحالۍ احساس کاوه.

ما ویل راځه همدا یې ښه وخت دی، بل وخت خدای زده کله پر لاس راځي، ترې ومې پوښتل:

- نګین، کله هم په خپل ژوند کې عاشقه شوې یې؟

بې ځنډه یې ولیکل:

- هو څو ځله، مینه مې ډېره خوښیږي.
- نه، داسې مینه چې د هېریدو نه وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو کنه، کله کله مې پر زړه هم راوګرځي.

خبره یې وغځوله:

- درویشه، پوهیږې، نارینه تل په خپل غم کې وي، خو ښځې بیا داسې نه دي، هر ډول سختي ګالي خو دهوکه نه کوي.
- لکه چې ښه دردېدلې یې.
- رښتیا وایم، ناځوانه دي.
- ټول به دغسې نه وي ګوره.

ویې لیکل:

- ښه، ته راته ووایه!

یو ځل مې ویل راځه ورته ولیکم، چې زه پر تا رښتیانی عاشق یم، بیا مې ویل، نه، خفه به شي، خدایکه یې بیا پخلا کړی شم.

بل پیغام یې راغی:

- درویشه، څه شوې؟
- همدلته یم.
- ښه نو ووایه، ته عاشق شوی یې.

ځواب مې ورکړ:

- هو، دوه ځله.

ورزیاته مې کړه:

- خو دواړو ډېر دوام ونکړ.
- ولې؟
- زما د پلار راسره خوښه نه وه، دلته خو مینه عیب دی، خلک وربانديې شرمېږي.
- ډېر افسوس کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره يې وغځوله:

- ما هم يو زلمي سره دوه کاله مينه وکړه، هغه مې ډېر خوښېد، بيخي ډېر، زما مور هم راضي نه وه، خو يوه ورځ مې له څو نورو ښځو سره وليد، له همغه وخته مو بيا اړيکه پرې شوه.

ترې ومې پوښتل:

- ښه اوس څه فکر کوې؟
- د څه په اړه؟
- د عاشقۍ په اړه.
- يعنې بيا عاشقه شم.
- نو څه کيږي؟

غلې شوه، ما هم څه ونه ليکل، وروسته يې پيغام راښکاره شو:

- عشق ښه دی کنه؟
- هو نو، همدا عشق دی چې ژوند دی.

دا وخت مې خپل موبايل ته پام شو، پرون يو چا ډير ښه پيغام را استولی و، تول څلور کرښې و، خو د اوسنۍ موضوع سره يې سر خوړ، همغه پيغام مې ورته راواخيست:

- گل ته مې وويل: عشق څه دی؟ ويې ويل: تر ما ښايسته، پتنگ ته مې وويل: عشق څه دی؟ ويې ويل: تر ما ښکلی، شمعې ته مې وويل: عشق څه دی؟، ويې ويل: تر ما سوځوونکی، عشق ته مې وويل: آخر ته څه يې؟ ويې ويل: فقط يو نظر.

سمدستي يې پيغام راکړ:

- ښه اوس يې له کوم ځايه پيل کړم، يعنې يو نظر کافي دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پوهیږې، د مینې په کتو کې خومره رازونه دي، له عاشق پرته بل څوک نه وربانديې پوهیږي.

وځندېدله، غوښتل مې بیا یوځه ورته ولیکم، خو کاته مې چې لیکنه یې راښکاره شوه:

- نه، نه پوهېږم.

زیاته یې کړه:

- زما لپاره مینه دوه اړخیزه پُل دی، چې یو لوری یې د مینې دی او بل یې د مهربانی.

- منم یې، خو بیا هم کتو ته اړتیا شته.

- په هغسې مینه زه باور نه لرم.

- نګین، ډېر پخوا دا ویل شوي چې مینه ژوند دی.

ونه ځندېدله:

- ودې لیدل، عشق تر کتو سخت دی، کتل خو په منډه تیریږي.

- خو چې کتل نه وي، د هېڅ شي خوند نه وي، نه د عشق، نه د ښایست او نه د ژوند.

- سمه ده، بیا نو زما او ستا نظر همدلته سره بېلېږي.

وارخطا شوم، فکر مې کاوه خفه شوه، غږ مې پرې وکړ:

- نګین!!

- درویشه نه یې منم.

- وګوره! زه څه درته وایم.

- نه نه، نور بحث نه کوو، ستا نظر د هندي فلمونو په شان دی.

ووېرېدم، ما ویل لکه چې بیا مې کار وران کړ، ورته ومې لیکل:

- خفه شوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب يې رانغی، بيا مې غږ مې پرې وکړ:

- نګين، زما خبره خو واوره.
- وايه.
- ته خو ګوره زه څه درته وايم!
- ولې زه ستا دوسته نه يم، که يوازې خبرې کوو، بس.

اوچته لکه له خوبه چې راويښ شم، خو زه سادګۍ لا هم وېرېدم، ما ويل خدای زده، له دې خبرې به يې مطلب څه وي، بابېزه مې وګڼله، ورته ومې ليکل:

- نګين، پوهېږم، خو ته ماته اجازه راکړه.
- ښه وايه، زه په تمه يم.

ورته ومې ليکل:

- په غوصه کېږه مه نو؟
- زما غوصه څه کوې، وايه.
- نه، نه يې وايم، وېرېږم.
- ووايه ژر کوه!

نور مې ځان ورسره بند نکړ، ورته ومې ليکل:

- ښه ده، درته وايم يې.

خو بيا مې هم جرأت نشوی کولی، غوصې يې دوه زړې کړی وم، په چورت کې يې بوتلم، چې بيا يې پيغام راغی:

- درويشه ووايه کنه، ژر کوه!
- ښه دا دی ليکم يې، لږ خو صبر کوه.

د زړه درزا مې وار په وار زياتېدله، خو نور نه شوای تم کېدلی، ورته ومې ليکل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ګوره که ما لیدل نشوای کولی، ته به مې څنګه درک کړې وې، څنګه به مې ستا خبرې لوستې وې؟ که ما ستا تصویر نه وای لیدلی، چا به راته راښودلې وې، چې ته دومره ښکلې یې؟ ځکه مې زړه....

بې ځنډه یې وپوښتل:

- زړه دې څنګه؟؟

نور مې په زړه کې خبره نه تم کېدله او نه مې هم پر لیکدړه باندې ګوتې ټینګېدلې، لاسونه مې رېږدېدل، بل پیغام یې راغی:

- درویشه! خدای ته وګوره، ولې زړه دې؟

نور مې صبر ونه شوی کړی، بې باکه مې ورته ولیکل:

- زړه مې رښتیانی درباندې بایللی، ځکه خو یې اوس نشم درنه صبرولی.

- واااای خدایه.

بیا یې ولیکل:

- وای درویشه، زړه مې وښوېد، ته رښتیا وایې؟

- باور وکړه، نه مې ورځ ورځ ده، نه مې شپه شپه.

نور مې څه نشوی لیکلی، ټول بدن مې لړزې نیولی و، هغه هم لږ ځنډېدلې وه، خو ډېره نه، وروسته یې پیغام راښکاره شو:

- درویشه، یعنې ته...

زیاته یې کړه:

- یعنې ته رښتیانی راباندې عاشق یې؟

همدومره مې ورته ولیکل:

- هو، ګرانې، له همغه اوله.

- وای خدایه، درویشه رښتیا وواېه.

احساسات مې ورته د (م) توري په ټینګولو سره وښودل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- رښتيا وايمممممممممممممم.

ځواب يې راغی:

- ټول بدن مې ريږدي، زما هېڅ باور نه راځي. دا ته څه وايې؟

لا هم زه وارخطا وم، لا هم وېرېدم، دا اظهار راته ښه ښکاره نشو، ما ويل لکه چې خبره خرابه شوه، ژر مې ليکدړې ته ګوتې ور تيرې کړلې، زړه مې هم نه و، خو له ناچارۍ مې ورته وليکل:

- ما وبخښه، که زما په خبره خفه شوي يې.

همدې سره يې پيغام راغی:

- ته څه وايې، دا اوس واقعيت دی که ټوکې کوې؟

په دوو کې يې حيران کړم، نه مې هو ويلی شوی او نه هم نه، تېره تجربه را په ياد شوه، ښه اوس څه ورته ووايم؟ په همدې کې وم، چې بيا يې جدي وليکل:

- درويشه! دا خبره دې اتکلي وکړه، که رښتيا هم راباندې عاشق يې، د خدای لپاره مه مې ځوروه؟

نور نو څه پاتې نه ول، چې ترې پټه يې کړم، هغې د ټينګار لپاره دا خبره راباندې تکراروله، ګنې له وړاندې هم پوهېدله، چې زه ورباندې مېين يم. ښه په زغرده مې ورته وليکل:

- هو، زه درباندې عاشق يممممم، ټوکه موکه نه ده، واقعيت دی!

همدې سره له فېسبوکه ووتله، خدای خبر زما رنګ به څه ډول شوی و، وار له واره مې ستونی رابند شو، غږ مې له خولې څخه نه راخوت، له همکارانو مې حيا کوله، ګنې همدلته مې خپل سر ته سوکان وېستل، ځان به مې ښه ريشخند کړی و.

بله چاره نه وه، ليکخونې ته ونښتم، يو په بل پسې مې پيغامونه ور سر کړل.

راښکاره نه شوه، خو اوس مې زړه چېرته صبرېد، شاته مې ډېه ووهله، نور مې هېڅ نه کول، کرار ناست وم، يوازې دواړه سترګې مې فېسبوک ته پاتې وې، بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دقيقې به وتلې، چې بېرته راښکاره شوه، سم له واره يې په ليکخونه کې ليکل پيل شول، پيغام يې راغی:

- درويشه، کمپيوټر مې نږدې مات شوی و، وغورځېد.

غټه ساه مې واخيسته، ستونی مې واز شو.

کاته مې چې بيا يې وليکل:

- ښه شوه روغ دی، ته مه خفه کېږه، هېڅ خبره نشته.

ځواب مې ورکړ:

- ستا پر ځای ستا کمپيوټر اغېزمن شو.
- نه ګرانه، دا اوس هم زما ټول بدن رېږدي.

زياته يې کړه:

- واقعاً ډېره راته سخته ده. درويشه، ګوره زه هم.
- ته هم څنګه؟

ويې ليکل:

- تيرې دوه ورځې رخصتۍ کې چې نه وې، باور وکړه، هېڅ فېسبوک خوند نه راکاوه، ډېر مې زړه غوښتل درسره خبرې وکړم، خو ته نه وې.

ورته ومې ليکل:

- ګرانې همدا هغه احساس دی، چې زه يې ستا پر وړاندې له اوله لرم.

ويې ليکل:

- يعنې زه هم درباندې عاشقه يم.
- هو، خو ته يې د ويلو جرات نه لرې.
- درويشه، هېڅ باور نشم کولی.

هغې خپلې خبرې ژوولې، خو اوس زما احساساتو هر څه رانه هېر کړي ول، بيا مې ورته وليکل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- گرانې، زه درباندې عاشق يم، يوازې ستا عاشق!

نوبت مې ورنکړ، ورزياته مې کړه:

- نگين، ته هم راته ووايه نو!

- څه؟

- همدا چې راباندې عاشقه يې!

راته ويې ليکل:

- درويشه! محمد رښتيا راته ويلي ول.

حيران شوم چې محمد بيا دلته له کومه شو، دا څوک دی؟

ترې ومې پوښتل:

- څوک يادوې؟

- همغه محمد يادوم، چې زما په اړه درسره غږېدلی و.

را په ياد شو، همغه چې د دې د عکسو لېږي کېدو لپاره راسره غږېدلی و، ورته ومې ليکل:

- ښه، هغه څه ويل؟

- ويل يې چې ته رانه لاس ناخلې، هېڅ دليل نه منې او يوازې ما غواړې.

ځانته مې وکتل، خندا راغله، وروسته مې ځواب ورکړ:

- هو نو دروغ خو مې نه دي ويلي.

- ځکه خو ما هم همغه وخت خپل ضد پرېښود.

سر مې خلاص شو، پوه شوم چې زه يې همغه وخت درک کړی يم، ما يې په زړه کې ځای نيولی، خو سادگي هم اندازه لري، لا تر اوسه مې د ويرې له لاسه کرښې په احتياط ورته کښلې.

اوس نو د هغې دې خبرې سره لا پسې رند شوم، ورته ومې ليکل:

- گرانې، اوس خو راته ووايه چې راباندې عاشقه يې، لطفاً!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اوه ګرانه، کلماتو سره به لوبې وشي، زه او ته ډېر سره لیرې یوو، کله امکان لري.

ورته کړل مې:

- مینه فاصلې لندوي، اندېښنه مه کوه، ووایه نو!

بلاخره یې کلماتو سره لوبې وکړې:

- دربانديې عاشقه یمه، درویش جانه زړه ته مې راننوتی یې، ربښتیانی راباندې ګران یې، واقعاً دربانديې عاشقه یم.

*****

نږدې غرمه وه، منډوې کې مې ځانته کورتۍ اخیسته، موبایل ته مې زنګ راغی، شمېره ناآشنا وه، هوکې مې کړ، له هغه اړخه غږ راغی:

- سلام، جمال یم، له مخابراتو نه ستا په نوم یو څه راغلي، وایخلم که خپله راځې؟

- نه وروره، زه دفتر کې نه یم، ته یې واخله!

- سمه ده.

ماسپښنین دفتر ته راغلم، برابر جمال ته ورروختم، د توربخن میز شاته ناست و، کمپیوټر ته یې سترګې پاتې وې، زه مخامخ ورته ودرېدم، زما په لیدو یې د مېز روک کش کړ، یوه وړه ټوټه کاغذ یې راوویست، راته ویې نیو.

ما ورته وخندل:

- یوازې همدا؟

د هغه تور نرې بریتونه په خندا کاږه شول:

- نه، مرکزي پسته خانې ته ورشه، هاغه مخابراتو کې چې ده، هلته خپل امانت واخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې پلمه مې ځان وپوهاوه، ګنې په رښتیا هم لاره چاره یې نه وه رامعلومه، لمړی ځل و، چې ماته پسته راغلی و، هغه هم له بهر نه.

خبره مې په ټوکه واړوله:

- عجب خلک دي، چې دا یې راوور، خو هغه به یې هم راوړی و.

د هغه بریتونه بیا په خندا کاره شول، پنډې متې یې سره وروستلې، شاته یې تکیه وکړه، زه ترې راووتم.

*****

د مامورانو رخصتۍ ته نیم ساعت پاتې و، د مرکزي پسته خانې پر لوی وره ورننوتم، ښۍ خوا ته د معلوماتو دفتر ته ودرېدم، پر سپین مېز باندې غټ کمپیوټر ایښی و، د مامور پوره مخ نه ښکاره کېده، یوازې دوه سترګې یې ښکاریدلې، د ښیښې سوري ته مې خوله ورنژدې کړه، له سلام وروسته مې وپوښتل:

- ماته له بهره یو پسته راغلی، چېرته؟

هغه په خبره کې را ولوېد:

- وروره، دا د لېږلو څانګه ده.

لاس یې کیڼ لوري ته کوږ کړ، ویې ویل:

- هاغسې شاته را تاو شه، بستې هلته راځي.

هلمته ورغلم، تر ما مخکې هلته یو بل تن ولاړ و، اوږد سړی و، په ډېر تکلیف یې د هغې خونې سوړې ته ځان کروپ کړی و، لږ وروسته یې په شنه پلاستیک کې پیچلی خپل امانت واخیست، د سوړې مخه یې راته پرېښوده.

د مسوول کس خېټه په یخنکاک کې په تنګ ښکارېده، تنۍ یې ډېرې سره کش کړې وې، له قوارې تریخ سړی برېښېد، خو غږ یې ښځې ته ورته و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سر کې يې تذکره رانه وغوښته، د هغې له مخې يې يوه پاڼه ډکه کړه، وروسته يې زما مخې ته د لاسليک لپاره کېښوده، لاس مې وردننه کړ او لاسليک مې کړه.

لږ وړاندې مې سترګې ولګېدې، بل مامور خورا ډنګر و، توري نرۍ متې يې ښورولې، ما ويل حق به يې دا چاغ ملګری ترې خوري، خو هغسې نه وه، پخپل اټکل کې دروغجن شوم، هغه سګرټي و، له جيبه يې د سګرټو ډبې راوويست، يو دانه يې په وچو تورو شونډو کې ونيو او ډبې يې بېرته جېب ته وغورځاوه.

د هغه په لاس کې غټه چاړه وه، ماته يې په کتو کې غږ وکړ:

- وروره! دلته دې پام وي، زه ستا بسته خلاصوم.
- ولې؟

سړي ژر له غوټې نه چاړه لېرې کړه، په تريو تندي يې شونډې وښورېدې:

- درويشت کاله دلته يم، تر اوسه مې د چا امانت نه دی خيانت کړی.
- نه هغسې مې نه ويل.
- بيا نو اندېښنه مه کوه، هره اداره خپل مقررات لري، موږ له ځانه هېڅ نه کوو.

نور مې هېڅ ونه ويل، يوازې ځير وم ورته. مامور چاړه پرې ورکېښوده، د ژيړ ډبل کاغذ يوه خوا يې ټوله ور څيرې کړه، يوازې يو کتاب يې ترې راوويست، لاندې نور څه نه ښکارېدل. د کتاب له منځه يې د ليک يو پاکټ راوويست، هغه يې پر مېز کېښود، وروسته يې د کتاب پاڼو ته د لاس غټه ګوته برابره کړه، له يوه سره يې ټولې بلې خوا ته وشړلې، د کتاب پوښتنې ته يې وکتل، پر خپل همکار يې غږ وکړ:

- يوازې کتاب وليکه، داستان.

ورپسې يې يوه بله پاڼه هم راوړاندې کړه، دا ځل يې د يو سل اته ديرشو افغانيو غوښتنه وکړه، جېب ته مې لاس کړ، يو سل څلوېښت مې ورکړې، ايله چې امانت يې راته وسپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر هیجاني وم، تلوسې مې نور یو قدم هم وړاندې نه پرېښودم، همځته دهلیز کې شنه اوږده پلاستیکي څوکۍ ایښې وه، پر یو کونج یې کښیناستم، د پاکټ خوله مې پرانسته، کتاب مې را وویست، پنډ کتاب و، په غټو تورو وربانديې لیکلي ول: (همخونه). نور مې ونه کوت، ښنگ ته مې کېښود، د لیک پاکټ ته مې ډېره تلوسه وه، خلاص مې کړ، دننه یې ډبل کاغذ پروت و، د زړه په بڼه جوړ شوی و، همغسې تک سور رنگ یې هم و، بیخي ډېر په زړه پورې و راته.

په شنه قلم پکې کرښې کښل شوې وې، لمړی د یو شعر درې بیتونه ول، ډېر ښکلي، ورپسې یې خپل سلامونه او پېرزوینې ما او زما کورنۍ ته په خوږو الفاظو کې ډالۍ کړي ول.

وروستۍ دوه کرښې یې داسې وې: (ډېر دې نږدې احساسوم، ان بیخي ډېر، خو چې کله مې ځانته پام شي، ته رانه اوږدې فاصلې ډېر لېرې کړی یې. درویشه! همدا لکه چې مینه ده، البته زه نه پوهېږم) ستا دوسته نگین کاشاني.

لیک مې د کتاب په منځ کې کېښود، فکر یوورم، ځانته مې غوصه راتله، چې سرېیه ته لا څومره ساده یې!

خو ډېر ژر مې ببرته خپله سادگي هېره کړه، خوښې راباندې زوروره شوه، له خوشحالۍ نه مې زړه دننه سینه کې په الوتو شو، چټې به خندا راغله، بیا به مې شاوخوا ته وکتل، خو ښه وه، هلته نږدې څوک نه ښکارېدل.

*****

نن مې هم تر غرمې پورې د دفتر مخ ونه لید، پر لاره وځنډېدم، نږدې ماسپښین مهال و، شعبې ته راغلم، کمپیوټر ته کښېناستم، درې پیغامونه راته راغلي ول، درېواړه پیغامونه د هغې ول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سلام درویشه، پرون ډېره درته په تمه شوم، رانغلې. چې ته روغ وې، خدای مکړه څه دربانديې شوي نه وي. موبایل دې هم کار نکوي، ولې؟

په همدې کې د هغې بل تازه پیغام راغی:

- درویښه، ډېره اندېښنه مې وه، ښه شوه چې راغلې.
- مننه ګرانې.
- د څه مننه؟

خندا راغله، د هغې بل پیغام راغی:

- درویښه، د څه مننه؟

ځواب مې ورکړ:

- ستا د لیک او کتاب.
- اوه خدایه، کتاب دررسېد.
- هو.
- زما لیک دې هم ولوست، څنګه دی خط مې؟

ورته ومې لیکل:

- ښکلی لیک او ښکلی خط.

د هغې د لیک وروستۍ جمله مې ورته ولیکله:

- البته همدا لکه چې مینه ده، خو زه نه پوهېږم، ستا دوسته نګین کاشاني.

لږ وځنډېدله، وروسته یې پیغام راغی:

- اوه درویښه، ته هم.

خبره یې وغځوله:

- پوهېږې، اوس دې نښم هیرولی، واقعاً دربانديې مینه یم.

ننۍ نیمه ورځ په خوږو خبرو بیخي بل ډول تېره شوه، هېڅ پرې پوه نشوم، یو وخت مې کتل چې شعبه کې یوازې زه پاتې یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*****

د سهار اته نیمې بجې وې، د پاسپورټ ریاست ته ننوتم، نهه بجې یې وعده وه، چې پاسپورټ به مې اخلم، خو د یو لاسلیک لپاره تر غرمې پاتې شوم. نور کسان هم ورته معطل ول. ډیر وږی شوی وم، سهار مې چای هم نه و خوړلی. د سړک پورې خوا برګر خرڅېد، خلک ډیر ورته ولاړ ول، ورغلم، په سره توکر کې ښایسته شوې ربړې (کراچۍ) ته ودرېدم، د دیرشو افغانیو برګر مې وغوښت. برګروال ښکته کتل، غږ یې وکړ:

- ښه ده، دغه درې جوړ شي.

ډېر ځنډ ونه ووت، وروسته یې زما هم راته جوړ کړ، هملته مې په ولاړې وخوړ، موړ شوم، وریسې مې یو ګیلاس اوبه هم پر سر واړولې.

ساعت ته مې وکتل، لا یوه بجه نه وه شوې، پاتې شل دقیقې مې نور هم د انتظار ځور ته ځان تینګ کړ.

یوه بجه شوه، دننه یې پرېښودو، خبر شوم چې پاسپورټونه تیار دي، له خوښۍ نه مې د انتظار ټوله ستوماني هېره شوه. په نوبت کې ودرېدم، ډیر شاته نه وم، لسم دولسم کس به وم، پاسپورټونه یې هم نه تالول، ژر ژر یې توزیع کول.

لږ ځنډ وروسته یې زما نوم واخیست، ور وړاندې شوم، پاسپورټ یې راکړ، څو ځله مې په لاسونو کې واړاوه، پردی یې نه و راکړی، خپل مې و، وروسته مې د کورتۍ په کیڼ جیب کې واچاو، راووتم.

دفتر ته راغلم، په شعبه کې چوپتیا خپره وه، ټولو خپلو کمپیوټرونو ته کتل، یوازې سلام مې ور واچاوه، نور لاړم خپل مېز ته ورتاو شوم.

د بل هېڅ کار غم نه و راسره، همدې ته خوشحاله وم، چې یوه ایرانۍ راباندې میینه ده او تر ما بل نیکبخته نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فېسبوک مې خلاص کړ، د هغې پيغامونه راغلي ول:

- درويشه! بيا څه شوې؟ هېڅ نه پوهېږم، خامخا څه خبره شته.

بيا يې ليکلي ول:

- دوه ورځې شوې، دا دی نن بيا هم رانغلې، چې کله نه راځې، ما ته له مخکې وايه.

رښتيا هم، ورته ملامت خو وم، ولې مې ترې پټوله؟ په اخر کې خو مې خامخا ورته ويل، نو بيا ولې اوس؟ راځه ورته ووايم.

ورته ومې ليکل:

- ګرانې، ايران ته درځم، د سفر ترتيبات نيسم.

ځواب ته يې تر مازيګره په تمه کښيناستم، خو هغه راښکاره نشوه، نور نو ناستې ته هم پلمه نه جوړېدله، رخصتي شوه، لاړم کور ته.

*****

يوه اونۍ ووته، له يوې خوا په منډو رامنډو او له بلې خوا نګين ته په پلمو ستړی شوی وم، نن هم يوه نيمه بجه به وه چې کمپيوټر ته کښيناستم.

فېسبوک مې خلاص کړ، ليکخونې ته مې لا پام نه و، چې د هغې پيغام راښکاره شو:

- درويشه! مره مې کړه، خو دروغ مه راته وايه.

پوه شوم، چې هغه نوره ستړې ده، ډېرې پلمې مې ورته وکړې؛ خو کاشکې هر څه زما پخپل واک کې وای، ګنې نن به سبا مې خبره نه ځنډوله.

ورته ومې ليکل:

- ولې ګرانې، زه دروغ درته وايم؟

- څه ووايم، زه خو بيخي نه پوهيږمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- گراني، يوازي دوه ورځې نورې هم لګيږي، ما وبخښه.

ځنډ يې ونکړ، په ليکلو بوخته شوه، وروسته يې پيغام راښکاره شو:

- د پاسپورټ خبره دې تمامه نه وه، د ويزې رابرسېره شوه، اخر دا څنګه دولت دی؟

- که زما په اختيار کې وای، اوس به وختي ايران کې وم.

- همدغه خو زه هم وايم، سمدستي ستا راتګ ته ضرورت څه و، شايد ډير لګښت هم درباندې راشي.

- دا خبره بيا له کومه شوه؟

بې ځنډه يې وليکل:

- ماته همدا کافي ده چې فيسبوک کې راسره واوسې.

- نګين، زما ګناه نه ده، دلته په ادارو کې ډېرې ستونزې دي.

- څه ډول ستونزې؟

- همدا چې پيسې دې ورکړې، کار دې کيږي، که نه نو ځنډوي يې.

ويې پوښتل:

- رشوت غواړي؟

- هو، خلک ايران ته زيات ځي، ځکه نو دا ستونزې شته.

- زموږ سفارت هم دا کار کوي؟

هېڅ پکې ټکنی نه شوم، ورته ومې ليکل:

- ولې ستاسو سفارت کې فرښتې دي.

هغې وخندل، ما ورزياته کړه:

- نګين، ته مه خفه کيږه، موږ ورسره عادت يوو، اوس کار په خلاصېدو دی.

ويې پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- درویشه، ته هم رشوت ورکوې؟
- هو نو، چې مجبور شم، بیا خو چاره نشته، باید ورېې کړم.
- یعني په ګناه کې ته هم شریک یې؟

ورته ومې خندل، خو په دغسې وخت کې یې ځنډ نه وېست، سمدستي یې پیغام راغی:

- خانده مه، د افسوس ځای دی.

بیا یې راته ولیکل:

- درویښه، ما وبخښه! رښتیا ته به حتماً نن ستړی شوی یې، مامورانو به ځورولی یې، ما هم خدایزده څه درته وویل.
- هیله کوم، ښه دې وویل.
- ښه نو اوس به کور ته ځې، د رخصتۍ وخت دې را لنډ شوی.
- هو، لږ ورسته ځم.
- ګرانه د ځان مواظب اوسه، په ګڼه ګوڼه مه ورځه!
- سمه ده ګرانې.

*****

ایله چې نن مې زړه ولګېد، تېرې دوه ورځې راباندې بېخي سختې تېرې شوې، نن لس بجې یې سفارت ته غوښتی وم، زه نیم ساعت مخکې هلته حاضر شوم. کم وخت پاتې و، په لین کې ودرېدم، خلک ډیر ولاړ ول، لسو نه خبره واوښته، نږدې یوولس بجې وې، چې نوبت راغی. وروړاندې شوم، زما د نوم په اخیستو یې پاسپورټ راته ونیو، ژر مې وکوت، ویزه یې پکې لګولې وه، بېرته مې قات کړ، جیب کې مې کېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحالي مې نوره په زړه کې نشوی ځایولی، هېڅوک مې هلته ونه موند، چې د خوښۍ ډک زړه مې ورته تش کړی وای.
همغسې له لارې نه شار نو (شهر نو) ته لاړم، اباسین هوایي شرکت ته تېر کال خپل ملګري سره تللی وم، نن بیا ورغلم، خو دا ځل د خپل ځان لپاره.
په همغه ځای کې و، انصاري څلور لارې ته لنډ د قبلې خوا ته. د اریانا افغان الوتکې ټکټ یې راکړ، سبا نه بل سبا ته د چهارشنبې په ورځ یې الوت و، یوه نیمه بجه.
له شرکت نه راووتم، اوس سوغات ته په چورت کې وم، څه ورته واخلم؟ غوښتل مې داسې یو څه وي، چې ډېر ارزښت ولري.
د ټکسي ارن شو، مخ مې ورواړاوه، په ځراغونو یې د تلو اشاره راته وکړه، ما هم ژر لاس ورته وښواراوه، راته ودرېد، پکې وختم.
پر لاره مې چورت واهه، چې افغانۍ جامې را په یاد شوې، لاسي ګنډل شوې جامې، ما ویل خامخا یې خوښیږي، زما خو ډېرې خوښې دي، پر همدې باندې د ځان سره صلاح شوم.
ده افغانان کې له موټر نه ښکته شوم، ورو- ورو تیمورشاهي ته وخوځېدم، لړزانک پله باندې ډېر وخت نه وم تېر شوی، ما وېل تر پښو لاندې به مې همغسې لکه پخوا لړزه وکړي، خو نه، اوس یې پر فلزي پایو کلک کړی و.
له سړک نه پورې وتم، توبه! هلته لا څومره ډېر بیروبار دی. مخامخ مارکېټ ته ننوتم، د اول منزل دکانونو کې یوازې همدا افغاني جامې وې، څو دکانونه مې ولټول، پنځم دکان کې مې یوه توره جوړه خوښه شوه، ډېره ښایسته ګنډل شوې وه، ښکلی ګنډ، په شنه خامک کې پټې شوې ښیښې، ډېر ښایسته کمیس و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه زره او پنځه سوه افغانۍ یې راته بیه کړ، دوکاندار سپینږیری و، وچ ډنګر سړی، خو ډیر سخت و. چنې مې ډیرې ورسره ووهلې، ایله مې دوه ویشت سوه ترې واخیست او همغسې کور ته راغلم.

*****

بیخي بل ډول احساس مې کاوه، لمړی ځل و، چې الوتکې ته مې پر لومړۍ زینه باندې پښه کېښوده، فکر مې کاوه چې ټول به ما پسې راګوري، د زینو سر ته وختم، ژر مې شا ته وکتل، هېڅ خبره نه وه، هر سړی پخپله سودا کې ورک و، زه چا څه کولم، هسې خپل وهم پر سر اخیستی وم.

د الوت وخت ته لس دقیقې پاتې وې، نګین ته مې زنګ وواهه، موبایل مې غوږ ته نیولی و، چې له هغه اړخه نازک غږ شو:

- هلو.
- هلو نګین، زه یم، درویش.
- هو پوهه شوم، چې خیریت وي، ویلي خو دې نه ول، چې زنګ وهې.

له خوشحالۍ نه بیخي وارخطا وم، ورته کړل مې:

- یو زیری مې دربانديې کاوه.
- د څه زیری؟
- همدا اوس الوتکه کې ناست یم، شیبه وروسته درروانېږم.

غږ یې اوږد شو:

- وای خدایه! درویشه ربښتیا وایې؟ زه یې نشم منلی.
- هو ګرانې، بس څو دقیقې وروسته در په هوا کیږم.
- څو ساعتو کې را رسیږې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمړی ځل مې و، نه پوهېدم څو ساعته نیسي، په څنګ کې مې څوک ناست هم نه و، هسې اټکلي مې له خولې ورته ووتل:

- شاید درې ساعته ونیسي.
- درویشه ته رښتیانی راځې؟
- هو نو ګرانې.
- وای خدایه!

غلې شوه، ژر یې بیا غږ وکړ:

- ای، اول دې لږ ځوروم، چې خفه نشې سمه ده.

حیران یې کړم:

- څنګه مې ځوروې؟
- څه یې کوې، چې کله راغلې بیا یې وینې.

ورته ومې خندل، د هغې غږ هم نرم شو، ویې ویل:

- ښه ده ګرانه، زه اوس تیاری نیسم، بدرګې ته دې په هوایي میدان کې په تمه یم.
- نه، ته مه راځه، پته راسره ده، پخپله دې پیدا کوم.
- کله دغسې کېدی شي.

غږ مې پرې وکړ:

- نګین!
- اورم.
- ډېره مینه درسره لرم.

ورو یې وویل:

- زه هم ګرانه.

دواړه غلي شوو، خو هغې دا چوپتیا اوږدېدو ته پرې نښوده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- درويشه!
- بلې، اورم.
- بلاخره زه او ته يو بل وينو.
- هو ګرانې، ان شأ الله.

راته کړل يې:

- ډېره قوي اراده لرې، راباندې ګران يې، بېخي ډېر.
- ته هم.
- ښه نو، ټليفون دې بند کړه، ايله تياری ونيسم.
- سمه ده، د خدای پامان.
- د خدای پامان، پخير راشې.

*****

الوتکه په هوا شوه، ځای ځای مې غرونه ليدل، هغه هم په شپه کې له سترګو پناه شول، وروسته ناڅاپه الوتکې ټکان وخوړ، زه وارخطا شوم، په زوره مې خيرالله کړل. څنګ کې مې سپين ږيری ناست و، غږ يې وکړ:

- مه وارخطا کېږه، طياره په وريځو کې همداسې کوي.

ما هېڅ ونه ويل، لږ وروسته بيا د سپينږيري نرم غږ په غوږ رانئوت:

- دا دې اول وار دی؟
- هو.
- چېرته ځې؟
- ايران ته.

ورو يې وخندل:

- پوهېږم چې ايران ته ځې، کوم ښار ته يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړي ته البته ساده ښکاره شوم، خبره مې په ټوکه واړوله:

- ښه ښه، ما خی ویل څو هېوادونو ته به ځي.

دواړو وخندل، له خندا وروسته لږ چوپتیا خپره شوه، خو ډېره نه، سپین ږیري وپوښتل:

- ښه، چېرته روان يې د خيره؟
- تهران ته.
- څه کار کوې؟
- هېڅ، د یو دوست لیدو ته ورځم.

سړي د پوښتني په ډول راوکتل، خو غږ يې ونکړ. دواړه بیا تر ډېره پورې چوپ پاتې شوو، کله کله مې د سترګو له کونجو ورکتل، خو هغه شاته تکیه کړې وه، سترګې يې پورته رڼې پاتې وې.

دا ځل ما د پوښتني جرأت وکړ:

- حاجي صیب، ته چېرته ځې؟

په نهیلۍ يې خوله چوله کړه:

- تهران ته، دري کاله کيږي چې ځم او راځم، زوی مې هلته بندي دی.
- ولې؟
- یاره، چې مړ وای، خو پخپل وطن کې؛ نه په هغه شوم ایران کې. پوهېږې! د کال درې ځله ځم او راځم.

ترې ومې پوښتل:

- ولې بندي دی؟

سړی غلی و، ښایسته څنډ وروسته يې ځواب ته سر راپورته کړ:

- څه به يې درنه پټوم، د پوډرو تجارت يې کاوه.
- څو کاله قید يې ختلی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



غمجنه نرۍ موسکا یې پر شونډو ښکاره شوه:

- قاچاقبران په ایران کې غرغره کوي، قید مید نشته هلته.
- نو دی څنګه...

په خبره کې راولوېد:

- درې لکه ډالر مې ولګېدل، ایله یې په عمري قید بندي کړ، ګني وختي به یې اعدام کړی و.

د سپین ږیري سترګو کې اوښکې تم نشوې، پر مخ یې ښکته راوبهېدې، ژړغونی غږ ترې راوخوت:

- ډېره دنیا لرم، زوی مې هم ډېرې ګټلې، څه به یې کړم، اوس همدا ټوله دنیا ایرانیو ته ورکوم، خو زوی مې نه خوشې کوي.

غټه ساه یې واخیسته، وروسته یې پاتې خبرې ته شونډې ورټولې کړې:

- وروړکه، همدا یو زوی مې دی، هغه هم.

سپینږیري خپله ژړا ټینګه نشوه کړی، خپل سپین دسمال یې سترګو ته ونیو.

زما چورت هم خراب شو، د ښیښې خوا ته مې مخ واړاوه، نور مې خبرو ته پلمه نشوی جوړولی، یو وخت مې کتل چې هغه ویده دی.

*****

له الوتکې راکښته شوم، پورته مې وکتل، اسمان همغه و، خو لاندې زمکه بیخي بدله وه، فضا بدله او ان احساس مې ورسره بدل غوندې و.

د دهلیز پر دروازه ورننوتم، اوږد ښایسته دهلیز و، وراندې لاړم، لوی صالون ته ورننوتم، یوې غاړې ته د مامورینو ځای و، خلک همله ورتلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپین مېز تر شا په تور حجاب کې پوښلې سپینه تنکۍ نجلۍ ولاړه وه، خندل یې نه، خو سلوک یې بد نه و، مسافر نه ځنې خفه کېدل. مخامخ ورته ودرېدم، پر مېز باندې ایښې تلیفون ته مې اشاره وکړه، ومې ویل:

- وبخښئ، اجازه ده یو زنګ ووهم؟

ژر یې پر تلیفون لاس ورکېښود:

- داخلي که خارجي؟

- نه نه، داخلي.

تلیفون یې راوړاندې کړ، وروسته یې یوه ګوته جیګه ونیوله:

- فقط یوه دقیقه!

سر مې ورته وښوراوه:

- سمه ده.

درې ځلې مې د نګین شمېره ډایله کړله، خو اړیکه ټینګه نشوه، تلیفون مې بېرته خپل ځای ته ورټېله کړ.

د دخولۍ کار مې خلاص شو، سپین سري مامور پاسپورټ راته ونیو، په یوه مننه ویلو مې هغوی دواړه خوشحاله کړل، ترې روان شوم.

اندیښنه مې شوه، نورو مسافرو ته خپلوان او دوستان راغلي ول، یوازې زه پکې لکه بې موره وری، په تش میدان مې سترګې وارخطا- وارخطا اړولې.

ډېر مې یوې خوا بلې خوا ته، ځان جیګ جیګ کړ، ما ویل که مې چیرته ووینې، خو نه ما څوک د هغې په څېره ولیدله او نه پر ما باندې چا غږ وکړ.

د هغې خبره را په یاد شوه، ما ویل حتماً یې لیدل یم، خو هسې مې ځوروي. کیدی شي اوس راپیدا شي. خو نشوه پیدا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندېښنه مې هم په ذهن کې غتېدله، چې ولې رانغله، موبايل يې ولې کار نکوي او... بيخي ډېر په تمه پاتې شوم، ناوخته کېدله، ما ويل راځه خو انسان دی، څه ستونزه به ورپيدا شوي وي.

بهر راووتم، ورو ورو مې د سړک غاړې ته ځان ورسوست، مخامخ يو ټکسي ولاړ و، ډنگر ځوان يې شترنگ ته ناست و، پاسنۍ شونډه يې په برېتو پټه وه، د هوايي ډگر لارې ته يې سترگې راپاتې وې.

وړاندې ورغلم، له سلام وروسته مې ورته وويل:

- ايران شهر ته ځم.

شونډې يې چوله شوې:

- ټول ايران شهر ته، که کوم خاص ځای لري؟

نوره پته رانه هېره شوه، پر جېب مې گوتې ننويستې، وړوکی کاغذ مې راوويست، پته مې پکې تياره ليکلې وه، ټکسيوان ته مې ونيو.

د کاغذ په ليدو يې دروازه خلاصه کړه، راکښېناسته شو، زما بيک يې د موټر ډاله کې کېښود، په راگرځېدو کې يې لنډه ساه واخيسته، ويې ويل:

- اوه، څومره درونډ و، ښاغليه! لکه چې اکسيجن پکې و.

خندا راغله، هغه تر ما تېر شو، غږ يې وکړ:

- وخېژه، ځو د خيره.

پر لاره يې د موټر مخامخ هنداره برابره کړله، وړې توري سترگې يې پکې راښکاره شوې، کله کله به يې راباندې خنبې کړې.

عجيب او غريب حرکات يې درلودل، سندره يې زمزمه کوله، پر خپلو ويښتانو يې هم ډېر پام کاوه، هرې څو دقيقې وروسته به يې د ښي لاس گوتې پکې ورتېرولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د ښار سيل کاوه، بد ښار نه و، لوړې ودانۍ يې هم کمې نه وې، لوی سړکونه او په قانون برابر ترافيک، خوند يې راکړ، هملته هم د کابل ګډوډي را په ياد شوه، افسوس راغی.

د ټکسيوان غږ شو، مخامخ د سيټ هنداري ته مې وکتل، هغه په تېزه لهجه وغږېد، سم ورباندې ونه پوهېدم، د نه پوهېدو په معنا مې سر ورته وښوراوه، هغه وموسېد، وروسته يې ورو وويل:

- که عيب نه وي، يوه پوښتنه وکړم.
- مهرباني.
- د کوم وطن يې؟
- د افغانستان.

د سړي له سترګو سره وروځې پورته کاږه شول، غږ يې ونکړ، بېرته يې خپله زمزمه پيل کړه، خو ډېره يې ونه غځوله، غلی شو، وروسته يې يوه- يوه کلمه راواخيسته:

- ښاغليه، يوه ورځ رانه وتښتېدل، کرايه يې رانکړه، هغوی دواړه ستاسې افغانان ول.

دا خبره يې راباندې ښه ونه لګېده، ژر مې جيب ته لاس کړ، دوه پنځه سويزه مې ورته ونيول. پيسو ته يې وکتل، نوټونه نوي ول، په ګوتو کې يې وسولول، وروسته يې پوښتنې ته په هنداره کې سترګې راوړاولې:

- دا څه دي؟
- کرايه ده، زما او د هغو چې درنه تښتېدلي.

ويې خندل:

- هسې يوه خبره وه نو، ته پرې خفه شوې؟
- نه ولې خفه شم، ستا حق دی، دا دی درته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټکسیوان بیا پیسو ته وکتل، ویې نه پېژندلې، لکه نوې یې چې لیدلې وي. ورته کړل مې:

- افغانۍ دي، څه باندې یو لک تومان کیږي.

خوشحاله شو، پیسې یې پر جېب ومنډلې، وروسته یې وپوښتل:

- ښاغلیه! سوداګر یې؟

- نه.

لږ څنډ غلی و، بیا یې پوښتنه وکړه:

- همدلته کار کوې؟

- نه.

- کور دې دلته دی؟

- نه.

سړی حیران شو، هېڅ یې ونه ویل، ډېر څنډ پس یې بیا غږ را پورته شو:

- ښاغلیه، بیا نو خامخا چکر ته راغلی یې، زه درسره مرسته کولی شم، ښایسته- ښایسته ځایونو ته به دې بوځم.

ومې خندل:

- نه وروره، د یو دوست لیدو ته راغلی یم.

- یوازې لیدو ته؟

- هو.

- نر دی که ښځه؟

ډېر عجیب سړی و، عجیبې پوښتنې یې کولې.

بیا یې وویل:

- وبخښه، لکه چې تېروتنه مې وکړه، مطلب مې دا نه و، چې ته رانه خفه شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځان سره مې وویل، راځه ورته ووایم، لږ خو به یې پر زړه باندې اور بل شي.

خواب مې ورکړ:

- هیله کوم، زما یوه ایرانۍ دوسته ده، د هغې لیدو ته راغلی یم.

په ویښتانو کې یې ګوتې تیرې کړې، وره موسکا یې پر شونډو ښکاره شوه:

- بیا دې نو راتګ بې ځایه نه دی.

له یوې لنډې خندا سره مو تر منځ چوپتیا خپره شوه، خو ټکسیوان د عادت له مخې ډېر چوپ پاتې نه شو، ویې ویل:

- ښاغلیه، عجیبه دوستي ده، ته له بل هېواده ورته راغلې، خو هغه تر هوايي ډګره هم درته رانغله.

- نه پوهېږم، موبایل یې زنګ تېر نکړ، ګنې خامخا راتله، راته ویلي یې ول.

- ښه ووایم نو.

ټکسیوان مې خوښ شو، سپین سړی راته وایسېد، کرار- کرار مې خوله ورته سورې شوه، د نګین په اړه مې لنډ-لنډ ډېر څه له خولې ورته ووتل، سترګې یې ارګې پاتې شوې، حیرانۍ یې شونډې ورغوته کړلې، تر ډېره یې هېڅ ونه ویل.

ښایسته ځنډ ووت، وروسته موټر ودرېد، ښي لاس ته مې وکتل، سپینه لوړه ودانۍ ولاړه وه، ټکسیوان مخ راواړاوه:

- ښاغلیه بد سړی نه یې، که ما ته اړتیا لري مرسته درسره کولی شم.

- مننه.

کیڼ لوري یې ته لاس ونیو:

- هاغه لسم بلاک دی او هاغه وینې، هغه یې دروازه ده.

احساسات مې بل ډول شول، بدن مې ټول په ریږدېدو شو، د موټر دروازه مې خلاصه کړه ښکته شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټکسیوان تر شا غږ را وکړ:

- بیک دې هېر نشي!

هغه هم راکښته شو، د موټر پر بام يې څنګله کېښوده، ويې ويل:

- ښاغلیه، ګمان نه کوم، ته به هلته له چا نه پوښتنه کوې؟ ته پوهېږې، هغه یوه پردۍ ښځه ده!

ور وګرځېدم:

- ته ووایه، څه وکړم؟

هغه بلاک ته وکتل، بېرته يې مخ راواړاوه:

- هلته ګوره، څومره ډېر خلک راووتل.

رښتیا هم د بلاک دروازه کې ډله خلک راپیدا شول، ښځې پکې له تورې کارغۍ تاوېدلې.

د موټر د دراوزې کړپ شو، شاته مې وکتل، د شا دروازه يې خلاصه نیولې وه، ورو يې وویل:

- په موټر کې کښېنه! د پنځو دقیقو لپاره موټر درته سپارم.

- او ته؟

- اول باید زه ورشم.

په تلو کې يې بېرته مخ راواړاوه:

- رښتیا د هغې میرمنې نوم څه و؟

حیران يې کړم، ما ویل دا اوس څه کوي، بیا يې وپوښتل:

- ښاغلیه نوم يې څه و؟

- نګین کاشانې.

- اهه، په یاد مې شو، مننه.

دوه ګامه يې واخیستل، بیا راتاو شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بېغمه اوسه، يو ايراني نارينه دوست هم ومنه.

مازې مې شونډې په موسکا سره بېلې شوې، هغه روان شو، د بلاک تر دروازې مې د هغه شنه کورتۍ کې سترګې ښخې کړې وې، نور مې بيا ونه ليد.

ما شا ته سر کېښود، چورت کې لاړم، ذهن مې بيا د انديښنې سمندر ته ځان واچاوه، چې کابل کې مې څومره اسانه ګڼلې وه، دا موبايل يې ولې بند دی؟ ولې مې مخې ته رانغله؟ هغې راته ويلي هم ول او ...

خدايزده څومره وخت به وتلی و، چې د دراوزې کړپ شو، سر مې را پورته کړ، ټکسيوان پر خپله څوکۍ ناست و، مخ يې راواړاوه:

- ښاغليه، ډېر متاسف يم.

په وارخطايۍ مې وپوښتل:

- خيريت خو دی؟

- نه وروره، هغه رښتيا ستا بدرګې ته درغلې وه، خو.

په خبره کې ور ولوېدم:

- خو؟

غټه ساه يې واخيسته، زما پر زنګانه يې لاس راکېښود:

- ښاغليه، يوازې زه پوه شوم چې ستا مخې ته درغلې وه، خو ماته دغسې چا ونه ويل.

- نو څه شوه هغه؟

- د هوايي ميدان پر سړک ټکسي د لارۍ سره ټکر کړی، ټکسيوان او دا دواړه مړه دي.

غړي مې مړه پړه شول، زړه مې په ستوني کې لک ودرېد، غږ مې بند شو، هغه خبرې کولې، خو ما نه اورېدې، بيخي مې غوږونه ډب شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاوخوا مې سترګې واړولې، په شيبه کې هر څه راته پردي ښکاره شول، ايران بېرته راته همغسې شو، لکه پخوا مې چې ګاڼه. ځان راته پکې بد ښکاره شو، له ډېر خفګانه مې ژړا ورکه شوه، ټولې هيلې مې په همغې شېبه کې راټولې کړلې او د يوه لنډ اسويلي په تاو مې له منځه يووړې.

پر خپل زنګانه مې بيا د موټروان لاس وليد، غږ يې شو:

- ښاغليه! واقعاً زه هم خفه شوم، درک کومه دې.

سر مې ځوړند پاتې و، تر خولې مې بيا هم هېڅ راونوتل.

دا ځل يې په آمرانه ډول وويل:

- څه نو ورشه!

- چېرته؟

- کورته ورشه، يو ځل خو يې ووينه، خير دی که اوس مړه ده.

- خو.

زما په خبره کې را ولوېد:

- هاغه زلمی وينې! هغه شين کميسی.

ور ومې کتل، هغه زياته کړه:

- هاغه چې پر دروازه يې تکيه کړې، هغه يې زوی دی.

- څه، زوی يې دی؟

- هو، ولې ته نه يې خبر؟

- خبر يم.

- نو بيا!

هېڅ مې ونه ويل، ټکسيوان خپل تندی په سوک وواهه:

- اوه خدايه! ورشه نو، آخر دومره اوږد مزل دې کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زړه کې مې يو ډول وېره خپره شوه، خوشې رقم- رقم پوښتنې راته درېدلې، خو موټروان په کراره نه پرېښودم.

بیا یې غږ شو:

- ځنډ مه کوه، هغه هلک ستا په تمه ولاړ دی.

په هلک کې مې سترګې منډلې پاتې شوې، هلک تر ما هم دنګ و، حیرانۍ په مخه کړم، خو سړي صبر ونه کړ، تندي ته يې بيا ټک ورکړ، ویې ویل:

- او بابا، درځه! زه هم درسره ځم، هله نو.

له موټر نه ښکته شوم، هغه بیا خوله راوړاندې کړه:

- هلته ونه وایې، چې ته افغانی یې، نه به د هوايي ډګر نوم په خوله اخلې، سمه ده!

- ولې؟

- خطر درته پیښېدی شي، ته بس خپله خواخوږي وښیه، هغوی پخپل غم کې دي، تا نه پوښتنه نه کوي.

- خو.

په خبره کې راولوېد:

- خو، مه پکې وایه، ما هغوی ته ویلي چې ته د هغې همکار یې، بس.

زیاته یې کړه:

- زوی یې عصبي ناروغ دی، خاوند یې سرحد ته تللی، په پوځ کې دی، دا پخپله ماموره وه او یوه لور لري، هغه ماشومه ده.

ترې ومې پوښتل:

- ته څه یوه شوې؟

سړي وخندل، وروسته يې جیب ته لاس کړ، کارت یې راوویست:

- دا وګوره، زه جینايي مامور یم، هم ټکسي او هم دا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حیرانۍ نه مې سترګې رډې پاتې شوې، هغه ونه خندېد، ویې ویل:

- زه د هر ډول پوښتنې حق لرم، دا زما دنده ده.

زه غلی وم، هغه زیاته کړه:

- وبخښه، ما نه غوښتل تاته هرڅه ووایم، خو وشوه نو.

بیا هم چوپ پاتې وم، هغه وویل:

- ته مه وارخطا کېږه، ستا په زیان نه یم.

بیک مې واز کړ، په سره پلاستیک کې پېچلې سوغات مې را وویست، هغه تر مخه زه ورپسې، دواړه ورو ورو روان شوو.

د زلمي مخې ته ودرېدلو، هغه سر له ګرېوانه راپورته کړ، سترګې یې لکه سکروټې سرې اوښتې وې، زمونږ په لیدو دننه روان شو، بېرته یې شاته راوکتل، غږ یې وکړ:

- راځئ!

په زینو کې نږدې پوړ ته وختو، هلک مخامخ سپینه دروازه پورې وهله، لمړی خپله ننوت، ورپسې موټروان او بیا زه.

اوږده لویه کوټه وه، سور تابوت په منځ کې ایښی و، څو تنه ښځې ترې تاو وې، ژړل یې، هلک وراندې تېر شو، ټکسیوان د تابوت کیڼ لوري ته مخامخ ودرېد.

د تابوت سر خلاص و، ژړا راغله، اوښکې مې ونشوای درولی، پر مخ مې ښکته راوبهېدلې، د تابوت پر ژۍ مې لاس ورکېښود، ورته ځیر شوم، هغه رښتینې وه، ټولې خبرې یې راته رښتیا کړې وې، خو زما د باور ختېه خامه وه، ما نه ګڼله چې مېړوښه به وي، دروغ راته ښکارېدله.

د نګین څهره همغه وه، همغه چې ما په فیسبوک کې لیدله، یوازې د سرو شونډو رنګ یې بدل و، تکې سپینې اوښتې وې. رښتیا هم خلک ورباندې غولېدل، زه ملامت نه وم، داسې نه وه لکه څلوېښت کلنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅ باور مې نه راته، هغه زما مخې ته په تابوت کې مړه پرته وه، یو ساعت وړاندې مې دا حالت په چورت کې هم نه راګرځېد، په همدې کې وم، چې څنګه به ورسره مخامخ کیږم، هغه به څنګه ساعت وي.

نور نو د ناستو ښځو په سترګو کې پوښتنې اوښتې، زه وربانديې له ورایه پوهېدم، ښځو پوښتنه نه شوای رانه کولی او هلک خو خپل سادتوب بوخت ساتلی و.

هلته د هغوی تر منځ زه ډېر پردی وم، چې په دې باندې یوازې ټکسیوان پوهېد.

جامې په سره پلاستیک کې سوغات شوې وې، د نګین پر سینه مې ورکېښودې، نورو ټولو ته یو سور پلاستیکي پاکټ ښکاره شو، رنې رنې یې را وکتلې، خو چوپتیا هیچا ماته نکړه.

ټکسیوان د تلو اشاره راته وکړه، د هو په معنا مې سر ورته وښوراوه، هغه تر مخه زه ورپسې شوم، وره ته نزدې را په څنګ شو:

- پام دې وي، شاته به نه ګورې!

نور هغه رانه مخکې شو، زه ورو- ورو ور ووتم، هېڅ نه پوهېدم، چېرته لاړ شم؟

د ماښام اذانونه مې واورېدل، شېپې ته په چورت کې لاړم، په داسې اجنبي ځای کې چې نه تا څوک وپېژني او نه ته څوک، یوه شېبه هم هلته ځورونکې ده.

په همدغه فکر کې ورو ورو روان وم، چې ټکسیوان دا مزل را لنډ کړ، غږ یې شو:

- ښاغلیه، هله نو!

ګامونه مې ګړندي کړل، هغه له دننه دروازه راخلاصه کړه، ور وختم.

ډېر په تېزۍ یې حرکت وکړ، یوه ټوټه وړاندې لاړ، موټر یې بل سرک ته وویست، وروسته یې یوې غاړې ته بریک کړ، مخ یې راواړاوه:

- ښاغلیه، ډېر متأسف یم.

ما یوازې سر ورته وښوراوه، هغه لږ غلی پاتې شو، وروسته یې سر راپورته کړ:

- ښه اوس؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما تش ورته وکتل، هغه خبره وغځوله:

- زه ډېر اصولي ټکسیوان یم، نه زیاتی کوم او نه کمی.

ما بیا هم د ویلو هېڅ نه درلودل، زیاته یې کړه:

- ښاغلیه، تاته وایم، له دې وروسته نوره کرایه دربانديې راځي، تېره کرایه خو تر همدغه ځایه وه.

شونډې مې سره بېلې کړې، ومې پوښتل:

- څو کیږي؟

- څه څو کیږي؟

ژر مې جېب ته لاس کړ:

- کرایه دې؟

- تر کومه ځایه؟

- تر هوایي ډګره.

سړی حیران شو:

- څه څه، بېرته خپل وطن ته ځې؟

- هو نو، دلته زما نور څوک دې؟

هغه په پټه خوله سر پر یوه خوا کوږ کړ. شونډې یې وښورېدې:

- رښتیا هم.

ترې ومې پوښتل:

- هلته هوټلونه شته چې شپه پکې تېره کړم؟

- هو، هلته نږدې شته.

وروسته مې له جېبه پیسې راوویستې، ومې ویل:

- ښه، وایه څو درکړم؟

په ارامه یې شونډې وښورېدې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- همغسې يو پنځه سويز بل راکړه.

زه هم ونه څنډېدم، ژر مې يو پنځه سويز له پيسو وربېل کړ، سړی ډېر خوشحاله شو، دوه ځله يې مننه رانه وکړه، وروسته يې پيسې پر جېب ومنډلې او موټر يې پونده کړ.

# پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**